
د علم التجوید لومړنی درسي کتاب

# جمال القرآن [کامل]



Ketabton.com

تالیف لطیف:

حکیم الامت حضرت مولانا حافظ مقري

شاه محمد اشرف علي تهانوي رح

حواشي جدیده، تشریح او پښتو ژباړه:

قاري شبیر احمد

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا :

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا﴾ (سورة المزمل، آیت: ۴)

# جمال القرآن [کامل]

**تالیف لطیف:**

**حکیم الامت حضرت مولانا حافظ مقري**

**شاه محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله**

**حواشي جدیده، تشریح او پښتو ژباړه:**

**قاري شبیر احمد**

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا:
www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې کتاب ټول حقوق د خپرندويي ټولنې سره خوندي دي!

## د کتاب پيژند پاڼه:

❖ د کتاب نوم : ..........جمال القرآن [کامل]
❖ تالیف :..........حكيم الامت حضرت مولانا حافظ مقري شاه محمد اشرف علي تهانوي رحمه الله
❖ ژباړن :.......... قاري شبير احمد
❖ کمپوز او ډیزاین:..........پوهه خپرندويه ټولنه / کندهار
❖ خپرونکی :..........پوهه خپرندويه ټولنه / کندهار
❖ د چاپ شمېر :..........(۵۰۰۰)
❖ د چاپ کال :..........۱۳۹۲ هجري لمريز کال
❖ د چاپ وار :..........څلورم ځل
❖ د خپروني لړ :..........(٦)
❖ اړيکه :..........۰۷۰۷۲٦٢۰٦۵
❖ ایمیل :..........ppa_۲۰۱۱@live.com
Shabir_ah۱۹۹۳@yahoo.com.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مضامينو فهرست

| شمېره لړليک | مخ |
|---|---|
| ۱. ځلورم چاپ | ۶ |
| ۲. تقريظ استاد القرآئت و التجويد | ۷ |
| ۳. د ژباړن سريزه | ۸ |
| ۴. د مؤلف لنډه پېژندنه | ۹ |
| ۵. د مصنف سريزه | ۱۲ |
| ۶. اوله روښنايي | ۱۴ |
| ۷. د اولي روښنايي متعلق بيان | ۱۵ |
| ۸. دوهمه روښنايي | ۲۱ |
| ۹. دريمه روښنايي | ۲۴ |
| ۱۰. ځلورمه روښنايي | ۲۶ |
| ۱۱. د غاښو او ژبي نقشه | ۳۰ |
| ۱۲. د حروفو د مخارجو اجمالي نقشه | ۳۹ |
| ۱۳. پنځمه روښنايي | ۴۰ |
| ۱۴. د حروفو د صفاتو اجمالي نقشه | ۵۶ |
| ۱۵. شپږمه روښنايي | ۵۸ |
| ۱۶. اوومه روښنايي (د لام په قاعدو کي) | ۶۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷. اتمه روښنايي (د را په قاعدو کي) ........................ ۶۱
۱۸. نهمه روښنايي (د ميم ساکن او مشدد په قاعدو کي) .......... ۷۰
۱۹. لسمه روښنايي (د نون ساکن او مشدد په قاعدو کي) ......... ۷۴
۲۰. يوولسمه روښنايي (د الف، واؤ او ياء په قاعدو کي) ......... ۸۰
۲۱. دوولسمه روښنايي (د همزه په قاعدو کي) .................. ۹۲
۲۲. ديارلسمه روښنايي (د وقف کولو يعني پر يوې کلمې باندي...) ۹۴
۲۳. څوارلسمه روښنايي (د مختلفو ضروري فايدو په بيان کي) .... ۱۰۳
۲۴. خاتمه ........................................ ۱۱۲

Download From: Aghalibrary.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورم چاپ

اَحْمَدُکَ یَا مَنْ اَنْزَلْتَ الْقُرْآنَ، عَلٰی نَبِیِّکَ الْفُرْقَانَ، وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی نَبِیِّ الْخَیْرِ الْوَرَاءِ، وَعَلٰی اٰلِهِ الْاَتْقِیَاءِ وَاَصْحَابِهِ النِّقَاءِ، وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِاِحْسَانٍ اِلٰی یَوْمِ الْبَلَاءِ، وَبَعْدُ:

درنو لوستونکو!

لکه څنګه چي تاسي پوهېږي چي "جمال القرآن کامل" د پوهي خپرندويي ټولني خوا په ۱۳۹۱ لمریز کال کي خپور سو او د لوستونکو له خوا يې ښه هر کلی وسو. په همدې موده کي درې ځلي چاپ سوی او دا يې هم څلورم ځل دي چي چاپ ته سپارل کېږي. لکه څنګه چي په تېرو چاپو کي د ځينو فني تېروتنو د شتون له امله خپرندويه ټولنه اړه سول چي "جمال القرآن کامل" بیا کمپوز او اصلاح کړي تر څو يې خپل مسؤليت سرته رسولی وي او ټولني ته يې لا ښه خدمت کړی وي. د لوستونکو څخه هم هيله کوو چي د همدې کتاب په هر ځېرکي کي چي کومه تېروتنه ومومي هغه که چاپي او تخنيکي وي او که علمي وي د مهرباني له مخي دي خپرندويي ټولني ته خبر ورکړي، تر څو خپرندويه ټولنه يې په راتلونکو چاپو کي سمون وکړي.

درنو لوستونکو ته يو بل زيری لا دا هم ورکوو چي ډېر ژر به د علم تجويد درې نور درسي کتابونه (فوائد مکيه، المقدمة الجزرية، القول السديد) خپاره سي او تر تاسو به يې در ورسوو. د ټولو لوستونکو څخه هيله کوو چي د دې ستر مسؤليت له پاره موږ په خپلو دعاوو کي هېر نه کړي.

د ژباړن سره او يا د خپرندويي ټولني سره د خپل سالم نظر په شريکولو سره تاسو کولای سي چي تاسي هم په دې چوپړ کي برخه واخلي، د خپل نظر د څرګندولو له پاره پر ګرځنده شمېره او يا برېښناليک باندي اړيکه نيولای سي.

په همدې هيله

ستاسو ورور شبير احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تقریظ استاد القرآئت و التجوید الحاج قاري مولوي عبدالهادي "ابو الانعام" دامت برکاته

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ كَفٰى، وَالصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الرُّسُلِ، وَ خَاتَمَ الْاَنْبِيَآءِ، وَ عَلٰى اٰلِهِ الْمُجْتَبٰى، وَ اَصْحَابِهِ الْاَتْقِيَاءِ وَ الْاَصْفِيَاءِ، اَلَّذِيْنَ هُمْ نُجُوْمُ الْهُدٰى، صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ عَلٰى اٰلِهِ وَ اَزْوَاجِهِ وَ اَصْحَابِهِ وَ اَحْبَابِهِ وَسَلِّمْ تَسْلِيْمًا كَثِيْرًا كَثِيْرًا. اَمَّا بَعْدُ!

اې د اسلامي نړۍ مسلماني ټولنې!

د افغانستان هیواد د دېرشو (۳۰) کلونو غمیزو شاهد دئ او د دې پتمن هیواد د باهمته بچیانو د بېلابیلو لاملونو له وجهې ډېر ځورېدلي دي. د ژوندانه د ډګرونو په هره زاویه کې یې بوږنونکي دردونه لیدلي یعني اقتصادي ستونزې، زخمونه، هجرتونه، زندانونه او داسې نور. خو د نېکمرغه دا ټولې ضربې یې پر ځان منلې خو دا د دوی ستر همت دئ چې هیڅ وخت یې خپله حوصله له لاسه نه ده ورکړې، په هر ډول سختو شرایطو کې یې خپلې لیکې را نغښتې دي د خپل دین ټولې اړتیاوې یې تر خپله وسه پوره کړې.

روښانه خبره ده چې قرآن کریم د الله ﷻ کتاب دئ او هغه یې ساتونکی دئ، خو بیا هم الله ﷻ په جامعه کې داسې مفکر انسانان پیدا کړي چې همېشه کوښښ کوي چې مسلمانان ورونه په قرآن صحیح پوه سي، چې په دې لړ کې زموږ ګران شاګرد **"قاري شبیراحمد"** ډېر کوښښ کړی چې دا د تجوید مشهور کتاب یې د زیاتونو سره په مورنۍ ژبه و مسلمانانو ته وړاندې کړی، تر څو مسلمانان په قرآن صحیح پوه سي. الله ﷻ دې د ده کوښښ قبول کړي. (آمین) د نورلا ښه کوښښ ورته دعا ګوی یو.

والسلام

الحاج قاري مولوي ابوالانعام

(c) ketabton.com: The Digital Library


# سریزه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ الْقُرْآنَ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ، وَ صَلِّ وَ سَلِّمْ عَلَیْهِ، وَ عَلٰی اٰلِهٖ، وَ اَصْحَابِهِ الَّذِیْنَ هُمْ "رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ". اَمَّا بَعْدُ:

درنو لوستونکو!

څنګه چې په علم تجوید کې مختلفي رسالې او کتابونه تصنیف سوي دي، په دې لړ کې "جمال القرآن" هغه کتاب دئ چې د مقبولیت او شهرت مقام ته رسېدلی دئ او مؤلف یې حکیم الامت رحمه الله دئ. او دا به ټولو ته څرګنده وي چې "جمال القرآن" د ټولو مدارسو په نصاب کې شامل دئ؛ ځکه یو خو ډېره آسانه او بل عامه فهمه دئ. پر "جمال القرآن" باندې مختلفي او متعددي شرحې او حاشیې لیکل سوي دي چې د مجملاتو د توضیح او د مبهماتو د تشریح له پاره کافي دي، مګر په بعضې ځایو کې د "احقر" په فکر د وضاحت او تشریح ضرورت وو، نو موږ په دې اساس د ګرانو لوستونکو له پاره په روانه پښتو او ساده عبارت سره توضیح او تشریح کړه تر څو ټول لوستونکې په آسانې سره ګته څنې واخلې.

د کتاب په پیل کې مو د مصنف رحمه الله لنډه پېژندنه ذکر کړې ده تر څو راتلونکې نسلونه زموږ د تکړه علماوو د ژوندانه څخه خبر وي او د ژوند په چارو کې د هغوی پر لار ولاړ سي. همدا ډول موږ دا هڅه کړې ده چې د مصنف رحمه الله ټولې حاشیې (منه رح) په دې کې ذکر کړو چې هغه په ځینو نسخو کې نه سته او په ځینو نسخو کې داسې شیان سته چې هغه په اصلي نسخو کې هیڅ وجود نه لري.

الله تعالی دې دا رساله د ټولو لوستونکو له پاره ګټوره وګرځوي او د لوستونکو څخه هیله کوو چې په دعاوو کې مو هېر نه کړې.

کتبه

احقر شبیر احمد غفرله الغفار

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مؤلف لنډه پېژندنه

خدایه څه شول هغه ښکلي ښکلي خلک — په ظاهر، په باطن سپین سپېڅلي خلک
(رحمان بابا)

**زېږېدنه:**

حکیم الامت اشرف علي تهانوي رحمه الله د جمادي الثاني پر پنځم تاریخ د ۱۲۸۰ هـ ق کال د چهارشنبې په ورځ د صبح صادق پر وخت په تهانه بهون کي و زېږېدي.

**لنډه پېژندنه:**

نوم يې عبدالغني او د پلار نوم يې عبدالحق وو خو د هغې زمانې يو مشهوره مجذوب حافظ غلام مرتضی پاني پتي و ده ته "اشرف علي" نوم غوره کړی وو چي په دغه نامه سره مشهوره سو. د دې زیري سره سم وروسته حافظ، قاري، مولانا، معلم، متکلم، فقيه، مفسر، محدث، مصلح او مجدد وګرځېدي او د امت محمديه د دې بې پايه خدمت په وجه د "حکيم الامت" په لقب سره يادېږي.

د پلار له طرفه يې د نسب سلسله و حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ته رسېږي او د مور له طرفه يې د نسب سلسله و حضرت علي کرم الله وجهه ته رسېږي. تهانوي رحمه الله د پلار له طرفه فاروقي نسبه او د مور له طرفه علوي نسبه دئ، پلار مبارک يې د تهانه بهون يو لوی رئيس وو.

**د ژوند لنډ حالات:**

تهانوي رحمه الله مشهور او معروف عالم، رباني، علامه، مفسر، فقيه او شيخ طريقت وو. د قرآن کريم د يادولو او د فارسي کتابو د ويلو وروسته يې ابتدايي عربي کتابونه د حضرت مولانا فتح محمد تهانوي رحمه الله څخه زده کړل کوم چي د ظاهري علومو او باطني کمالاتو جامع وو، د نوموړی د مجلس لږ اثر دا وو چي تهانوي رحمه الله د کوچنيوالي څخه د تهجد لمونځ شروع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د نورو عربي کتابو د پوره کولو له پاره په ۱۲۹۵ هـ ق کال د ذوالقعدې په میاشت کي دارالعلوم دیوبند ته ولاړي او پنځه کاله هلته پاته سو. په ۱۳۰۱ هـ ق کال کي د شلو (۲۰) کالو په عمر د ټولو علومو څخه فراغت ترلاسه کړي.

تهانوي رحمه الله ډېر کتابونه د حضرت مولانا محمد یعقوب صاحب او حضرت شیخ الهند محمود حسن دیوبندي (رحمهما الله تعالی) څخه لوستلي دي، لیکن د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله د جلالین په درس کي یې هم کله نا کله برخه اخیسته.

د ۱۳۰۱ هـ ق کال په آخر کي د کانپور د خلکو په غوښتنه په "مدرسه فیض عام / کانپور" کي صدر مدرس سو. یو څه وخت وروسته یې د "جامع العلوم" په نامه مدرسه جوړه کړه او د هغه سرپرستي او صدارت یې کاوه. همدا ډول تقریبا څوارلس (۱۴) کاله په درس او تدریس کي مشغول پاته سو. په ۱۳۱۵ هـ ق کال کي یې په تهانه بهون کي "خانقاه امدادیه" آباده کړل.

په ۱۲۹۹ هـ ق کال کي د دیوبند د قائمېدو په حالت کي د خط په واسطه د شیخ المشائخ حضرت حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله سره بیعت وکړي. دوه ځلي د بیت الله په حج سره مشرفه سوی دئ او دوهم ځلي د حج وروسته شپږ میاشتي د حضرت حاجي امدادالله مهاجر مکي رحمه الله سره په مجلس کي پاته سو او د هغه څخه یې باطني کمالات حاصل کړل. حضرت ګنګوهي رحمه الله به تهانوي رحمه الله ته ویل: "چي موږ د حاجي صاحب څخه خامه مېوه ترلاسه کړه او تا پخه مېوه ترلاسه کړه او کامیابه سوې". مطلب دا چي تهانوي رحمه الله ۴۷ کاله د ارشاد او تلقین پر مسند باندي پاته سو او یو عالَم خلک یې په خپل ظاهري او باطني فیض سره اوبه کړل. تهانوي رحمه الله د بې شمېرو نیکو نصیحتونو، بې شمېره ښه ملفوظاتو او د ډېرو ارزښتناکو تصانیفو په رڼا سره شرق او غرب روښانه کړل. په زرهاوو زړونو د تهانوي رحمه الله د فیض څخه ګټه واخیستل؛ عوامو، خواصو، علماوو او اولیاوو ټولو د تهانوي رحمه الله څخه فیض او برکت ترلاسه کړي.

د تهانوي رحمه الله د ژوند یو روښانه اړخ د هغه اصلاحي کارنامې دي؛ تهانوي صاحب د مسلمانانو د عقیدو او عباداتو د تصحیح تر څنګ د مسلمانانو اخلاق، معاملات او د ژوند پر لارو چارو باندي هم توجه کول. په دغه سلسله کي یو ډېر نهایت جامع کتاب د "حیات المسلمین" په نامه سره تالیف کړي په کوم کي چي د قرآن او حدیثو په رڼا کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مسلمانانو د دیني او دنیوي کامیابۍ او ترقي مکمل بندوبست او تیاری ترتیب کړل سوی وو او دغه کتاب تهانوي رحمه الله خپل تر نورو کتابو ډېر د نجات او خلاصون ذریعه او وسیله ګڼله.

د تجوید په فن کي "جمال القرآن" د تهانوي رحمه الله مشهوره او پېژندل سوې رساله ده، ډېره ساده او آسانه ده، د اختصار سره د تجوید د فن پر ډېرو ضروریاتو مشتمله ده او د دې رسالې د مقبولیت او شهرت لوي لامل د مصنف رحمه الله اخلاص او علمي مقام دئ او د دې رسالې آسانی او ساده عبارت د دې رسالې د مقبولیت دوهمه وجه ده. تهانوي رحمه الله تر زرو (۱۰۰۰) ډېر تصانیف لري او داسي یو فن نه سته چي تهانوي رحمه الله دي په هغه فن کي تصنیف نه وي کړی. فَلِلّٰهِ دَرُّهٗ وَعَلَى اللهِ اَجْرُهٗ!

**وفات او مدفن:**

حضرت تهانوي رحمه الله د عمر په آخر کي د ضُعف او معدې د ناروغي په سبب د دغه فاني نړۍ څخه د ۱۳۶۲ هـ ق کال د رجب المرجب د میاشتي پر ۱۶ تاریخ د سه شنبې په ورځ د دوو اتیا (۸۲) کالو په عمر کوچ وکړي. انا لله و انا الیه راجعون!

حضرت تهانوي رحمه الله په تهانه بهون کي د عشقبازان په هدیره کي ښخ کړل سو، دا هدیره دوی په خپلو پیسو اخیستې او وقف کړې یې وه.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلَهٗ وَلِوَالِدَيْهِ وَلِجَمِيْعِ الْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ.

نه وصفش غایتی دارد نه "سعدی" را سخن پایان
بمیرد تشنه، مستسقی و دریا هم چنان باقی
(سعدي شیرازي)

(c) ketabton.com: The Digital Library


بسم الله الرحمن الرحيم

## بَعۡدَ الۡحَمۡدِ وَ الصَّلٰوةِ: (۱)

---

(۱) په دغه مقدمه كي مصنف صاحب و ځو شيانو ته اشاره كړې ده چي هغه په لاندي ډول دي:

**لومړی د رسالې مسمیٰ:** د رسالې نوم ډېر په زړه پوري او د كتاب د موضوع مطابق دئ، ځكه چي "جمال" حسن او ښايست ته وايي او تجويد هم د تلاوت ښايست او د ادا او قرآئت زېور او زينت دئ. ځكه علامه جزري رحمه الله فرمايي: وَهُوَ اَيۡضًا حِلۡيَةُ التِّلَاوَةِ وَزِيۡنَةُ الۡاَدَاءِ وَالۡقِرَاءَةِ.

**دوهم د رسالې مضامين په روښنايي سره مسمیٰ كول:** د رسالې مضامين د بابو او فصولو پر ځای په روښنايي سره مسمیٰ كول ډېر غوره او عمده تعبير دئ او د رسالې د نامه سره يې هم مناسبت سته؛ ځكه د روښنايي او حسن ترمنځ يو مناسبت پيدا كېږي، دا داسي مثال لري لكه يوه ښايسته خونه چي وي او هلته روښنايي هم وي نو دا خونه ډېره ښه معلومېږي او كه چيري په هغه خونه كي روښنايي نه وي نو د هغې خوني ښايست كله معلومېږي. او په څوارلسو روښنايو كي دا حصر كول يو خاصه مهرباني ده. هغه دا چي مصنف رحمه الله د هري روښنايي څخه لږ لږ د علم د روښنايي حاصلول د سپوږمۍ د هري شپې د لږ روښنايي سره تشبيه وركړې ده نو په دغه تعداد كي دې ته اشاره ده لكه څنګه چي د سپوږمۍ ټوله روښنايي د څوارلسم په شپه پوره كېږي، همدا ډول د علم تجويد مضامين او مسايل د علمي روښنايي سره د ضرورت په اندازه په څوارلسو روښنايي كي پوره كېږي.

**درېيم د تاليف سبب:** د تهانوي صاحب د ګران دوست مولوي حكيم يوسف صاحب په غوښتنه مصنف صاحب دا كتاب تصنيف كړی دئ.

**څلورم مأخذونه:** د دې كتاب ماخذونه په لاندي ډول دي:

- **حقيقة التجويد.** مولانا قاري محمد صديق خراساني رحمه الله.
- **جهد المقل.** علامه شيخ مرعشي رحمه الله.
- **درة الفريد.** شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله.
- **تعليم الوقف.** مولانا حافظ قاري عبدالله مكي رحمه الله كوم چي د مصنف رحمه الله استاد دئ. او په كومو ځايو كي چي د كتاب نوم نه وي هغه د مصنف رحمه الله خپل عبارت دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا يو څو صفحې د تجويد په ضروري قاعدو کې دي، کوم چې مسمیٰ په "جمال القرآن" سره دئ او د دې مضمونونه په روښنايي سره مسمیٰ دي.

زما د عزتمند دوست مولوي حکيم محمد يوسف صاحب چې د "مدرسه قدوسيه / گنگوه" مهتم دئ، د هغه په غوښتنه سره د معتبرو کتابو څخه خصوصاً د رساله "هدية الوحيد" څخه استفاده سوې ده، ځکه چې د "هدية الوحيد" مصنف هغه په ډېر آسانه عبارت سره ليکلې ده په کوم چې مبتدي هم پوهيږي، همدا رساله د مولوي قاري عبدالوحيد صاحب مدرس درجة الاولى قرآئت – مدرسه عاليه ديوبند تصنيف دئ.

په بعضي ځايو کې د قرآئت د نورو کتابو څخه هم استفاده سوې ده، د هر کتاب نوم په خپل ځای کې ورسره ليکل سوی دئ. په بعضي ځايو کې ما د خپل يادښتونو څخه هم يو څه قاعدې ليکلي دي، هلته د کومي علامې ضرورت نه سته. چيري چې د کتاب نوم نه وي هغه به يا د "هدية الوحيد" مضمون وي که چيري په هغه کې موجود وي، که نه نو د "احقر" مضمون دئ.

وَبِاللهِ التَّوْفِيْقِ وَهُوَ خَيْرُ عَوْنٍ وَخَيْرُ رَفِيْقٍ

کتبه اشرف علي تهانوي، ادهمي، حنفي، چشتي عفی عنه

## يوه کتوره مشوره:

لومړی دا رساله ښه په غور سره ورته ووایاست، د هر شي تعريف، مخرجونه، صفتونه او نوري قاعدې ښه ور په ياد کړئ. وروسته تر دې "تجويد القرآن" منظوم ور په ياد کړئ او که چيري وخت لږ وي نو "حق القرآن" ور په ياد کړئ.

## يادونه:

تجويد القرآن او حق القرآن د مصنف صاحب نوري دوې (۲) منظومي رسالې دي، چې په اردو ژبه کې مصنف صاحب نظم کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوله روښنايي

تجويد[۱] وايي هر حرف د خپل مخرج څخه را ايستل او د هغه صفات ادا کول. د دې علم حقيقت همدومره[۲] دئ، مخارج او صفات په څلورمه او پنځمه روښنايي کي راځي.

---

[۱] تجويد په لغت کي تَحْسِيْنُ الشَّيْئِ وَجَعْلُ الشَّيْئِ جَيِّدًا. يعني د يوه شي ښه او عمده کرځول. او د مجويدينو په اصطلاح کي د تجويد تعريف دا دئ: هُوَ اَنْ يُّعَالَجَ اِخْرَاجُ الْحُرُوْفِ مِنْ مَخَارِجِهَا وَ اِعْطَاءُ مَا تُسْتَحَقُّ مِنَ الصِّفَاتِ اللَّازِمَةِ وَ الْعَارِضَةِ وَ الْمَدِّ وَ الْقَصْرِ وَ الْاِظْهَارِ وَ الْاِدْغَامِ وَ غَيْرِ ذٰلِکَ بِسُهُوْلَةٍ وَّ بِغَيْرِ کُلْفَةٍ حَتّٰى يَصِيْرَ ذٰلِکَ سَجِيَّةً لَهُ. يعني هر حرف هر ځای او په هر حال کي د حرف د مقرر مخرج څخه د ټولو صفاتو لازمه او صفات عارضيه او همدا ډول مد او قصر، اظهار او ادغام او نور صفات په لطافت او نرمي سره بې له څه تکلّف او سختي او د عمده والي سره ادا کړي او په داسي اندازه کوښښ وکړي چي د حروفو تصحيح د قاري عادت او فطرت او ملکه وګرځي. همدا ډول په تجويد کي د کمال او مهارت حاصلولو له پاره دحروفو په ادا کولو کي د دې خبري لحاظ ساتل ډېر ضروري دئ چي يو قسم تکلّف او تصنّع نه وي. د مثال په ډول د ضرورت څخه زيات شونډانو ته حرکت ورکول، يا خوله کږول، يا مخ [illegible] نښکاره کول، يا ټول بدن ته حرکت ورکول، يا کله کرار تلاوت کول او کله چابک تلاوت کول، يا کله په کرار آواز سره ويل او کله په لوړ آواز سره ويل او داسي نوري ټولي طريقې د تجويد خلاف دي.

[۲] په ويلو سره خو دا خبره آسانه معلومېږي ليکن د دې په عملي کولو کي د ډېر کوښښ ضرورت دئ او تر کومه حده چي کېدای سي بايد د يوه ماهر استاد څخه استفاده وسي. بله دا خبره چي د دې فن په تعريف کي دوې (۲) خبري داخلي دي؛ يو دا چي حروف د خپلو=

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د اولي روښنايي متعلق بيان

**په اوله روښنايي کي د لاندنيو لسو (۱۰) شيان ياد ساتل پکار دي:**

د علم تجويد لغوي او اصطلاحي تعريف، د علم تجويد موضوع، د علم تجويد غرض، د علم تجويد فايده او ثمره، د علم تجويد حکم، د علم تجويد فضيلت، د علم تجويد ارکان، د علم تجويد واضعين، د علم تجويد نومول يا مسمیٰ کول په تجويد سره او د علم تجويد ثبوت.

**لومړی د علم تجويد لغوي او اصطلاحي تعريف:**

د تجويد لغوي معنا دا ده: تَحْسِيْنُ شَيْئٍ بِالشَّيْئِ. يعني ښايسته کول د يوه شي دئ په بل شي سره، يو شی تجويد دئ او بل شی قرآن کريم دئ، يعني ښايسته کول دَ قرآن کريم په تجويد سره.

د تجويد اصطلاحي معنا دا ده: هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ مَخَارِجِ الْحُرُوْفِ وَصِفَاتِهَا. يعني دا يو علم دئ چي د حروفو د مخارجو او صفاتو څخه بحث کوي. يو بل جامع تعريف يې دا دئ: د حروفو حق ورکول او مستحق ورکول؛ د حق څخه مراد مخارج او صفات لازمه دي او د مستحق څخه مراد صفات عارضيه دي.

**دوهم د علم تجويد موضوع:**

د دې علم موضوع قرآني الفاظ دي چي هغه عبارت د حروف هجاء څخه دي. هغه د الف څخه تر حرف يا پوري دي او دا ټول نهه ويشت (۲۹) حروف کېږي.

---

=مخارجو څخه را ايستل (يعني ادا کول) او دوهم دا چي د حروف ټول صفات ادا کول. د دې څخه معلومه سول چي علم اوقاف د تجويد څخه جلا فن دئ، خو د علم اوقاف او علم تجويد ډېر تعلق سته او دا هم معلومه سول چي په خوش آوازی سره قرآن ويل د تجويد د فن څخه زائد او خارج امر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېیم د علم تجوید غرض:**

د دې علم غرض دا دئ: تِلَاوَةُ الْقُرْآنِ كَمَا اُنْزِلَ وَتَحْسِيْنُ الْقِرَآءَةِ. يعني داسي تلاوت کول لکه څنګه چي را نازل سوی دئ او د تلاوت عمده او ښایسته جوړول. یا په بل عبارت سره: صَوْنُ اللِّسَانِ عَنِ الْخَطَإِ فِيْ تِلَاوَةِ الْقُرْآنِ. یعني د قرآن په تلاوت کي ژبه د غلطۍ څخه ساتل.

**څلورم د علم تجوید فایده او ثمره:**

د علم تجوید فایده او ثمره رضا الهي یا سعادة الدارین ده. یعني که علم تجوید چا زده کړي هغه به په دنیا و آخرت کي کامیابه وي. نبي کریم ﷺ فرمایلي دئ: خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ. یعني غوره او ښه سړی ستاسو څخه هغه سړی دئ چي خپله قرآن زده کړي او بل چا ته قرآن ور زده کړي.

**پنځم د علم تجوید حکم:**

د علم تجوید حکم پر دوه قسمه دي:

یو فرض عین دئ او بل فرض کفایي دئ. یعني عمل په کول فرض عین دئ او ویل یې او د دغو قاعدو زده کول فرض کفایي دي. د اته څلوېښت (۴۸) میله په اندازه د علم تجوید د یوه ماهر وجود ضروري دئ، که چیري نه وي نو ټول ه ګناهګاره دي او د دغه علم د قواعدو مطابق قرآن ویل پر هر عاقل، بالغ باندي فرض عین دئ. یعني تر داسي اندازې چي په حروفو او معانیو کي تبدیلي را نه سي او د دې څخه زیات مستحب دئ. دلته د دغه علم څخه مراد قرآن کریم دئ ځکه ذکر سبب مراد ځني مسبب دئ.

**شپږم د علم تجوید فضیلت:**

تجوید افضل العلوم دئ؛ ځکه د علم تجوید تعلق د کلام الله سره دئ کوم چي افضل الکلام دئ او د کوم علم تعلق چي د افضل الکتاب سره وي هغه علم افضل العلوم وي.

**اووم د علم تجوید ارکان:**

د علم تجوید څلور ارکان دي:

۱. مخارج الحروف. (د حروفو مخرجونه)
۲. صفات الحروف. (د حروفو صفتونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. ترکیبي قاعدې یا اجرا. (مثلاً: ادغام، اخفاء، غنه، مد او داسې نور)
۴. ریاضة اللسان. یعني تکلیف پر ژبه راوستل تر څو کوم حروف چې نه سي ادا کولای، وکولای سي چې ادا یې کړي.

**اتم د علم تجوید واضعین:**

د علم تجوید واضعین پنځه دي:

۱. ابو عبدالرحمن خلیل بن احمد فراهیدي رحمه الله. (المتوفی سنة ۱۷۰هـ ق)
۲. عمرو بن عثمان بن قنبر رحمه الله الملقب به سیبویه. (المتوفی سنة ۱۸۸هـ ق)
۳. محمد بن مستنیر رحمه الله عرف قطرب. (المتوفی سنة ۲۰۹هـ ق)
۴. یحیی بن زیاد فراء رحمه الله. (المتوفی سنة ۲۰۷هـ ق)
۵. مبرد رحمه الله. (المتوفی سنة ۲۰۷هـ ق)

د دې فن وضع او ترتیب تقریباً د ۱۵۰ هجري سنې څخه شروع کېږي.

**نهم د علم تجوید مسمیٰ په علم تجوید سره:**

علم تجوید ته ځکه علم تجوید وایي چې حضرت علي کرم الله وجهه د "وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا" تفسیر داسي کړی دئ چې: اَلتَّرْتِيْلُ هُوَ تَجْوِيْدُ الْحُرُوْفِ وَ مَعْرِفَةُ الْوُقُوْفِ. حضرت علي کرم الله وجهه په خپل دغه تفسیر کي دغه علم په علم تجوید سره مسمیٰ کړی دئ، نو ځکه اوس تجوید ورته وایي.

**لسم د علم تجوید ثبوت:**

علم تجوید په قرآن، سنت، اجماع، قیاس، فقه او د علماوو په اقوال سره ثابت دئ:

**قرآن:**

۱. ﴿ٱلَّذِينَ ءَاتَيْنَـٰهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ يَتْلُونَهُۥ حَقَّ تِلَاوَتِهِۦٓ﴾ (البقرة: ۱۲۱) ژباړه: هغه کسانو ته چې موږ کتاب ورکړی دئ دوی یې داسي تلاوت کوي لکه څنګه چې د هغه د ویلو حق دئ.

امام غزالي رحمه الله فرمایي چې حق تلاوت دا دئ چې ژبه، عقل او زړه دري سره شریک وي. د ژبي حصه د حروفو صحیح ادا کول دئ، د عقل حصه د معانیو او مطالبو تفسیر دئ او د زړه حصه اطاعت او د نصیحت قبلول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲. ﴿أَوْ زِدْ عَلَيْهِ وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلاً ﴿٤﴾﴾ (المزمل: ۴) بیضاوي رحمه الله فرمايي: اَیْ جَوِّدِ الْقُرْآنَ تَجْوِیْدًا. (یعني قرآن په تجوید سره ښایسته کړئ) او حضرت علي کرم الله وجهه فرمايي: اَلتَّرْتِیْلُ هُوَ تَجْوِیْدُ الْحُرُوْفِ وَمَعْرِفَةُ الْوُقُوْفِ. یعني ترتیل نوم دئ د حروفو په تجوید سره ادا کول او د وقف د ځایو پېژندل.

**احادیث:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: رُبَّ قَارِئٍ لِلْقُرْآنِ وَالْقُرْآنُ یَلْعَنُهُ. یعني ډېر داسي کسان سته چي دوی په داسي حال کي تلاوت کوي چي قرآن پر دوی لعنت وايي.

ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چي په دغه کي درې (۳) ډوله کسان داخل دي: بې عمله، تحریف کوونکی او غلط ویونکی.

ابن مسعود رضي الله عنه یو چا ته قرآن وایه هغه "اِنَّمَا الصَّدَقٰتُ لِلْفُقَرَآءِ" بې له مده ووایه، ابن مسعود رضي الله عنه ورته وفرمایل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته داسي نه دي ویلي.

**اجماع:**

۱. ملا علي قاري رحمه الله په "المنحة الفكرية شرح المقدمة الجزرية" کي فرمايي: هٰذَا الْعِلْمُ لَا خِلَافَ فِیْ اَنَّهُ فَرْضُ کِفَایَةٍ وَالْعَمَلُ بِهِ فَرْضُ عَیْنٍ عَلٰی صَاحِبِ کُلِّ قِرَآءَةٍ وَرِوَایَةٍ. وَ لَوْ کَانَتِ الْقِرَآءَةُ سُنَّةً.

ژباړه: په دې کي د هیڅ خلاف او شخړه نه سته چي د علم تجوید قاعدې زده کول فرض کفايي دي او د هغه موافق عمل کول په هر قرآئت او روایت کي فرض عین دئ، که څه هم خپله تلاوت مسنون او مستحب دئ فرض او واجب نه دئ.

علامه شیخ محمد مکي نصر رحمه الله په نهاية القول المفيد کي فرمايي: فَقَدْ اِجْتَمَعَتِ الْاُمَّةُ الْمَعْصُوْمَةُ مِنَ الْخَطَاِ عَلٰی وُجُوْبِ التَّجْوِیْدِ مِنْ زَمَنِ النَّبِیِّ صلی الله علیه وسلم اِلٰی زَمَانِنَا وَ لَمْ یَخْتَلِفْ فِیْهِ عَنْ اَحَدٍ مِنْهُمْ. وَهٰذَا مِنْ اَقْوَی الْحِجَجِ.

ژباړه: امة معصومه عن الخطا (هغه امت چي د هغه اجماع د غلطي څخه محفوظه ده) هغه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د زماني څخه بیا زموږ تر زمانې پوري د تجوید پر وجوب باندي اتفاق کړی دئ او په دې کي د هیڅا اختلاف نه سته او دا اجماع د قوي دلایلو څخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**قیاس:**

۱. قرآن عربي دئ او د تجويد د قاعدو څخه مخالفت کول بعضي وختونه حروف عجمي کوي. د مثال په ډول د ضاد پر ځای ډال یا د حرکاتو مجهول ادا کول.

۲. قرآن د لفظ او معنا د دواړو نوم دئ نو د معنا په ډول د الفاظو تصحيح هم ضروري ده.

۳. په تجويد سره د تلاوت حسن دوه چنده کېږي.

**فقه:**

فقهاء کرامو رحمهم الله هم ليکلي دي چي قرآن کريم په تجويد سره ويل واجب او ډېر ضروري دئ، ځکه په غلط ويلو سره بعضي وخت معنا داسي بدلېږي چي په هغه سره لمونځ فاسدېږي. او ليکلي يې دي چي په دې اړه خپل خيال معتبر نه دئ بلکي د يوه محقق او ماهر قاري شاهدي ضروري ده او که چيري د حروف د تصحيح کوښښ و نه کړي نو د هغه لمونځ نه صحيح کېږي.

**اقوال علماء:**

۱. امام علامه شمس الدين ابو الخير محمد بن الجزری رحمه الله په المقدمة الجزرية کي فرمايي:

وَالْاَخْذُ بِالتَّجْوِيْدِ حَتْمٌ لَازِمٌ　　مَــنْ لَمْ يُجَوِّدِ الْقُرْآنَ اٰثِمٌ

ژباړه: قرآن کريم د تجويد موفق ادا کول ډېر ضروري او لازم دئ او هغه څوک چي قرآن کريم په تجويد سره نه وايي هغه ګناهګاره دئ.

۲. الله جل جلاله د قرآن کريم په ترتيل ويلو سره حکم کړی دئ او پر خلکو يې دا واجبه کړې ده چي قرآن کريم په ترتيل سره ووايي. (ملا جيون د تفسير احمدي مصنف او د عالمګير باچا استاد)

۳. که چيري څوک د قرآن استاد وي او د تجويد خلاف قرآن وايي يا اجرت واخلي او قرآن غلط ختم کړي، نو دا دواړه د اجرت مستحق نه دي. (د امام جزري رح فتوا)

۴. که څوک قرآن د تجويد خلاف وايي او بل سړی دا واوري او قسم واخلي چي دا قرآن نه وايي، نو د دې سړی دا قسم درواغ نه دئ. (د امام جزري رح فتوا)

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵. حضرت شاه عبدالعزيز محدث دهلوي رحمه الله د "وَرَتِّلِ الْقُرْآنَ تَرْتِيلًا" په تفسير کي فرمايي: چي "ترتيل" په لغت کي واضح او صاف ويلو ته وايي او په شريعت کي "ترتيل" د اوو (۷) شيانو د رعايت کولو نوم دئ او هغه اووه شيان دا دي:

۱. هر حرف د خپل مخرج څخه را ايستل.

۲. د وقف او ابتدا لحاظ کول.

۳. دري (۳) سره حرکتونه صاف ادا کول.

۴. آواز په اندازه لوړول.

۵. آواز عمده جوړول.

٦. د تشديد او مد خيال کول.

۷. د ترهيب او عذاب پر آيتو باندي استغفار او د ترغيب او ثواب پر آيتو باندي د جنت سوال کول.

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوهمه روښنايي

د تجويد څخه خلاف قرآن ويل، غلط ويل يا بې قاعدې ويلو[1] ته لحن ويل کيږي.

لحن پر دوه (۲) قسمه دي؛ لحن جلي او لحن خفي. او لحن جلي بيا پر څلور (۴) ډوله دي:

اول ډول يې دا دئ چي د يوه حرف پر ځای بل حرف ووايي. لکه د اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ پر ځای اَلۡهَمۡدُ ووايي. يا د ثا پر ځای سين، يا د حا پر ځای ها، يا د ذال پر ځای زا، يا د صاد پر ځای سين، يا د ضاد پر ځای دال، يا د ظا پر ځای زا، يا د عين پر ځای همزه ووايي او په داسي غلطيو کي اکثره علماء اخته دي.

دوهم ډول يې دا دئ چي يو حرف زيات کړي. لکه په اَلۡحَمۡدُلِلّٰهِ کي د دال پېښ او دها زير کش کړي او داسي يې ووايي: اَلۡحَمۡدُوۡلِلّٰهِیۡ.

درېيم ډول يې دا دئ چي يو حرف کم کړي. لکه د لَمۡ يُوۡلَدۡ واؤ ښکاره نه کړي او لَمۡ يُلَدۡ يې ووايي.

څلورم ډول يې دا دئ چي زور، زير، پېښ او سکون د يوه او بل پر ځای ووايي. لکه د اِيَّاکَ کاف ته زير ورکړي، يا د اِهۡدِنَا څخه مخکي همزې ته زور

---

[1] دلته درې (۳) لفظونه ويل سوي دي، خلاف ويل، غلط ويل، بې قاعدې ويل. د خلاف ويلو څخه مراد صفات لازمه پرېښوول، د غلط ويلو څخه مراد مخارج پرېښوول او د بې قاعدې ويلو څخه مراد صفات عارضيه پرېښوول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکړي، یا د اَنْعَمْتَ میم ته حرکت ورکړي او داسي یې ووايي اَنْعَمَتَ او یا نوري داسي تېروتني وکړي دې ټولو ته لحن جلي ویل کېږي[۱] او دا حرام دئ. (حقیقة التجوید)

په ځینو ځایو کي که چیري و معنا ته یې تغیر ورسېږي[۲] نو لمونځ په فاسد یږي.

**دوهم قسم یې لحن خفي دئ:**

هغه دا دئ چي داسي غلطي خو و نه کړي خو د حروفو د ښایست له پاره چي کومي قاعدې[۳] مقرري سوي دي د هغه څخه یې خلاف ووایي.

---

(۱) خلاصه دا ده چي لحن جلي څلور ډولونه لري: ۱- تبدیل الحرف بالحرف. (د یوه حرف په بل حرف سره بدلول) ۲- حروف مده غوړځول. ۳- حرکات او سکنات غلط ویل. ۴- حرکتونه یعني زور، زیر او پېښ کشول. یو حرف په بل حرف سره بدلول کله د مخرج د بدلولو په سبب هم کېږي لکه د حا پر ځای ها ویل او کله د صفات لازمه یا د صفات عارضیه د بدلېدو په سبب هم کېږي لکه د صاد پر ځای سین ویل. د لحن جلي د دوهم او دریم قسمو خلاصه دا سوه چي زیاتوب او کمی دواړه لجن جلي دي په دې کي دا شامل دئ چي مشدد حرف مخفف وویل سي چي دا کمي ده، یا یو مخفف حرف مشدد وویل سي چي دا زیاتوب دئ.

(۲) "معنا ته یې تغیر ورسېږي" پر دغه جمله باندي د فکرکولو څخه وروسته دا معلومېږي چي یوازي د حرف په بدلولو سره لمانځه ته تغیر نه رسېږي خو ګناه ده. په لمانځه کي فساد هغه وخت راځي چي په لحن جلي سره د قرآن و معنا ته تغیر ورسېږي. مصنف رحمه الله یو داسي جامع عبارت ویلی دئ چي د ډېرو فقهي مسایلو او جزئیاتو د سوالو جوابونه ځني حاصلېږي.

(۳) د دې قواعدو څخه مراد صفات عارضیه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه پر کومه را چي زور يا پيښ وي نو هغه را به ډکه ويل کېږي، لکه د الصِّرَاطَ را چي په اتمه روښنايي کي به يې بيان راسي، ليکن دغه را باريکه ووايي دې ته لحن خفي ويل کېږي.

دا غلطي د اولي غلطي څخه سپکه يعني مکروه ده ليکن د داسي تېروتنو څخه هم د ځان ساتل ډېر ضروري دئ.

---

**يادونه**: لحن په نزد د اهل لغتو مطلق غلطي ته ويل کېږي او په نزد د مجويدينو لحن خوش آوازۍ ته ويل کېږي. نبي کريم ﷺ فرمايي: اِقْرَؤُا الْقُرْآنَ بِلُحُوْنِ الْعَرَبِ. يعني تاسو قرآن د عربو په لهجو او خوش آوازۍ سره واياست. د لحن جلي لغوي معنا ښکاره او سخته غلطي يعني هر څوک په پوهېږي چي مصنف رحمه الله يې تشريح وکړل او د لحن خفي لغوي معنا ده پټه يا سپکه غلطي يعني چي هر څوک نه په پوهېږي يوازي قاريان په پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دریمه روښنایي

د قرآن شریف د شروع کولو څخه مخکي أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ویل ضروري ده او په بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ کي دا تفصیل دئ:

که چیري د سورت د سر څخه یې شروع کړي نو بِسْمِ اللهِ ویل ضروري ده او که چیري د تلاوت کولو په مایین کي بل سورت شروع سي، نو دلته هم بِسْمِ اللهِ ویل ضروري ده [۱] او په دا دوهم صورت کي په سورة براءة (سورة التوبة) کي به بِسْمِ اللهِ نه ویل کېږي او بعضي علماوو ویلي دي چي په اول صورت کي به هم بِسْمِ اللهِ نه ویل کېږي [۲] او که د سورت د مایین څخه یې تلاوت شروع

---

[۱] د آساني په خاطر یې داسي په یاد کړئ چي د ابتدا درې (۳) صورتونه دي: ۱ - ابتدا تلاوت او ابتدا سورت. ۲ - ابتدا تلاوت در میان سورت. ۳ - ابتدا سورت در میان تلاوت. د دغه درو حکم دا دئ: چي په اول صورت کي دواړه ویل ضروري دي او په دوهم صورت کي أَعُوذُ بِاللهِ ویل ضروري ده او په بِسْمِ اللهِ ویلو کي اختیار دئ که یې وایي او که یې نه وایي، خو ښه خبره دا ده چي وویل سي او په دریم صورت کي یوازي بِسْمِ اللهِ ویل ضروري ده.

[۲] یعني شروع د تلاوت د اول څخه د سورت براءة.

**یادونه**: د أَعُوذُ بِاللهِ ثبوت په دغه آیت سره راغلی دئ: ﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ﴾ (سورة النحل، آیت: ۹۸) او د بِسْمِ اللهِ ثبوت په دغه مشهوره حدیث سره راغلی دئ: كُلُّ أَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ بِبِسْمِ اللهِ فَهُوَ أَقْطَعُ وَأَجْزَمُ. د أَعُوذُ بِاللهِ او بِسْمِ اللهِ له پاره درې =

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړي نو بِسۡمِ اللهِ ویل ښه کار دئ، ضروري نه ده او په همدغه صورت کې اَعُوۡذُ بِاللهِ ویل ضروري ده.

---

= محله دي چي مخکي تېر سوله او د دغو درو محلو له پاره څلور (۴) حکمونه دي: ۱– فصل کل. ۲– وصل کل. ۳– فصل اول وصل ثاني. ۴– وصل اول فصل ثاني. فصل کل دا دئ چي تعوذ، تسمیه او د سورت سر هر یو په جلا ساه شروع کړي. وصل کل دا دئ چي تعوذ، تسمیه او د سورت سر ټوله په یوه ساه ووایي. فصل اول وصل ثاني دا دئ چي تعوذ په جلا ساه ووایي او تسمیه او د سورت سر په جلا ساه ووایي. وصل اول فصل ثاني دا دئ چي تعوذ او تسمیه په یوه ساه او د سورت سر په بله ساه ووایي. په ابتدا تلاوت او ابتدا سورت کي څلور سره حکمونه روا دي. په ابتدا تلاوت در میان سورت کي درې حکمونه روا دي: فصل کل، وصل کل، وصل اول فصل ثاني. په ابتدا سورت در میان تلاوت کي هم درې حکمونه روا دي: فصل کل، وصل کل، فصل اول وصل ثاني. په کومو صورتو کي چي بعضي حکمونه روا نه دي ځکه چي سامع به دا فکر وکړي چي دا بِسۡمِ اللهِ هم د دغه سورت یوه حصه ده او حال دا دئ چي بِسۡمِ اللهِ خو د قرآن کریم یو جزء دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څلورمه رڼايي

د کومو ځايو څخه چي حروف ادا کېږي هغو ته مخارج وايي او دا ټوله مخارج اوولس (۱۷) دي. [۱]

---

[۱] مخارج جمع د مخرج ده. د مخارجو مخکي د پنځو (۵) شيانو پېژندل ضروري دي. **اول د مخرج لغوي او اصطلاحي معنا:** مخرج په لغت کي مَوْضِعُ الْخُرُوْجِ يعني د راوتلو ځای دئ. په اصطلاح کي: حِيَزٌ مُوَلِّدٌ لِلْحَرْفِ. يو خاص ځای دئ چي حرف څني راوزي. **دوهم د مخارجو شمېر:** مخارج پر مشهوره قول باندي اوولس (۱۷) دي؛ ځکه د مخارجو په شمېر کي درې (۳) مذهبونه دي. اول مذهب د امام سيبويه رحمه الله دئ؛ د ده پر قول باندي مخارج شپاړلس (۱۶) دي ځکه امام سيبويه رحمه الله جوف دهن په مخارجو کي نه شمېري او وايي چي د جوف دهن د حروفو ادا ينه په نورو ځايو پوري اړه لري، ځکه چي الف يې په انتهاء حلق کي، مده واؤ په شونډانو کي او مده ياء په وسط لسان کي ادا کېږي. دوهم مذهب د امام فراء رحمه الله دئ؛ د ده پر قول باندي مخارج څوارلس (۱۴) دي ځکه امام فراء رحمه الله جوف دهن، نهم، لسم او يوولسم مخرجونه په مخارجو کي نه شمېري. د امام فراء او امام سيبويه (رحمهما الله) نظر په جوف دهن کي يو دئ او امام فراء رحمه الله نهم، لسم او يوولسم مخرجونه ځکه په مخارجو کي نه شمېري ځکه چي امام فراء رحمه الله يې د قرب يا نژدېوالي لحاظ کوي. درېيم مذهب د امام خليل رحمه الله دئ؛ د امام خليل رحمه الله پر مذهب مخارج اوولس (۱۷) دي ځکه امام خليل رحمه الله هر حرف ته خپل مخرج ثابته وي او دا مذهب غوره او افضل دئ. که څوک دا سوال وکړي چي حروف نهه ويشت (۲۹) دي او مخارج اوولس دي او مخکي ذکر سول چي امام خليل رحمه الله هر حرف لره خپل مخرج ثابته وي، نو دا خو مخارج اوولس دي او حروف نهه ويشت دي؟ د دې جواب دا دئ چي د حروفو ترمنځ درې نسبته سته، بُعد مخرج، قرب مخرج او اتحاد مخرج. يعني ځيني حروف په مخرج کي يو =

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اول مخرج:**

د جوف دهن دئ؛ یعني د خولې خالیگاه. د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: واؤ چي کله ساکن وي او مخکي حرف یې پېښ ولري. لکه: اَلْمَغْضُوْبِ. یا چي کله ساکنه وي او مخکي حرف یې زېر ولري. لکه: نَسْتَعِیْنُ. الف چي کله ساکن، بې جټکې وي او مخکي حرف یې زور ولري. لکه: الصِّرَاطَ. ساکن بې جټکې یې په دې سبب وویل چي زور، زیر او پېښ لرونکي او همدا ډول جټکې والا ته همزه ویل کېږي، [1] که ځه هم عام خلک دې ته هم الف وایي.

---

=وي او ځیني حروف په مخرج کي نژدې وي او ځیني حروف په مخرج کي سره یو وي، نو د دغو درو نسبتو په سبب د امام خلیل رحمه الله پر مذهب مخارج اوولس دي. د امام خلیل رحمه الله مذهب ته په دې وجه ترجیح ورکړل سوې ده ځکه امام سیبویه او امام فراء (رحمهما الله) په علم التجوید کي د امام خلیل رحمه الله شاگردان دي، نو هر کله چي د استاد او شاگرد ترمنځ اختلاف راسي نو د استاد خبري ته د شاگرد تر خبري ډېر ارزښت ورکول کېږي. **درېیم د حرف لغوي او اصطلاحي معنا:** حرف په لغت کي طرف یا کنارې ته وایي او په اصطلاح کي: هُوَ صَوْتٌ یَعْتَمِدُ عَلٰی مَخْرَجٍ مُحَقَّقٍ اَوْ مُقَدَّرٍ. یعني دا یو انساني آواز دئ چي پر مخرج محقق او مقدر باندي تکیه کوي. د محقق او مقدر تعریف را روان دئ. **ځلورم دحروفو شمېر:** د قرآن کریم ټول حروف نهه ویشت (۲۹) دي، د الف ځخه تر حرف یا پوري. **پنځم د مخرج اقسام:** مخرج پر دوه قسمه دئ؛ محقق او مقدر. د مخرج محقق تعریف دا دئ: جُزْءٌ مُعَیَّنٌ مِنَ اَجْزَاءِ الْحَلْقِ وَاللِّسَانِ وَالشَّفَتَیْنِ. یعني یو معلوم جزء دئ د اجزاوو ځخه د حلق، ژبي او د شونډانو. او د. مخرج مقدر تعریف دا دئ: جُزْءٌ غَیْرُ مُعَیَّنٍ مِنَ اَجْزَاءِ الْحَلْقِ وَاللِّسَانِ وَالشَّفَتَیْنِ. یعني یو غیر معین جزء دئ د اجزاوو ځخه د حلق، ژبي او شونډانو.

[1] د الف او همزه په مابین کي درې (۳) مشهور توپیرونه سته. اول توپیر یې دا دئ چي الف همېشه ساکن وي او همزه ساکن هم راتلای سي او متحرک هم راتلای سي. =

(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه د اَلْحَمْدُ په سر کې چې کوم الف دئ، یا د بَأْسٌ د مابین کوم الف چې دئ په حقیقت کې دا همزه دئ او په یاد ولرئ چې په دې کتاب کې به دې دواړو الفو ته همزه ویل کېږي او د کوم الف او واؤ چې مخکې یې بیان تېر سو دې ته حروف مده او حروف هوائیه وایي.

حروف مده په دې سبب ورته وایي چې پر دې حروفو باندې مد اصلي کېږي، په یوولسمه روښنایي کې به د دې پوره حال معلوم سي. حروف هوائیه په دې سبب ورته وایي چې دا حروف په هوا کې پوره کېږي.

د کوم واؤ ساکن تر مخه چې زور وي هغه ته واؤ لین وایي. لکه: مِنْ خَوْفٍ. او د کومې یا تر مخه چې زور وي هغه ته یا لینیه وایي. لکه: وَالصَّيْفِ. د واؤ لین او واؤ متحرک بیان به وروسته په شپاړلسم مخرج کې راسي.

**دوهم مخرج:**

د اقصیٰ یې حلق دئ؛ یعني د حلق آخرنۍ حصه د سینې و خوا ته. د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: همزه او ها (ء، ه).

**درېیم مخرج:**

د وسط حلق دئ؛ یعني د حلق منځنۍ حصه ده. د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: عین او حا بې ټکي والا [1] (ع، ح).

---

= دوهم توپیر یې دا دئ چې الف همېشه د لکړې په شکل راځي او همزه د لکړې په شکل هم راځي او د عین د سر په شکل هم راځي. درېیم توپیر یې دا دئ چې په الف کې د رخوت یا نرموالي صفت دئ او په همزه کې د شدت یا سختوالي صفت دئ.

[1] په متن کې د "بې ټکي والا" قید مصنف رحمه الله ځکه ویلی دئ چې که چیرې د کاتب ځخه په تېروتنه کې ټکي ورکړل سي، نو هم دې غین او خا نه وایي بلکې عین او حا دې وایي، همدا ډول په څلورم مخرج کې هم د دې په سبب ځان پوه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څلورم مخرج:**

د ادنی یي حلق دئ؛ یعني د حلق هغه حصه چي د خولې و طرف ته ده. د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: غین او خا ټکي والا (غ، خ) او دې حروفو ته حروف حلقي وایي.[۱]

**پنځم مخرج:**

د لَهَات[۲] دئ؛ یعني د تالو سره متصل د ژبي بېخ چي هر کله د مقابل تالو سره ولګېږي، نو قاف (ق) ادا کېږي.

**شپږم مخرج:**

د قاف مخرج ته نژدې د خولې و خوا ته لږ کښته، د دې ځای ځخه کاف (ک) ادا کېږي[۳] او دې دواړو حروفو ته حروف لهاتیه وایي.[۴]

---

[۱] دغه حروف په دې وجه حروف حلقي بولي چي دا د حلق ځخه ادا کېږي. حروف حلقي شپږ حروف دي چي یو شاعر په دې بیت کي را ټول کړي دي:

**حروف حلقی شش بود ای نور عین ‌‌‌‌‌‌ ‌‌‌‌‌‌ همزه، ها، حا، عین، خا، غین**


[۲] لهات د لام په زور سره حلقي ژوبی ته وایي کوم چي د هر انسان په خوله کي یو بې هډه او زائده غوښه ده. په عربي ژبه کي د لهات تعریف داسي دئ: هِيَ لُحمَةٌ مُشْتَبِكَةٌ بِآخِرِ اللِّسَانِ بِأَعْلَى الْحَنْجَرَةِ وَالْحَلْقِ مِنْ أَقْصٰى سَقْفِ الْفَمِ. یعني د خولې او حلق په مابین کي هغه کوچني د غوښي ټوټه ده چي اوږد شکل لري او د ژبي په پای کي د لوړ تالو او د حلق د سر سره ځړېږي، د لوړ ځخه پلنه او د لاندي ځخه نری، ده ځکه نو دې ته لسان صغیر هم وایي. او قاف ته عَلصمیٰ او کاف ته عَکدیٰ هم وایي، ځکه د لهات دننه حصې ته عَلصمه او دباندي حصې ته عَکده وایي.

[۳] د قاف او کاف مخرج داسي په یاد کړئ چي د ژبي بېخ او مقابل تالو د دې ځخه قاف ادا کېږي. او د قاف مخرج ته نژدې د خولې و خوا ته کاف ادا کېږي.

[۴] دې حروفو ته لهاتیه ځکه وایي چي دا حروف د لهات ځخه ادا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د غاښو او ژبي نقشه




**د ژبي نومونه:** ژبه اته (۸) نومونه لري چي په لاندي ډول دي: وجه اللسان، ظهر اللسان، اقصیٰ اللسان، وسط اللسان، ادنی اللسان، حافة اللسان، طرف اللسان، راس اللسان او تاسو دا ټول نومونه په لوړه نقشه کې په صحیح ډول لیدلای سي. او د غاښو نومونه [illegible] کې، مخ کې، خلفه سان کړې دي، او نقشه یې تاسو لوړه لیدلای سي. **یادونه:** په پورته نقشه کي چي کومي شمېري لیکل سوي دي هغه د مخارجو شمېرې دي. **یادونه:** د کتاب په اصلي نسخه کي دا نقشه نه سته، یوازي د لوستونکو د تفهیم له پاره دلته را وړل سوې ده.

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اووم مخرج:**

د ژبې مابین یا وسط اللسان دئ؛ یعني وسط اللسان چې کله مقابل تالو ته پورته سي د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: جیم، شین او یا، هغه یا چې مده نه وي یعني یاء متحرکه او لینیه او د مده او لین بیان په اول مخرج کې تېر سوی دئ او دې حروفو ته حروف شجریه [1] وایي. [2]

**تنبیه:**

مخته چې کوم مخارج راځي په هغو کې د ځینو نومونه په عربي ژبه سره راځي د دې له پاره اول د هغو معنا در ښیو چې ښه یې په یاد کړې چې مخته د هغو په پېژندلو کې درته تکلیف نه وي.

پېژندل پکار دي چې د انسان په خوله کې دو دېرش (٣٢) غاښونه وي؛ د مخ څلور غاښو ته ثنایا وایي، دوو پورته غاښو ته ثنایا علیا او دوو لاندي غاښو ته ثنایا سفلی وایي. او د دې ثنایا سره چې کوم غاښونه متصل (پیوست) څلور غاښونه دي چې هغو ته رَباعیات [3] وایي او قواطع هم ورته ویل کېږي. بیا د دې رَباعیاتو سره څلور تېره غاښونه دي چې هغو ته انیاب او

---

[1] د دې حروفو د تسمیې وجه دا ده چې شجر درختي ته وایي نو درخته لکه څنګه چې د کښته ځخه و لوړي ته ځي، نو د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کې هم وسط اللسان لوړ تالو ته پورته کېږي نو ځکه حروف شجریه ورته وایي.

[2] لِخُرُوْجِهَا مِنْ شَجْرِ الْفَمِ بِسُكُوْنِ الْجِيْمِ وَهُوَ مُنْفَتِحٌ مَابَيْنَ اللَّحْيَيْنِ. (حقیقة التجوید) یعني په دې سبب دې حروفو ته حروف شجریه وایي چې دا د شجر اللسان ځخه ادا کېږي. او "شجر" د جیم په سکون سره د دوو وریو په مابین کې د ژبې هغه حصې ته وایي چې کله خوله بنده وي په فطري ډول هغه خلاصه وي. منه

[3] رَباعیات د را په زور سره ویل پکار دئ، د را په پېښ سره صحیح نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کواسر وایي. بیا د دې انیابو سره متصل (پیوست) څلور غاښونه دي چې هغو ته ضواحک وایي. بیا د دې ضواحکو سره متصل (پیوست) دوولس نور غاښونه دي، درې راسته طرف ته او درې پورته چپه طرف ته، درې لاندې راسته طرف ته او درې لاندې چپه طرف ته او دې ټولو ته طواحن وایي. بیا د دې طواحنو سره متصل (پیوست) په آخر کې دواړو طرفو ته یو یو غاښ بل دئ چې هغو ته نواجذ وایي. او ضواحک، طواحن او نواجذ دې درې قسمه غاښو ته اضراس[1] وایي چې په پښتو کې ورته زامې وایي. د آسانۍ له پاره دغه ټول د غاښو نومونه په لاندې شعر کې راوړل سوي دي:[2]

## شعر

ثنایا او رباعي څلور څلور دي — هم انیاب او ضواحک څلور څلور دي
طواحن غاښونه دوولس پوره شمار کړه — نواجذ یې په آخر کې بیا څلور دي
ضواحک او طواحن نواجذ شمار کړه — سوه دا شل غاښه اضراس که فکر وکړې

### اتم مخرج:

د ضاد دئ او دا د حافة اللسان څخه ادا کېږي یعني د ژبې د چپه او راسته څنډو څخه ادا کېږي. یعني کله چې اضراس علیا (پورته زامه) د غاښو د بېخو سره ولګېږي او د چپه طرف څخه آسانه دئ او په یوه وار سره د دواړو خواو

---

[1] د همزې په زور او د ضاد په سکون سره د ضِرْس جمع ده، (د ضاد په زیر سره) او ضِرْس زامي ته وایي.

[2] د دوو دېرشو (۳۲) غاښونو ټول شپږ نومونه دي: ثنایا، رَباعیات، ناب، ضواحک، طواحن او نواجذ. په دوی کې د طواحن څخه ماسېوا نور ټول څلور څلور دي یوازې طواحن دوولس (۱۲) دي. اول درې نومونه د غاښو دي او آخري درې نومونه د زامو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


څخه ادا کول هم صحیح دئ خو ډېر سخت دئ. دې حرف ته حرف حافیه وایي او اکثره خلک په دې کي سخته غلطي کوي نو د دې وجهي د یو مشاق قاري څخه تمرین کول ضروري دئ.

دا حرف ډک دال، یا باریک دال، یا د دال مشابه لکه چي نن سبا د اکثرو خلکو داسي ویل عادت دئ داسي هیڅکله ویل پکار نه دي. همدا ډول خاص ظا هم ویل صحیح نه دئ. که چیري ضاد د صحیح مخرج څخه په صحیح ډول په نرمي سره آواز جاري وساتي او د ټولو صفاتو لحاظ وکړل سي او ادا کړل سي نو آواز به یې په اورېدو کي د ظا د آواز سره ډېر زیات مشابه وي د دال مشابه هیڅکله هم نه دئ، د علم تجوید او قرآئت په کتابو کي همداسي لیکلي دي.[1]

---

[1] دا حرف (ضاد) د حافة اللسان څخه ادا کېږي د عربي ژبي څخه ماسېوا د دنیا په نورو ژبو کي دا حرف نه سته، مخرج خو یې معلوم دئ او صفات لازمه یې مشهور دي خو په ادا کي یې سخت اختلاف دئ یعني د خلکو په منځ کي نه د تجوید د علماوو په منځ کي. ځیني خلک دا حرف ډک دال، یا ډکه ظا، یا غین او یا هم ډال ادا کوي. لکه: وَلَاذَّآلِیْنَ، وَلَاظَّآلِیْنَ، وَلَاغُذَّآلِیْنَ. دا ټولي طریقې غلطي دي صحیح طریقه دا ده چي حافة اللسان اوږده کړئ د پنځو پورته غاښو یعني نواجذ، طواحن او ضواحکو سره یې په سختي ولګوئ او داسي یې ادا کړئ چي په آواز کي لوړوالي (د جهر په وجه) او آواز جاري وساتل سي. (د رخوت په وجه) په ډکه خوله یعني ښه په غټوالي سره آواز ووزي (د استعلاء او اطباق په وجه) په تلوار سره باید ادا نه سي بلکي په ټینګوالي او په ځنډ سره ادا سي. (د استطالت او اصمات په وجه). لکه څنګه چي دا حرف ډېر سخت او مشکل الاداء دئ نو د همدې وجهي د یو مجود قاري څخه د دې حرف زده کول ضروري دئ، تر څو ځان د قرآن د غلط ویلو څخه وساتي ځکه چي غلط قرآن ویل لحن جلي دئ او لحن جلي حرام دئ. د دې حرف د تسمیې وجه دا ده چي دا د حافة اللسان څخه ادا کېږي نو ځکه ورته حرف حافیة ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نهم مخرج:**

د لام دئ؛ هر کله چي طرف اللسان سره د یو څه حصې د حافې چي د ثنایا، رباعي ناب او ضواحکو د وریو سره مایل د تالو سره ټکر و خوري که چپه طرف وي او که راسته طرف وي او د راسته طرف څخه آسانه دئ او د دواړو طرفو څخه په یوه وار ادا کول هم صحیح دئ.

**لسم مخرج:**

د نون دئ او هغه هم طرف اللسان دئ، خو د لام د مخرج څخه کم دئ یعني ضواحکو لره د نون په مخرج کي دخل نه سته.

**یوولسم مخرج:**

د را دئ او دا مخرج د نون و مخرج ته نژدې دئ، خو په دې مخرج کي ظهر اللسان لره هم دخل سته او دغه درو (۳) حروف یعني لام، نون او را ته حروف طَرفیه او ذَلقیه هم ورته وایي. [1]

**دوولسم مخرج:**

د طا، دال او تا دئ؛ یعني ادنی اللسان او د ثنایا علیا بېخ دئ او دغه درو (۳) حروفو ته حروف نِطعیه وایي. [2]

---

[1] د دې درو (۳) مخرجو (نهم، لسم، یوولسم) د حروفو د تسمیې وجه دا ده، چي دغه ټول حروف د طرف اللسان څخه ادا کېږي ځکه ورته حروف طرفیه یا ذلقیه وایي او ذلق هم طرف ته وایي.

[2] د دې حروفو د تسمیې وجه دا ده چي دا د نِطع څخه ادا کېږي او نطع د نون په زیر او د طا په زور سره د تالو هغه ګونجي ځای ته وایي. ځکه نو دې حروفو ته حروف نطعیه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دیارلسم مخرج:**

د ظا، ذال او ثا دئ او دا ادنی اللسان او د ثنایا علیا سرونه دي او دغه درو (۳) حروفو ته حروف لثویه وایي.[۱]

**څوارلسم مخرج:**

د صاد، زا او سین دئ؛ او دا رأس اللسان او د ثنایا سفلی سرونه سره د یو ځه اتصال د ثنایا علیا او دې درو (۳) حروفو ته حروف صفیریه وایي.[۲]

**پنځلسم مخرج:**

د فا دئ؛ دا د لاندي شونډې نس او د ثنایا علیا سرونه دي.

**شپاړلسم مخرج:**

د دواړو شونډو دئ او د دې ځخه دا حروف ادا کېږي: میم، با او واؤ هغه واؤ چي مده نه وي یعني واؤ متحرک او واؤ لین او د مده او لین بیان په اول مخرج کي تېر سو، لیکن په دې درو (۳) حروفو کي فرق دا دئ چي با د شونډې د لندې حصې ځخه ادا کېږي د دې وجهي ورته بحري وایي.

او میم د شونډو د وچي حصې ځخه ادا کېږي د دې وجهي ورته بري وایي. او واؤ د دواړو شونډو د کامل ګول والي ځخه ادا کېږي. فا او دې درو (۳) حروفو ته حروف شفویه وایي.[۳]

---

[۱] د دې حروفو د تسمیې وجه دا ده چي لِثَة د لام په زیر او د ثا په زور سره په لغت کي پیوسته کېدو ته وایي، نو د دغه حروفو د ادا کېدو په وخت کي ادنی اللسان د ثنایا علیا سره پیوسته کېږي.

[۲] د دې حروفو د تسمیې وجه دا ده چي صفیر په لغت کي شپېلکي ته وایي او د دغه حروفو د ادا کولو په وخت کي د خولې ځخه یو تېز شپېلکی راوزي، ځکه نو ورته حروف صفیریه وایي.

[۳] د دې حروفو د تسمیې وجه دا ده چي دا حروف د دواړو شونډو ځخه ادا کېږي او شَفَة په لغت کي شونډې ته وایي ځکه نو ورته حروف شفویه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اوولسم مخرج:**

خېشوم [۱] یعني د پزي شپېلۍ ده او د دې ځخه غنه ادا کېږي. د غنې بیان به په نهمه او لسمه روښنایي کي د میم او نون په قاعدو کي انشاء الله راسي.

---

[۱] اوولسم مخرج خېشوم دئ؛ یعني د پزي شپېلۍ؛ وَهُوَ الْخَرْقُ الْمُنْجَذِبُ مِنَ الْاَقْصَى الْاَنْفِ. یعني د پزي په آخر کي هغه دننه چاک یا پرې ځای دئ چي د لوړ تالو د لوړي حصې خوا ته وي. د دې ځخه اخفاء والا نون ساکن او نون تنوین ادا کېږي. لکه: مِنْ جِبَالٍ فِيْهَا. پر صحیح قول د اخفاء په حالت کي د دواړو نونانو (نون ساکن او نون تنوین) مخرج د خېشوم و طرف ته منتقل کېږي لکه ځنګه چي د صحیح مذهب پر بناء د حروفِ مده مخرج جوف دهن ته مُحول کېږي. نو د لسم مخرج او اوولسم مخرج په مابین کي هیڅ تعارض او تخالف نه ستهٔ، ځکه چي لسم مخرج د نون متحرک او نون ساکن مظهر دئ او دا مخرج د نون مخفٰی دئ فلا منافاة نو ګواکي د اخفاء په حالت کي اصل مخرج (رأس اللسان او وری) لره هم دخل نه ستهٔ. لیکن ځنګه چي مغلوب لږ او تقریباً معدوم دئ او اغلب و اکثر تعلق د پزي د شپېلۍ وي ځکه نو د ډېر دخل لرونکي مقام لحاظ یې وکړي او د اخفاء په حالت کي یې د دواړو نونانو مخرج خېشوم وښووي او د دواړو مخرجو سره د تعلق درلودلو په سبب په دغه حال کي د نون نوم نونِ مرکب، نون متفرع، حرف فرعي، غنة حرفي او نون خفي دئ. **سوال:** دلته د حروفو د مخارجو بیان کېږي او مصنف رحمه الله فرمایي چي د دې مخرج ځخه غنه ادا کېږي او ښکاره خبره ده چي غنه یو صفت دئ ځکه چي غنه لغةً د غُنین ځخه مشتق ده او د غنین معنا ده "صَوْتُ الْغَزَالَةِ اِذَا ضَاعَ وَلَدَهَا" یعني د هوسۍ هغه آواز کوم چي دا د خپل زوي د ورکېدو یا ضائع کېدو په سبب کوي. او د غنې اصطلاحي تعریف دا دئ: هُوَ صَوْتٌ اَغَنٌّ شَبِيْهٌ بِصَوْتِ الْغَزَالَةِ اِذَا ضَاعَ الْغَزَالَةُ وَلَدَهَا. مَجْهُوْرٌ لَطِيْفٌ لَا عَمَلَ لِلِّسَانِ فِيْهَا. یعني غنه یو خېشومي او د پزي غوني والا او نرم خوندور آواز دئ کوم چي په پزه کي پروت وي او د کوترو او هوسیو د آواز سره مشابه وي هغه وخت چي دوی یې د خپل زوي پر ورکېدو یا ضائع کېدو باندي کوي او ژبي لره په غنې کي هیڅ دخل نه ستهٔ. او ښکاره خبره ده چي یوازي غوني او بڼبڼا ته حرف نه سي ویل کېدای، نو بیا حضرت مصنف رحمه الله د صفت=

(c) ketabton.com: The Digital Library


=مخرج څنګه بيان کړي؟ **اول جواب:** دلته د غنې څخه مراد نون مخفٰی دئ نه د غنې صفت او ښکاره خبره ده چي نون مخفٰی حرف دئ نه صفت، نو مصنف رحمه الله د حرف مخرج بيان کړي نه د صفت او تفصيل دا دئ چي د شارح يماني رحمه الله للمقدمة پر قول باندي غنه پر دوه قسمه ده، اوله غنه صفتي چي دا په نون او ميم مشدد يا مدغم کي ده او دوهمه غنه حرفي ده چي دا په نون مخفٰی او نون مدغم بادغام ناقص او په ميم مخفٰی کي ده نو دلته مراد نون مخفٰی دئ. همدا ډول مکي رحمه الله په "رعاية" کي فرمايي: اَلْغُنَّةُ نُوْنٌ سَاكِنٌ خَفِيٌّ يَخْرُجُ مِنَ الْخَيْشُوْمِ وَاِنَّهَا حَرْفٌ مَجْهُوْرٌ لَا عَمَلَ لِلِّسَانِ فِيْهِ. يعني غنه نون ساکن خفي دئ چي د خېشوم څخه راوزي او دا حرف مجهوره دئ او ژبي لره په غنه کي هيڅ دخل نه سته. او جاربردي رحمه الله په وضاحت سره فرمايلي دي چي: اَلْغُنَّةُ نُوْنٌ مَخْفَاةٌ وَهِيَ مِنَ الْحُرُوْفِ الْفَرْعِيَّةِ. يعني غنه نون مخفٰی ده او د حروف فرعيه وو څخه ده. **دوهم جواب: دا دئ** چي دلته عبارت په تقدير د غنې والا حرف دئ يعني هغه حرف چي غنه پکښي کېږي. **درېيم جواب:** دغه مخرج يې د فايدې د تکميل په خاطر بيان کړي ځکه د نورو صفاتو د ادا محل او تلفظ مخارج مقرره دي او د غنې محلِ ظهور د ټولو صفاتو څخه مختلف دئ. او په مخارجو کي د حروفو قيد للاکثر حکم الکل د لحاظ څخه دئ. **سوال:** غنه وايو او حرف ولي مراد کړو؟ **جواب:** د اخفاء په حالت کي څنګه چي پر ذات باندي د غنې د صفت غلبه وي يعني په دې حالت کي خېشومي آواز لره داسي دخل وي چي د دې څخه ماسېوا دا حرف ګرسره نه ادا کېږي يا که ادا هم سي ناقص وي، د دې وجهي خپله نون ته غنه وايي. لکه: زَيْدٌ عَدْلٌ. قُرْآنٌ هُدًى.
**سوال:** د دې بيان څخه معلومه سول چي نون مخفٰی حرف فرعي دئ، ځکه هغه د مخرج اصلي او خېشوم دواړو څخه ترکيباً ادا کېږي او د حرف فرعي تعريف دا دئ: اَیْ مَا يَتَرَدَّدُ بَيْنَ الْمَخْرَجَيْنِ. پر دې بناء باندي ضروري وه چي مصنف رحمه الله د نورو حروف فرعيه وو (اماله والا الف، تسهيل والا همزه، اشمام والا صاد) مخارج هم بيان کړي وای؟ **جواب:** څنګه چي د نورو حروف فرعيه وو دوه دوه مخارج هغه وه چي مخکي تېر سول او د نون مخفٰی دوهم مخرج د دغه ټولو مخارجو مذکوره وو څخه جلا دئ د دې وجهي يې د نون مخفٰی مخرج بيان کړي او د نورو حروف فرعيه وو مخارج يې بيان نه کړل. **سوال:** بعضي=

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د مخرج معلومولو طریقه دا ده:**

چي دغه حرف ساکن کړه او د دې څخه مخکي متحرکه همزه راوړه هر ځای چي آواز ختم سي هغه يې مخرج دئ.

---

=حضراتو د نون مخفٰی تعریف داسي کړی دئ: هُوَ حَرْفٌ خَفِيٌّ يَخْرُجُ مِنَ الْخَيْشُوْمِ وَلَا عَمَلَ لِلِّسَانِ فِيْهِ. یعني نون مخفٰی یو خفي حرف دئ چي د پزي د شپېلۍ څخه راوزي او په دې کي ژبي لره هيڅ دخل نه سته. او د نحوي قاعده ده چي نکره تحت النفي عموم فايده کوي نو د "لَاعَمَلَ" څخه معلومېږي چي د نون مخفٰی په ادا کولو کي ژبي لره يو ذره دخل او تعلق هم نه سته، په داسي حال کي چي دا د تحقيق خلاف دئ؟ **جواب**: دلته مطلق د عمل لسان نفي مراد نه دي بلکي د دې څخه عمل خاص او تعلق مقيد نفي مقصود دئ يعني ژبي لره داسي دخل نه سته څنګه چي د اظهار په حالت کي وي، نو دا د "لَا رَجُلٌ ظَرِيْفٌ فِي الدَّارِ" د قبيل څخه دئ. امام جزري رحمه الله په دې اړه فرمايي: لَا عَمَلَ لِلِّسَانِ فِيْهِمَا كَعَمَلِهِ فِيْهِمَا مَعَ مَا يُظْهَرَانِ أَوْ يُدْغَمَانِ بِغُنَّةٍ. یعني د اخفاء په حالت کي د دواړو نونانو په ادا کولو کي ژبي لره داسي عمل نه سته څنګه چي په حروف اظهار او حروف ادغام مع الغنة کي د ادا کولو په حالت کي سته. ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: وَأَنَّ النُّوْنَ الْمُخْفَاةَ مُرَكَّبَةٌ مِنْ مَخْرَجِ الذَّاتِ وَمِنْ تَحَقُّقِ الصِّفَةِ فِيْ تَحْصِيْلِ الْكَمَالَاتِ. یعني نون مخفٰی د ذات حرف د مخرج (د ژبي کناره او تالو) او د تحقق صفت غنه دواړو څخه مرکب دئ تر څو على وجه الكمال ادا سي. یعني نون مخفٰی د ذات حرف مخرج (د ژبي کناره او تالو) او د تحقق صفت (غنې) څخه مرکب دئ تر څو په پوره دول ادا سي. یعني نون مخفی مرکب د خپل ذات حرف مخرج چي هغه د ژبي کناره او تالو دئ او د تحقق صفت چي هغه غنه ده د دغو دواړو څخه مرکب دئ تر څو په پوره توګه ادا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د حروفو د مخارجو اجمالي نقشه

| (۱) مخرج: ا، و، ی | (۲) مخرج: ء، هـ | (۳) مخرج: ع، ح |
|---|---|---|
| په حالت کي د مده د خولې د خاليګاه څخه. | د حلق د آخر څخه کوم چي د سينې و خوا ته دئ. | د حلق د مابين څخه. |
| (۴) مخرج: غ، خ | (۵) مخرج: ق | (٦) مخرج: ک |
| د حلق د شروع څخه کوم چي د خولې و خوا ته دئ. | د ژبي پای کوم چي د حلقي ژوبي سره نژدې ده کله چي د لوړ تالو سره ولګېږي. | د همدغه قاف د مخرج څخه لږ د خولې و خوا ته. |
| (۷) مخرج: ج، ش، ی (غير مده) | (۸) مخرج: ض | (۹) مخرج: ل |
| د ژبي مابين يا وسط اللسان چي کله د تالو د مابين سره ولګېږي. | د ژبي اړخ يا طرف اللسان چي کله د لوړو زامو سره ولګېږي. د چپه طرف څخه آسان او د راسته طرف څخه سخت دئ، د دواړو طرفو څخه په يوه وار ادا کول ډېر مشکل دئ. | طرف اللسان چي هر کله د لوړو څلور قسمه غاښو د وريو سره ولګېږي. |
| (۱۰) مخرج: ن | (۱۱) مخرج: ر | (۱۲) مخرج: ط، د، ت |
| دا هم د لام د مخرج په ډول دئ خو ضواحکو لره دخل نه سته. | دا هم د لام د مخرج په ډول دئ خو ضواحکو او ناب لره دخل نه سته او ظهر اللسان لره هم دخل سته. | ادنی اللسان چي کله د ثنايا عليا د بېخو سره ولګېږي. |
| (۱۳) مخرج: ظ، ذ، ث | (۱۴) مخرج: س، ص، ز | (۱۵) مخرج: ف |
| ادنی اللسان چي هر کله د ثنايا عليا د سرو سره ولګېږي. | رأس اللسان چي هر کله د ثنايا سفلی د سرو سره ولګېږي او يو څه ثنايا عليا لره هم دخل سته. | د لاندي شونډې نس ا و د ثنايا عليا سرونه دي. |

| (۱٦) مخرج: ب، م، و (غير مده) | (۱۷) مخرج: ن، م مخفی يا خېشوم |
|---|---|
| "ب" د دواړو شونډو د لندې حصې د يو ځای کېدو څخه او "م" د دواړو شونډو د وچي حصې څخه او "و" (غيره مده) د دواړو شونډو د کامل ګول والي څخه ادا کېږي. | د نون او ميم مخفی غنه د خېشوم يعني د پزي د شپېلی څخه ادا کېږي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځمه روښنايي

په کومو کیفیتو (ډولو) سره چي حروف ادا کېږي هغو کیفیتو (ډولو) ته صفات ویل کېږي. (۱) او هغه پر دوه قسمه دي؛ (۲) یو ډول یې دا دي که چیري

(۱) یعني د مخرج څخه د وتلو په وخت کي د حرف په آواز کي چي کوم کیفیت (ډول) یا حالت پیدا کېږي هغه ته صفت ویل کېږي.

(۲) صفات جمع د صفت ده. صفت وایي په لغت کي مَا قَامَ بَالشَّيْءِ یعني صفت هغه شئ دئ چي دي دربدل کوي په بل شي پوري. لکه رنګ چي په دېوال پوري ولاړ وي. او اصطلاحي تعریف یې دا ده: اَلصِّفَةُ هِيَ كَيْفِيَةٌ عَارِضَةٌ لِلْحَرْفِ عِنْدَ حُصُوْلِهِ فِي الْمَخْرَجِ. یعني صفت یو داسي کیفیت (ډول) دئ چي کله حرف د خپل مخرج څخه را ووزي نو دا صفت ور عارضېږي یعني ور وراندي کېږي. د صفاتو څخه مخکي د اتو (۸) شیانو پېژندل ضروري دي؛ **اول د صفت لغوي او اصطلاحي معنا**: د صفت لغوي او اصطلاحي معنا مخکي تېره سول. **دوهم د صفت اقسام**: صفت پر دوه قسمه دئ؛ لازمي او عارضي. لازمي هغه صفتونه دي چي همېشه د حرف سره ورسره وي که چیري دغه صفتونه ادا نه سي نو هغه حرف به ګرسره پاته نه سي یعني د هغه حرف لفظ یا معنا ته به یې تغیر ورسېږي. او عارضي هغه صفتونه دي چي د حروفو د زینت یا ښایست له پاره وي چي د هغه په نه ادا کولو سره د حروفو ښایست له منځه ځي یعني یو وخت وي او یو وخت نه وي. لکه د را ډکوالي او باریک والي. **درېیم د صفاتو تعداد دئ**: ټول صفتونه اوولس (۱۷) داني دي. **څلورم په حروفو کي څو صفات راځي؟** په حروفو کي پنځه (۵) یا شپږ (٦) او یا هم اووه (۷) صفتونه راځي. **پنځم په یوه حرف کي څو زیات صفات راځي او لږ څو صفات راځي؟** په یوه حرف کي زیات صفات اووه (۷) راځي او لږ صفات پنځه (۵) راځي. **شپږم په حروفو کي د صفاتو معلومولو طریقه**: د صفاتو معلومولو طریقه دا ده چي د صفاتو مجموعې ته =

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه صفات ادا نه سي نو هغه حرف به ګرسره پاته نه سي او داسي صفاتو ته صفات ذاتیه، لازمه، ممیزه او مقومه ویل کېږي.[۱]

دوهم قسم یې دا دي چي دا هغه حرف خو پاته سي خو هغه ښایست او زینت یې پاته نه سي او داسي صفاتو ته صفات محسنه، مزینه، محلیه او عارضیه ویل کېږي،[۲] اول قسم یې اوولس (۱۷) صفتونه دي.[۳]

---

=ګورو که چیري هغه حرف په هغه مجموعه کي موجود وو خو ډېره ښه او که چیري نه وو، نو بیا د هغه مقابل صفت ته ګورو ځکه په مقابل صفت کي یې خامخا وي. مثلاً د همس مجموعې ته ګورو که چیري هغه حرف د همس په مجموعې کي موجود وي خو ډېر ښه او که نه وي نو په جهر کي خامخا سته. **اووم د هر صفت لغوي او اصطلاحي معنا او مطلب:** چي دا به د هر صفت سره یو ځای راسي. **اتم د صفاتو د ادا کولو په وخت کي پر حروفو څه اثر لوېږي؟** د صفاتو د ادا کولو په وخت کي پر حروفو باندي د صفاتو اثر تمایز او جلاوالي دئ یعني یو حرف د نورو حروفو څخه را جلا کوي.

[۱] د دې صفاتو د تسمیې وجه دا ده: لازمه ځکه ورته وایي چي دا صفات د حروفو سره همېشه ملګري دي. ذاتیه ځکه ورته وایي چي دا صفات د حروفو په ذات کي موجود دي. ممیزه ځکه ورته وایي چي دا صفات د حروفو په مابین کي تمایز او جلاوالي راولي. مقومه ځکه ورته وایي چي کوم صفت په یوه حرف کي وي هغه صفت په نورو حروفو کي نه وي.

[۲] د دې صفاتو د تسمیې وجه دا ده: عارضیه ځکه ورته وایي چي دا صفات عارضي دي یعني کله کله وي او کله نه وي. محلیه، مزینه او محسنه په دې وجه ورته وایي چي دا صفات د حروفو د ښایست له پاره دي یعني حروف په ښایسته کېږي. لکه د را ډکوالي او داسي نور.

[۳] **یادونه:** صفات لازمه پر دوه قسمه دي؛ متضاده او غیر متضاده. اول لس صفات یې متضاده دي او پاته اووه (۷) صفات یې غیر متضاده دي او تضاد یې بالمقابل دي. یعني هر صفت د مقابل ضد دئ لکه همس او جهر دغه دواړه صفتونه په خپل مابین کي سره =

(c) ketabton.com: The Digital Library


**(۱) همس:** [۱]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته مهموسه وایي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي آواز په خپل مخرج کي په داسي کمزوري سره و درېږي چي ساه جاري وي او په آواز کي یو قسم کښته والي (نرموالی) وي. [۲] او داسي حروف لس (۱۰) دي چي مجموعه یې دا ده: فَحَثَّهُ شَخْصٌ سَكَتَ. [۳]

**(۲) جهر:** [۴]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته مجهوره وایي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي آواز په خپل مخرج کي په داسي قوت سره و درېږي چي د ساه جاري کېدل بند سي او په آواز کي

---

=ضد دي یعني همس د شدت ضد نه دئ او شدت د جهر ضد نه دئ یعني د خپل مقابل ضد دئ د بل یوه ضد نه دئ.

[۱] همس په لغت کي کرار والي ته وایي.

[۲] د همس تعریف همدومره دئ چي په مخرج کي آواز په داسي کمزوري سره ودرېږي چي ساه جاري وي او په آواز کي یو قسم کښته والي وي. دا مطلب د لغت په مرسته سره د همس د لفظ څخه معلومېږي او "ساه جاري کېدل" په تعریف کي داخل نه دئ لیکن دا ساه جاري کېدل یې علامه ده چي مهموسه حروف باید ساکن ادا کړل سي. د مثال په ډول اَثْ چي د کښته آواز سره ساه راوزي، ځکه چي ساه یو څه آواز جوړېږي او یو څه په خپل تنفسي حالت باندي پاته کېږي.

[۳] د دې مجموعې معنا دا ده: شوق او ترغیب ورکړئ هغه چا ته چي چپوالي یې غوره کړی وي.

[۴] جهر په لغت کي لوړوالي ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


یو قسم لوړوالي وي.[۱] او د مهموسه حروفو څخه ماسیوا نور ټوله حروف مجهوره دي. همس او جهر یو د بل مقابل (ضد) دي.

**(۳) شدت:**[۲]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته شدیده وایي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي آواز په خپل مخرج کي په داسي قوت سره و دریږي چي آواز بند سي او په آواز کي یو قسم سختي وي[۳] او داسي حروف اته (۸) دي چي مجموعه یې دا ده: اَجِدُکَ قَطَبْتَ.[۴]

**(۴) رخوت:**[۵]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته رخوه وایي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي آواز په خپل مخرج کي په داسي کمزورۍ سره و دریږي چي آواز جاري وي او په آواز کي یو قسم

---

[۱] د جهر تعریف همدومره دئ چي په مخرج کي آواز په داسي قوت سره ودریږي چي په آواز کي لوړوالي وي. "او ساه جاري کېدل بند سي" دا عبارت د تعریف څخه خارج دئ ځکه چي دا محضي یوه علامه ده. مطلب یې دا دئ چي مجهوره حروف باید ساکن ادا کړل سي. د مثال په ډول په اَذْ کي ټوله آواز په زوره سي، ځکه چي ټوله ساه آواز جوړیږي.

[۲] شدت په لغت کي سختي ته وایي.

[۳] د شدت معنا ده سختوالي او ټینګوالي یعني په مخرج کي آواز په داسي سختي سره ودریږي که چیري یې په ساکن حالت کي د یوه حرف آواز جاري ساتل وغواړي نو دا نه سي کولای یعني امکان یې نه سته، نو اصلي تعریف داسي دئ چي حرف په داسي ټینګي او سختي سره ادا سي چي د سکون په حالت کي آواز بند سي. لکه: اَقْ.

[۴] د دې مجموعې معنا دا ده: ما ته تروش مخی پیدا کړې.

[۵] د را په کسره سره رِخوت په لغت کي نرموالي ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نرمي وي[۱] او د شديده او متوسطه حروفو څخه ماسېوا نور ټول حروف رخوه دي او د متوسطه بيان هم را روان دئ.

د همس او جهر په ډول شدت او رخوت هم يو د بل مقابل (ضد) دي او د دې دواړو صفتو په مابين کي يو بل صفت دئ.

**توسط:** [۲]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي هغو ته متوسطه او بينيه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي آواز په دې حروفو کي نه پوره بند وي او نه پوره جاري وي. [۳] (حقيقة التجويد)

داسي حروف پنځه دي مجموعه يې دا ده: لِنْ عُمَرُ. [۴]

دا توسط جلا صفت نه شمېرل کېږي ځکه په دې کي يو څه شدت او يو څه رخوت دئ نو د دې دواړو صفتو څخه جلا صفت نه سو.

---

[۱] د تعريف خلاصه يې دا ده: چي آواز په خپل مخرج کي په داسي کمزورۍ سره ودرېږي چي په آواز کي يو ډول نرمي وي او د نرمي علامه دا ده چي د سکون په حالت کي د رخوه حروفو آواز جاري سي. د مثال په ډول: اَسْ.

[۲] توسط په لغت کي د يو شي مابين ته وايي او اصطلاحي تعريف او مطلب يې خپله مصنف رحمه الله ذکر کړي دي. بله دا خبره ياد ساتل پکار ده چي توسط جلا صفت نه دئ ځکه که چيري بل صفت وګڼل سي نو صفتونه اتلس (۱۸) کېږي او حال دا دئ چي صفتونه اوولس (۱۷) دي. ځکه په توسط کي نه پوره شدت او نه پوره رخوت دئ نو ځکه توسط يو مستقل صفت نه بلل کېږي بلکي د شدت او رخوت ترمنځ يو صفت دئ.

[۳] يعني نه د شديده په ډول سختي پکښي سته او نه د رخوه په ډول نرمي پکښي سته بلکي د دواړو صفتونو تر مابين يو منځنی حالت دئ. خلاصه دا ده چي په دې صفت کي شدت ناقصه او رخوت ناقصه سته يعني دواړه صفتونه پکښي ناقص دي پوره نه دي.

[۴] د دې مجموعې معنا دا ده: نرم سه اې عمره!

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شبه:** [۱]

په دې ځای کې یوه شبه ده، هغه دا ده چې حرف تا او حرف کاف یې په مهموسه کې هم شمېرلي دي په داسي حال کې چې په دې کې هم آواز بندېږي او د دې سببه یې په شدیده وو کې هم شمېرلی دي؟

د دې جواب دا دئ چې په دې دواړو حروفو کې همس کمزوری (ضعیف) دئ شدت زورور (قوي) دئ، نو د شدت د قوي کېدو په سبب خو به آواز بند سي خو د لږ همس کولو وروسته یو څه اندازه ساه هم جاري وي خو په دې ساه جاري کېدو کې هم ډېر احتیاط ساتل پکار دئ. ځکه که چیري آواز جاري سي نو کاف او تا به شدیده نه سي پاته بلکي رخوه به سي او دوهم دا چې په دې کې به د ها آواز پیدا سي او غلط به سي.

**(۵) استعلاء:** [۲]

په کومو حروفو کې چې دا صفت پیدا سي هغو ته مستعلیه وایي. مطلب د دې صفت دا دئ چې د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کې همېشه د ژبې پای (اقصی اللسان) لوړ تالو ته پورته کېږي چې د هغه د لوړېدو په وجه دا حروف

---

[۱] په دغه شبه کې یو اعتراض واردېږي، د اعتراض خلاصه دا ده: چې حرف تا او حرف کاف دي په مهموسه کې هم شمېرلي دي او په شدیده کې دي هم شمېرلي دي نو دا څنګه کېدای سي چې په یوه حرف کې دي د همس په خاطر ساه جاري وي او د شدیده په خاطر دي آواز بند وي؟ موږ د دې اعتراض له پاره دوه جوابونه ورکوو؛ اول جواب دا دئ: چې په دې حروفو کې شدت قوي دئ خو د لږ همس سره ډېر نه. دوهم جواب دا دئ: چې تا به دا اعتراض هغه وخت کولای که چیري همس او شدت سره ضد وایي، موږ مخکې وویل چې د صفاتو تضاد بالمقابل دئ. د همس ضد جهر دئ ځکه که چیري یو سړی چپ وي د هغه آواز خو بند وي نو آیا د هغه ساه هم بنده وي او داسي نه ده.

[۲] استعلاء په لغت کې لوړوالي ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډک ویل کېږي او داسي حروف اووه (۷) دي چي مجموعه يې دا ده: خُصَّ ضَغْطٍ قِظْ.

**(٦) استفال:** [۱]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته مستفله وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي د ژبي پای (اقصی اللسان) و لوړ تالو ته نه پورته کېږي چي د نه پورته کېدو په وجه دا حروف باریک ویل کېږي.

د مستعلیه حروفو څخه ماسېوا نور ټوله حروف مستفله دي او دا دواړه صفتونه یعني استعلاء او استفال هم یو د بل مقابل (ضد) دي.

**(۷) اطباق:** [۲]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته مطبقه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروف د ادا کېدو په وخت کي د ژبي مابین (وسط اللسان) د لوړ تالو سره موښلي او داسي حروف څلور دي: (ص، ض، ط، ظ).

**(۸) انفتاح:** [۳]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته منفتحه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي د ژبي مابین (وسط اللسان) د لوړ تالو څخه جلا وي که څه هم د ژبي پای (اقصی اللسان) د پورته

---

[۱] استفال په لغت کي کښته والي ته وايي.

[۲] اطباق په لغت کي چسپېدلو ته وايي. یعني یو شی چي په بل شي پوري چسپ سي. په اطباق کي وسط اللسان د مقابل تالو سره چسپېږي.

[۳] انفتاح په لغت کي خلاصوالي ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


تالو سره و موښلېږي لکه څنګه چي په قاف کي موښلي او که و نه موښلېږي. (جهد المقل مع شرح)

د مطبقه حروفو څخه ماسېوا نور ټول حروف منفتحه دي او دا دواړه صفتونه يعني اطباق او انفتاح يو د بل مقابل (ضد) دي.

**(۹) اذلاق:** [۱]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي هغو ته مذلقه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي دا حروف د ژبي او شونډانو د کنارې څخه ډېر په آسانۍ او ژر سره ادا کېږي او داسي حروف شپږ (٦) دي چي مجموعه يې دا ده: فَرَّ مِنْ لُبٍّ. [۲]

يعني په دې کي چي کوم حروف شفوي دي هغه د شونډانو د کنارې څخه ادا کېږي او د شفويه مطلب په شپاړلسم مخرج کي تېر سوی دئ او کوم چي شفويه نه دي هغه د ژبي د کنارې څخه ادا کېږي. (درة الفريد للشيخ الدهلوی رحمه الله)

**(۱۰) اصمات:** [۳]

---

[۱] اذلاق په لغت کي طرف يا بغل ته وايي.

[۲] د دې مجموعې معنا دا ده: د عقل خاوند د بې عقل د مجلس څخه وتښتېدي، ځکه د ده عقل دا اجازه نه ورکوي چي د بې عقله سره کښېني.

[۳] اصمات په لغت کي سختي ته وايي.

**يادونه**: د څلورو صفتو پر بنياد په قرآن کريم کي چي څومره حروف دي هغه پر درې (۳) قسمه دي او هغه څلور صفتونه دا دي: استعلاء، استفال، انفتاح او اطباق. **اول قسم** يې مستعليه مطبقه دي چي دا څلور حروف دي: ص، ض، ط، ظ. دا څلور حروف همېشه ډک ويل کېږي ځکه چي په دې څلورو حروفو کي د ژبي پای (اقصی اللسان) او د ژبي مابين=

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کومو حروفو کي چي دا صفت پیدا سي هغو ته مصمته وایي. مطلب د دي صفت دا دئ چي دا حروف د خپل مخرج څخه په مضبوطي او سختي سره ادا کېږي، په آساني او ژر سره نه ادا کېږي.

د مذلقه حروفو څخه ماسېوا نور ټوله حروف مصمته دي او دا دواړه صفتونه یعني اذلاق او اصمات یو د بل مقابل (ضد) دي.

دي لسو (۱۰) صفتو ته صفات لازمه متضاده وایي ځکه چي یو د بل مقابل (ضد) دي.

لکه مخکي چي موږ وویل چي مخته کوم صفات راځي هغو ته "**غیر متضاده**" وایي او د صفات متضاده وو څخه هیڅ حرف خالي نه پاته کېږي، بلکي څومره حروف چي دي پر هر حرف باندي د مقابل صفتو څخه یو نه یو صادقېږي. او صفات غیر متضاده په بعضو حروفو کي وي او په بعضو حروفو کي به نه وي "**صفات غیر متضاده**" دا دي:

**(۱۱) صفیر:** [۱]

---

=(وسط اللسان) مقابل تالو ته پورته کېږي او په کومو حروفو کي چي د ژبي مابین او د ژبي پای مقابل تالو ته پورته سي هغه حروف همېشه ډک ویل کېږي. **دوهم قسم** یې مستعلیه منفتحه دي چي دا درې حروف دي: خ، غ، ق. دا درې حروف همېشه متوسط ویل کېږي یعني نه ډک او نه باریک، ځکه د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي د ژبي مابین مقابل تالو ته نه پورته کېږي او په کومو حروفو کي چي یوازي د ژبي پای مقابل تالو ته پورته سي هغه همېشه متوسط ویل کېږي. **درېیم قسم** یې مستفله منفتحه دي او دا حروف د مستعلیه مطبقه او مستعلیه منفتحه څخه ماسېوا نور ټوله حروف مستفله منفتحه دي، ځکه په کومو حروفو کي چي نه د ژبي مابین مقابل تالو ته پورته سي او نه د ژبي پای مقابل تالو ته پورته سي هغه حروف همېشه باریک (تش) ویل کېږي.

[۱] صفیر په لغت کي شپیلکي ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي هغو ته صفيريه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي يو تېز آواز د شپېلکي په ډول راوزي او داسي حروف درې (۳) دي: ص، ز، س.[۱]

**(۱۲) قلقله:**[۲]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي هغو ته حروف قلقله وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي د سکون په حالت کي د دې حروفو د ادا کېدو په وخت کي په مخرج کي حرکت پيدا کېږي.[۳]

داسي حروف پنځه دي چي د هغو مجموعه دا ده: **قُطْبُ جَدٍّ.**[۴]

**(۱۳) لين:**[۵]

په کومو حروفو کي چي دا صفت پيدا سي هغو ته حروف لينيه وايي. مطلب د دې صفت دا دئ چي دا حروف د خپل مخرج څخه په داسي نرمي ادا

---

[۱] صفير پر درې (۳) قسمه دي؛ **اول قسم** يې صفير اعلیٰ دئ چي هغه په حرف زا کي دئ. **دوهم قسم** يې صفير متوسط دئ چي هغه په حرف سين کي دئ. **درېيم قسم** يې صفير ادنیٰ دئ چي هغه په حرف صاد کي دئ.

[۲] قلقله په لغت کي حرکت او جُنبش ته وايي.

[۳] قلقله پر دوه ډوله ده؛ يوه قلقله کُبریٰ او بله قلقله صُغریٰ ده. قلقله کبریٰ هغه ده چي حرف د قلقلې د کلمې په پای کي راسي او هغه حرف به ساکن وي، سکون که عارضي وي او که اصلي. دوهم ډول يې قلقله صُغریٰ ده هغه دا ده چي حرف د قلقلې د کلمې په مابين کي راسي او هغه حرف به ساکن وي په سکون اصلي سره ځکه قلقله پر ساکن حرف باندي کېږي.

[۴] د دې مجموعې معنا دا ده: د نېکبختۍ مدار او يا د نېکبختۍ ستوری او يا د بزرګۍ ستوری.

[۵] لين په لغت کي نرمي ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


كېږي كه چيري ځوک پر دې باندي مد كول وغواړي كولای سي چي مد پر وكړي.[۱]

داسي حروف دوه (۲) دي: واؤ ساكن او ياء ساكنه هر كله چي د دوی پر ماقبل (مخكي) حرف باندي فتحه (زور) وي. لكه: مِنْ خَوْفٍ، وَالصَّيْفِ.

**(۱۴) انحراف:**[۲]

په كومو حروفو كي چي دا صفت پيدا سي هغو ته منحرفه وايي او داسي حروف دوه (۲) دي: لام او را.

مطلب د دې صفت دا دئ چي د دې حروفو د ادا كېدو په وخت كي په لام كي د ژبي د كنارې و طرفته او په را كي د ژبي شاه (ظهر اللسان) او څه د لام و مخرج ته مېلان پيدا سي.[۳] (يعني د لام د ادا كېدو په وخت كي د را و مخرج

---

[۱] يعني د حروف مده آواز د جوف دهن څخه راوزي په دوی كي د آواز اوږدولو پوره پراخي (وسعت) سته. خو هر كله چي د حروف لينيو مخرج معلوم وو نو ځكه په دوی كي د آواز اوږدولو هيڅ امكان نه سته. ليكن د مد فرعي په احوالو كي به معلومه سي چي د مد بعضي صورتونه داسي دي چي په هغو كي د مد محل حروف لين وي او هغه كشېږي يعني مد پر كېږي. د دې اعتراض د دفع كولو له پاره د تجويد علماوو په حروف لين كي داسي نرمي غوره كړه چي پر دوی باندي مد كېدای سي همدغه نرمي ده چي د لين صفت ورته ويل كېږي او د مصنف رحمه الله دا عبارت د فكر كولو وړ دئ "چي كه چيري ځوک پر دې باندي مد كول وغواړي كولای سي چي مد پر وكړي".

[۲] انحراف په لغت كي ميلان ته وايي.

[۳] په لام او را كي د انحراف مطلب دا دئ چي په دې دواړو كي د خپل مخرج څخه د متجاوز كېدو او يو او بل ته د مايل كېدو او ګرځېدو حالت پيدا كېږي. څنګه چي لام د حافة اللسان څخه شروع كېږي او وروسته د طرف اللسان يعني د را و مخرج ته ميلان كوي. او را چي كله د طرف اللسان څخه شروع كېږي نو وروسته و ظهر اللسان او يو څه د لام و مخرج ته =

(c) ketabton.com: The Digital Library


ته مېلان وي او د را د ادا کېدو په وخت کي د لام و مخرج ته مېلان وي. (درة الفريد)

**(۱۵) تکرير:** [۱]

دا صفت يوازي په حرف را کي دئ. مطلب د دې صفت دا دئ چي څنګه چي د دې د ادا کېدو په وخت کي په ژبه کي يوه لړزه يعني رېږدېدل وي له دې وجهي په دغه وخت کي د تکرار مشابهت وي. [۲]

دا مطلب نه دئ چي په دې کي تکرار ښکاره کړل سي ځکه چي دا بيا هم يو حرف دئ زيات حروف نه دي. [۳] (دُرة الفريد ملخصاً)

---

=ميلان کوي، نو د دې وجهي کوچنی چي کله خبري زده کوي نو د لام پر ځای را وايي. لکه د راکړه پر ځای "لاکه" او د راوړه پر ځای "لاوله" چي د دې انحراف په وجه د هغه څخه د را پر ځای لام ادا کېږي. (نهاية القول: ص: ۵۲)

[۱] تکرير په لغت کي لړزه يا رپېدو ته وايي.

[۲] د تکرير تعريف دا دئ(د حرف د ادا کېدو په وخت کي په ژبه کي لړزه وي الخ) او دا صفت يوازي په را کي دئ او دا بايد په داسي نرمي يا لطافت سره ادا کړل سي چي را مکرره نه سي او دا هغه وخت مکرره کېږي چي کله په ويلو کي د دې صفت د ښکاره کولو ښه کوښښ وسي. حقيقت دا دئ چي د دې صفت پټول پکار دئ ځکه چي د لړزې يا رپېدو د آواز سره څه تعلق د دئ؟ که څه هم مشدده وي. لکه: كَرَّةٌ او مَرَّةٌ. او په را کي د اذلاق همدغه تقاضا او غوښتنه ده.

[۳] دلته يوه خبره ياد ساتل ضروري ده چي تکرير پر درې (۳) قسمه دي: **اول عين تکرير دئ:** عين تکرير دا دئ چي يو حرف هم په خپل مخرج کي او هم په صفت کي مکرر سي. **دوهم مشابه بالتکرير دئ:** مشابه بالتکرير دا دئ چي يو حرف په مخرج او په صفاتو کي يو وي خو سامع يا اورېدونکی دا فکر وکړي چي تکرير يې وکړي. **درېيم عدم تکرير دئ:** عدم تکرير دا دئ چي يو حرف نه په مخرج کي وويل سي او نه په صفاتو کي وويل=

(c) ketabton.com: The Digital Library


**(۱٦) تفشي:** [۱]

دا صفت يوازي په شين كي دئ. مطلب د دې صفت دا دئ چي د شين د ادا كولو په وخت كي آواز دننه په خوله كي پاشل كېږي. (درة الفريد)

**(۱۷) استطالت:** [۲]

دا صفت يوازي په ضاد كي دئ. مطلب د دې صفت دا دئ چي د ضاد د ادا كېدو په وخت كي د مخرج د شروع ځخه د مخرج تر پاى پوري[۳] يعني د ژبي د حافې (حافة اللسان) د اول ځخه تر آخره پوري آواز جاري وي.

---

=سي. نو دلته مراد مشابه بالتكرير دئ، ځكه كه عين تكرير مراد سي نو په قرآن كريم كي به د ځان ځخه حروف زيات سي او دا لحن جلي دئ او نه عدم تكرير مراد دئ ځكه په قرآن كريم كي به حروف كم سي او دا هم لحن جلي دئ او لحن جلي حرام دئ، نو ځكه دلته زموږ مراد مشابه بالتكرير دئ.

[۱] تفشي په لغت كي پاشلو ته وايي.

[۲] استطالت په لغت كي اوږدوالي ته وايي.

[۳] د دې عبارت ځخه دا ښكاره سوه چي د ژبي د حافې اِبتدا د نواجذو د مقابل ځخه كېږي او دغه اقصىٰ يي حافه ده او انتهاء يې په هغه برخه باندي كېږي كوم چي د ضواحكو مقابل دئ او همدغه ادنىٰ يي حافه ده، د كوم ځخه چي د لام د مخرج ابتدا كېږي خو د مخرج د اوږدوالي په وجه په آواز كي هم يو څه اوږدوالي راځي. په ضاد او ظا كي لوي فرق خو د مخرج دئ ځكه چي د دواړو مخارج جلا جلا دي خو يو څه فرق يې په استطالت سره هم كېږي چي دا صفت يوازي په ضاد كي دئ او په پاته نورو صفاتو كي چي متضاده دي دواړه مشترک دي. د دې صفاتو د اشتراک په وجه ويل سوي دي چي ضاد مشابه بالظاء دئ دا تشابه او مشابهت قائمول او د عين ظا ځخه د ساتلو مسئله د دې فن يوه نازكه مسئله ده چي د دې فرق ساتلو له پاره د مشاقو استادانو ځخه استفاده كول ضروري ده. بيا دا هم ياد ساتل پكار دي چي د آواز په اوږدولو كي دي مبالغه نه كوي ځكه چي دا اوږدوالي يو معمولي او لږ دئ د يوه الف د اندازې ځخه هم كم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يعني د ضاد مخرج چي څومره اوږد دئ نو په پوره مخرج كي د آواز د جاري كېدو له وجهي به آواز هم اوږد سي. (جهد المقل)

**لومړۍ فايده:**

كه څيري و يو چا ته دا شبه (شک) وي چي دا اووه (۷) صفتونه چي په آخر كي ذكر سول په كومو حروفو كي چي دا صفتونه نه وي په هغو كي به د دې صفتونه ضد خامخا وي. د مثال په ډول په ضاد كي د استطالت صفت دئ نو په پاته ټولو حروفو كي به عدم استطالت وي، نو دا دواړه ضده چي سره يو ځاى سول نو ټولو حروفو لره شامل سول، نو بيا د صفات لازمه متضاده او غير متضاده وو څه فرق سو؟

د دې جواب دا دئ چي دا خو صحيح ده خو په صفاتو متضاده وو كي د هر صفت د ضد لپاره ترلپ نوم هم وو[1] او د دواړو نومو څخه به پر هر حرف باندي يو نه يو نوم صادقېږي. دلته څنګه چي د ضد نوم نه سته له دې وجهي د ضد د صادق كېدلو اعتبار و نه كړل سو، په دې دواړو صفتو كي دا فرق سو.

**دوهمه فايده:**

يوازي د مخارجو او صفاتو ته د كتلو په وجه د خپل صحيح ادا كېدو يقين مه كوئ. په دې كي د يو مشاق استاذ څخه د مشق (تمرين) كولو ضرورت دئ. كه چيري داسي يو استاذ درته پيدا نه سي نو بالكل د بې خبره پاته كېدو پر ځاى د تجويد د كتابو څخه ګټه اخيستل هم غنيمت دئ.

---

[1] د نوم د نه كېدو وجه دا ده چي عدم استطالت څه مفهوم وجودي نه دئ بلكي مفهوم سلبي دئ او د شيانو (اشياء) تعريفونه د حقائق ثابته وو او نفس الامري مفهوم په مقابله كي كېږي، د دې سببه عدم استطالت نه يو صفت وګڼل سو او نه ورته څه نوم تجويز سو داسي كول د علمي شان څخه منافي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درېيمه فايده:**

د دې روښنايي په اول کي د صفت لازمه ذاتيه په تعريف کي ليکل سوي دي چي که چيري هغه صفت ادا نه سي نو هغه حرف به پاته نه سي. دا حرف نه پاته کېدل پر څو قسمه دي:

يو دا چي په بل حرف بدل سي.[(۱)] دوهم دا چي هغه حرف خو وي ليکن په هغه کي څه کمي او نقصان راسي.[(۲)] درېيم دا چي د هغه حرف عربيت پاته نه سي (يعني عجمي سي) بلکي د ځانه جوړ سوی حرف سي.[(۳)]

همدا حال دئ د صحيح مخارجو څخه د حروفو د نه ادا کولو چي کله يو حرف سي او کله بل حرف سي، کله په هغه کي څه کمي راسي او کله بالکل د ځانه جوړ سوی حرف سي په داسي تېروتنو سره بعضي وختونه لمونځ هم فاسدېږي، له دې وجهي که چيري داسي غلطي وسي نو خاص د دغه ځای پوښتنه کول او د يوه معتبر عالم څخه د دې مسئلې پوښتنه کول ضروري ده.

همدا رنګه د زور، زير يا کموالي او زياتوالي د تېروتنو همدغه حکم دئ چي د هغه مثالونه په دوهمه روښنايي کي ذکر سول. که چيري داسي د زور، زير او نوري داسي تېروتني وسي هم دي د يوه معتبر عالم څخه د مسئلې پوښتنه وکړل سي.

---

(۱) د مثال په ډول که چيري په حرف طا کي د استعلاء او اطباق صفت ادا نه سي نو حرف تا به سي.

(۲) د مثال په ډول قلقله و نه کړي يا په حرف شين کي تفشي و نه کړي.

(۳) يعني يو غير عربي حرف سي. د مثال په ډول دال په ډال سره بدل سي. موږ د ماليزيا په خلکو کي د دې ليدنه کړې ده چي دوی د دال پر ځای ډال وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځلورمه فایده:**

په حروفو کي چي د مخارجو او صفات لازمه په سبب سره چي کومي نیمګړتیاوي کېږي د فن تجوید اصلي مقصد د هغو تېروتنو څخه ځان ساتل دئ. له همدي وجهي مو د مخارجو او صفاتو بیان د ټولو قاعدو څخه مخکي راوړي. اوس چي د صفات محسنه[1] متعلق قاعدې راځي، هغه د دې ذکر سوی مقصد څخه په دوهمه درجه کي دي خو اوس په عام ډول سره د دې دوهمي درجې د قواعدو لحاظ تر هغه اصلي مقصد زیات کېږي. د هغه وجه دا ده چي په دې قواعدو سره نغمه ښایسته کېږي او عام خلک د نغمې زیات خیال ساتي او د مخارجو او د صفات لازمه وو په نغمه کي هیڅ دخل نه ستهِ له دې وجهي و دې ته توجه کمه کوي.

**پنځمه فایده:**

لکه څنګه چي دا د بې پرواهي خبره ده چي څوک په تجوید کي کوښښ نه کوي، همدا ډول زیاتی (تجاوز) بلل کېږي چي لږ قواعدي یادي کړي نو ځان کامل (پوره) وګڼي او نور حقیر، خوار او د هغوی لمونځونه فاسد وګڼي، یا په چا پسي لمونځ نه کوي. محقیقینو علماوو د عامو مسلمانانو د ګناهګاره کېدو او د هغوی د لمونځونو د نه صحیح کېدو حکم نه دي کړی. په دې کي د اعتدال درجه قائمول د هغو علماوو کار دئ کوم چي د قرآئت د ضروري ګڼلو

---

[1] محسنه یعني حروفو ته ښایست ورکوونکي صفتونه، محلیه یعني حروفو ته زینت ورکوونکي صفتونه خو دې صفاتو ته اکثره علماء صفات عارضه وایي. مطلب دا چي په دا صفتونه په حروفو کي همېشه نه وي بلکي کله وي او کله نه وي او که چیري دا صفتونه ادا نه سي نو د حروفو و ذات او حقیقت ته هیڅ تاوان نه رسېږي خو په ښایست کي یې فرق راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره سره په فقه او حدیثو باندي هم نظر ساتي، د دې مسئلې تحقیق په دوهمه روښنایي کي وګورئ.

# د حروفو د صفاتو اجمالي نقشه

**یادونه:**

د دغه اوولسو (۱۷) صفاتو پر بنیاد باندي ټوله حروف پر پنځه (۵) قسمه دي:

۱. اقوی: هغه حروفو ته وایي چي ټول صفات یې د قوت وي، که یو صفت د ضُعف پکښې وي پروا نه لري.

۲. قوي: هغه حروفو ته وایي چي ټول صفات یې د قوت وي او لږ یې د ضُعف وي.

۳. متوسط: هغه حروفو ته وایي چي بعضي صفات یې د قوت وي او بعضي صفات یې د ضُعف وي.

۴. ضعیف: هغه حروفو ته وایي چي ټول صفات یې د ضُعف وي، که یو صفت د قوت پکښې وي پروا نه لري.

۵. ضعیف: هغه حروفو ته وایي چي ډېر صفات یې د ضُعف وي او لږ یې د قوت وي.

| شمېره | حروف | صفات | | | | | | | تعداد | درجه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | ا | جهر | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۲. | ب | جهر | شدت | استفال | انفتاح | اذلاق | قلقله | . | ٦ | متوسط |
| ۳. | ت | همس | شدت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۴. | ث | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۵. | ج | جهر | شدت | استفال | انفتاح | اصمات | قلقله | . | ٦ | قوي |
| ٦. | ح | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | اضعف |
| ۷. | خ | همس | رخوت | استعلاء | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۸. | د | جهر | شدت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ٦ | قوي |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۹. | ذ | جهر | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۱۰. | ر | جهر | توسط | استفال | انفتاح | اذلاق | انحراف | تکریر | ۷ | متوسط |
| ۱۱. | ز | جهر | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | صفیر | . | ٦ | متوسط |
| ۱۲. | س | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | صفیر | . | ٦ | ضعیف |
| ۱۳. | ش | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | تفشي | . | ٦ | ضعیف |
| ۱۴. | ص | همس | رخوت | استعلاء | اطباق | اصمات | صفیر | . | ٦ | قوي |
| ۱۵. | ض | جهر | رخوت | استعلاء | اطباق | اصمات | استطالت | . | ٦ | اقوی |
| ۱٦. | ط | جهر | شدت | استعلاء | اطباق | اصمات | قلقله | . | ٦ | اقوی |
| ۱۷. | ظ | جهر | رخوت | استعلاء | اطباق | اصمات | . | . | ۵ | اقوی |
| ۱۸. | ع | جهر | توسط | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | قوي |
| ۱۹. | غ | جهر | رخوت | استعلاء | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | قوي |
| ۲۰. | ف | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اذلاق | . | . | ۵ | اضعف |
| ۲۱. | ق | جهر | شدت | استعلاء | انفتاح | اصمات | قلقله | . | ٦ | اقوی |
| ۲۲. | ک | همس | شدت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۲۳. | ل | جهر | توسط | استفال | انفتاح | اذلاق | انحراف | . | ٦ | متوسط |
| ۲۴. | م | جهر | توسط | استفال | انفتاح | اذلاق | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۲۵. | ن | جهر | توسط | استفال | انفتاح | اذلاق | . | . | ۵ | ضعیف |
| ۲٦. | و | جهر | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | لین | . | ٦ | ضعیف |
| ۲۷. | ه | همس | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | اضعف |
| ۲۸. | ء | جهر | شدت | استفال | انفتاح | اصمات | . | . | ۵ | قوي |
| ۲۹. | ی | جهر | رخوت | استفال | انفتاح | اصمات | لین | . | ٦ | ضعیف |



(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږمه روښنايي

پوهېدل پکار دي چي دا صفتونه په ټولو حروفو کي نه دي، يوازي په اتو (۸) حروفو کي دي[۱] چي په مختلفو حالاتو کي د مختلفو صفاتو رعايت کېږي هغه حروف دا دي:

لام، را، ميم ساکن او مشدد، نون ساکن او مشدد او په نون ساکن کي تنوين هم داخل دي که څه هم په ليکلو کي نون نه دئ خو په ويلو کي نون دئ. د مثال په ډول پر با چي دوه زوره وي نو بَنْ ويل کېږي.[۲]

---

[۱] ليکن د دې خبري مطلب دا نه دئ چي په فن تجويد کي يوازي او يوازي د اتو (۸) حروفو صفات عارضيه دي، ځکه د فن تجويد په کتابو کي د ادغام صغير او ادغام کبير ذکر هم سته کوم چي صفات عارضيه دي او په ډېرو حروفو کي پيدا کېږي. بلکي مطلب دا دئ په دې کتاب کي کوم چي د ابتدايي زده کوونکو له پاره دي او مختصر دئ يوازي د اتو (۸) حروفو صفات عارضيه ذکر کېږي د دغه اتو (۸) حروفو مجموعه دا ده: اَوْيَرْمَلَانِ.

[۲] نون ساکن هغه نون دئ چي مرسوم وي (ليکل سوی وي) او پر هغه باندي حرکت نه ويل کېږي. تنوين هغه نون ساکن دئ چي د اسم په آخر کي راسي او مرسوم نه وي. د نون ساکن او تنوين څلور مشهور توپيرونه دا دي: ۱- نون ساکن په وقف او وصل دواړو حالتو کي ويل کېږي او نون تنوين يوازي په وصل کي ويل کېږي په وقف کي نه ويل کېږي. ۲- نون ساکن هر ځای مرسوم يعني ليکلی وي ماسيوا د دې څو لفظو څخه "لَيَكُوْنًا" (سورة يوسف) او "لَنَسْفَعًا" (سورة العلق) چي دا نون تنوين نه دئ او ماسيوا د "كَاَيِّنْ" د لفظ څخه چي هر ځای راسي. ۳- نون ساکن د کلمې په مابين کي او پای کي راتلای سي او تنوين همېشه =

(c) ketabton.com: The Digital Library


الف چي همېشه د هغه مخکي زور وي، واؤ ساکن چي د هغه مخکي پېښ يا زور وي، ياء ساکنه چي هر کله د هغې مخکي زير يا زور وي، څلورمه روښنايي اول مخرج د الف او همزې فرق او حقيقت بيان سوی دئ بيا يې وګورئ.

په دغه حروفو کي ځيني داسي صفتونه سته چي بې له د استاد د ښوولو څخه ادا کېږي، د هغو صفاتو د بيانولو ضرورت نه سته. د مثال په ډول د الف، واؤ او ياء چيري ثابت پاته کېږي او چيري حذف کېږي. دلته يوازي هغه صفتونه ذکر کېږي چي په يوازي ويلو سره سړی نه په پوهېږي[1] بلکي په خپله اراده غواړي لکه ډک ويل، باريک ويل، غنه کول يا نه کول او مد کول يا نه کول. اوس د دې اتو (۸) حروفو قاعدې جلا جلا ذکر کېږي.

---

=د کلمې په آخر کي راځي. ۴-نون ساکن د کلمې په درو ډولو (اسم، فعل، حرف) کي وي او نون تنوين همېشه د اسم په آخر کي وي.

[1] د مثال په ډول د التقاء ساکنين په سبب اول ساکن حرف مده حذف کول. لکه: اَقِيۡمُوۡا الصَّلٰوةَ. يا کسره ورکړي او و يې وايي لکه: قُلِ ادۡعُوا اللّٰهَ او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اوومه روښنايي

## (دلام په قاعدو کي)

د "الله" په لفظ کي چي کوم لام دئ د دې څخه مخکي که چيري زور لرونکی یا پيښ لرونکی حرف وي نو دغه لام به ډک ویل کيږي. د مثال په ډول: اَرَادَاللهُ، رَفَعَهُ اللهُ او دې ډک ویلو ته تفخیم ویل کيږي.[۱]

که چيري د دې څخه مخکي زير لرونکی يو حرف وي نو هغه لام باريک ویل کيږي. د مثال په ډول: بِسۡمِ اللهِ او دې باريک ویلو ته ترقيق وايي.

د "الله" د لفظ څخه ماسوا نور ټول لامونه باريک ویل کيږي. د مثال په ډول: مَاوَلّٰهُمۡ او كُلَّهٗ.

**يادونه:**

د "اَللّٰهُمَّ" په لفظ کي هم همدا قاعده ده کومه چي د "الله" په لفظ کي ده، ځکه چي د دې په اول کي هم لفظ د "الله" سته.[۲]

---

[۱] د تفخیم معنا ده ډک ویل. لکه څنګه چي په حروفو مستعليه او مطبقه وو کي شونډي را ټولول نه دي پکار همدا ډول په لام مُفخمه کي هم د دې خبري خيال ساتل پکار دئ چي شونډي ګول نه سي او د اسم جلاله په لام کي تفخیم هم پوره وسي.

[۲] د دې قاعدې سره سم به د "سُبۡحَانَکَ اللّٰهُمَّ" او "قَالُوا اللّٰهُمَّ" لامونه به ډک ويل کيږي. او د "قُلِ اللّٰهُمَّ مَالِکَ الۡمُلۡکِ" لامونه به باريک ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اتمه رونبنايي

## (د را په قاعدو كي)

**لومړۍ قاعده:**

كه چيري پر را باندي زور يا پيښ وي هغه را به ډكه ويل كيږي. د مثال په ډول: رَبُّكَ، رُبَمَا. او كه چيري پر را باندي زير وي[1] نو هغه را به باريكه ويل كيږي. د مثال په ډول: رِجَالٌ.

**يادونه:**

را مشدده هم يوه را ده، د هغې خپل حركت ته اعتبار دئ چي ډكه ويل كيږي او كه باريكه ويل كيږي.

---

[1] را مكسوره بالاتفاق باريكه ويل كيږي كه كسره لازمي وي لكه: رِجَالٌ، يا عارضي وي لكه: وَ اَنْذِرِ الَّذِيْنَ، يا كسره كامله وي لكه مثالونه چي يې تېر سول، يا كسره ناقصه وي لكه پر وَالْفَجْرِ چي وقف بالروم وسي، يا لكه په مَجْرِـهَا كي چي را مماله ده. دغه مكسوره را په مابين كي وي لكه: تَحْرِمُ، يا په طرف كي وي لكه: وَ الْقَمَرِ(د وصل په حالت كي). منونه يعني تنوين لرونكې وي لكه: مُقْتَدِرٍ، يا غير منونه يعني تنوين لرونكې نه وي مثال يې تېر سوى دئ او يا د دغه را مكسورې ماقبل ساكن وي لكه: الدَّارِ، يا متحركه وي لكه: اَرِنَا. واضحه خبره دا ده كه چيري د را وروسته حروف مستعليه راسي لكه: الرِّقَابِ، يا مستفله حروف راسي لكه: رِزْقًا، كه مشدد وي او كه مخفف وي لكه څنګه چي مخكي يې مثالونه تېر سول. (نهاية القول المفيد، صـ: ٩٠)

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مثال په ډول د سِرًّا را به ډکه ویل کېږي او د دُرِّيٌّ را به باریکه ویل کېږي.
دغه قاعده به په راتلونکي دوهمه قاعده کې نه داخله وي لکه بعضي ناخبره کسان دغه دوې (۲) را ګڼي اوله ساکنه او دوهمه متحرکه دا خبره غلطه ده.

**دوهمه قاعده:**

که چیري را ساکنه وي[(۱)] نو د هغې څخه د مخکي حرف حرکت ته کتل پکار دئ چي پر هغه باندي کوم حرکت دئ؟ که چیري زور یا پېښ وي نو هغه را به ډکه ویل کېږي. د مثال په ډول: بَرْقٌ او يُرْزَقُوْنَ. او که چیري زیر وي[(۲)] نو هغه را به باریکه ویل کېږي. د مثال په ډول: وَاَنْذِرْهُمْ. خو د دې را د باریک ویلو له پاره درې (۳) شرطونه دي:

**اول شرط دا دئ:**

چي دا زیر به اصلي وي عارضي به نه وي، ځکه که چیري دا زیر عارضي وي بیا دا را باریکه نه ویل کېږي بلکي ډکه ویل کېږي. لکه: اِرْجِعُوْا. وګورئ چي را ساکنه هم ده او د هغې څخه مخکي حرف چي همزه دئ زیر هم لري خو لکه څنګه چي دا زیر[(۳)] عارضي[(۱)] دئ له دې سببه دا را ډکه[(۲)] ویل کېږي.

---

(۱) که د را حرکت اصلي وي لکه: وَانْحَرْ، یا عارضي وي لکه پر وَ دُسُرٍ او وَ نَهَرٍ باندي چي وقف وسي نو را ډکه ویل کېږي که څه هم سکون عارضي دئ.

(۲) را چي ساکنه وي ماقبل یې مکسور وي دغه را باریکه ویل کېږي که څه هم دا سکون اصلي وي. لکه: فَانْتَصِرْ، یا عارضي وي یعنې د وقف په سبب وي. لکه: حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ.

(۳) لِدَفْعِ تَعَذُّرِ الْاِبْتِدَاءِ بِالسُّكُوْنِ. یعني د همزه وجود په دې خاطر دئ چي په کلام عربي کي ابتدا په ساکن سره محاله او مشکله ده. منه رح

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیکن بې له د عربي کتابو د ویلو څخه د دې پېژندنه نه سي کېدای چي کسره یعني زیر اصلي په کوم ځای کي دئ او زیر عارضي په کوم ځای کي دئ. په کومو ځایو کي چي تاسو ته شک یا شبه پیدا سي د یو عربي پوه څخه پوښتنه وکړئ او په دې قاعده باندي عمل وکړئ.

**دوهم شرط دا دئ:**

چي دا زیر او را به دواړه په یوه کلمه کي وي او که چیري په دوو (۲) کلمو کي وي[۳] نو بیا دا را باریکه نه ویل کېږي بلکي ډکه ویل کېږي. د مثال په ډول: رَبِّ ارْجِعُوْنَ،[۴] اَمِ[۵] ارْتَابُوْا.[۶] (دُرة الفرید)

---

[۱] ځکه په اِرْجِعُوْا کي همزه وصلي ده او همزه وصلي په خپله بالذات عارضي وي، د دې وجهي د همزه وصلي حرکت هم عارضي دئ.

[۲] لِاَنَّ الْاَصْلَ فِي الرَّاءِ التَّفْخِيْمُ كَمَا الْاَصْلُ فِي اللَّامِ التَّرْقِيْقُ. یعني ځکه اصل په را کي ډکوالي دئ لکه په لام کي چي اصل باریک والي دئ. منه رح

[۳] دې ته کسره منفصله وایي ځکه چي زیر او را په جلا جلا کلمو کي دي.

[۴] په رَبِّ ارْجِعُوْنِ او الَّذِيْ ارْتَضٰى کي که څه هم کسره اصلي ده خو د منفصل والي په خاطر را ډکه ویل کېږي یعني کسره په جلا کلمه کي ده او را په جلا کلمه کي ده.

[۵] وَكَسْرَةُ الْمِيْمِ عَارِضٌ اَيْضًا لِاِجْتِمَاعِ السَّاكِنَيْنِ فَيُرَقَّقُ هٰذِهِ الرَّاءُ لِفَقْدِ الشَّرْطَيْنِ، هٰذَا اَوْلٰى. یعني د میم کسره هم عارضي ده ځکه چي د التقاء ساکنین په خاطر یې کسره ورکړې ده، نو دغه را باریکه ویل کېږي ځکه چي دوه (۲) شرطونه پکښي نه سته او باریک ویل یې اولی او غوره دئ. منه رح

[۶] اَمِ ارْتَابُوْ په اصل کي اَمْ اِرْتَابُوْ دئ، د را ساکني ماقبل کسره منفصله هم ده او عارضي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې شرط پېژندنه د اول شرط په نسبت آسانه ده ځکه د کلمې يو والي او د کلمې دوه والي هر سړي ته معلومېږي.

**دريېم شرط دا دئ:**

چې د هغې را څخه وروسته به په هغه کلمه کي حروف مستعليه نه وي او که چيري داسي وي نو بيا دا را ډکه ويل کېږي او داسي حروف اووه (۷) دي چې د هغو ذکر په پنځمه روښنايي په پنځم صفت کي راغلی دئ.

د مثال په ډول: قِرْطَاسٍ، اِرْصَادًا، فِرْقَةٍ، لَبِالْمِرْصَادِ. په دې ټولو کي به را ډکه ويل کېږي. په ټول قرآن کي د دې قاعدې دا څلور لفظونه پيدا کېږي[1] او د دې شرط پېژندنه آسانه ده.

**يادونه:**

د درېيم شرط سره سم د "كُلُّ فِرْقٍ" د لفظ را به هم په تفخيم سره ويل کېږي، خو لکه څنګه چې پر قاف باندي هم زير دئ،[2] نو له دې سببه د بعضي قاريانو په نزد ترقيق دئ او دواړه طريقې جائز دي.

---

[1] دا په ياد ولرئ چې لفظ د مِرْصَادٌ دوه ځايه دي، يو په سورة نباء کي "كَانَتْ مِرْصَادًا" او بل په سورة الفجر کي "لَبِالْمِرْصَادِ".

[2] دلته لکه څنګه چې د را وروسته قاف دئ او قاف د حروفو مستعليه وو څخه دئ او د را د تفخيم سبب دئ. خو لکه څنګه چې قاف مکسوره دئ په دې سبب سره د قاف تفخيم ضعيفه سو لکه څنګه چې مخکي معلومه سوې ده چې د کسرې په خاطر عارضي التفخيم حروف باريک ويل کېږي او په لازمي التفخيم حروفو کي په تفخيم کي يې ضعف راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**يادونه:**

په درېيم شرط کي يې چي دا قيد ليکلی دئ "چي که چيري د داسي را ځخه وروسته په هغه کلمه کي حروف مستعليه نه وي". دا قيد يې ځکه ووايه چي که چيري حروف مستعليه په بله کلمه کي وي يا د حروفو مستعليه اعتبار نه سته. لکه: أَنْذِرْ قَوْمَكَ، فَاصْبِرْ صَبْرًا، په دې مثالو کي به را باريکه ويل کېږي.

**درېيمه قاعده:**

که چيري د را ساکنې ځخه پر مخکي حرف باندي حرکت نه وي هغه هم ساکن وي، داسي د وقف په حالت کي کېږي چي اوس به يې په مثالو کي ويني نو بيا د هغې را د مخکني حرف ځخه مخته يعني درېيم حرف ته ګورو که چيري پر هغه باندي زور يا پېښ وي نو دا را به ډکه وايو. د مثال په ډول: لَيْلَةُ الْقَدْرِ، بِكُمُ الْعُسْرَ. په دې مثالو کي دواړي را ساکني دي، حرف دال او حرف سين هم ساکن دي پر قاف باندي زور او پر عين باندي پېښ دئ له دې وجهي ځخه د دې دواړو کلمو را به ډکه ويل کېږي.

که چيري پر هغه باندي زير وي نو را به باريکه وايو. لکه: ذِي الذِّكْرِ. دلته را هم ساکنه ده او کاف هم ساکن دئ او پر دال باندي زير دئ له دې وجهي دا را باريکه ويل کېږي.

**(١) يادونه:**

ليکن د دې ساکني را ځخه مخکي چي کوم حرف ساکن وي که چيري دا حرف ساکن "ی" وي نو بيا د "ی" ځخه مخکي حرف ته نه ګورو بلکي را په هر حالت کي باريکه وايو، د "ی" ځخه مخکي چي هر حرکت وي. لکه: خَيْرٌ، قَدِيْرٌ. د دې دواړو را باريکه ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**(۲) يادونه:**

د درېيمي قاعدې سره سم لفظ د "مِصْرَ" او "عَيْنُ الْقِطْرِ" باندي چي هر کله وقف وکړل سي نو د دې را باريک ويل پکار دي. ليکن قاريانو د دې دواړو لفظو د را له پاره باريک[1] او ډک[2] دواړو طريقو سره ويلي دي، خو بهتره خبره دا ده چي په خپله پر را باندي چي کوم حرکت وي د هغه اعتبار وکړل سي.[3] نو په لفظ د "مِصْرَ" کي تفخيم اولی او غوره دئ او په "عَيْنُ الْقِطْرِ" کي ترقيق اولی او غوره دي.

**(۳) يادونه:**

د درېيمي قاعدې پر بناء په سورة الفجر کي پر "اِذَا يَسْرِ" باندي چي هر کله وقف وکړل سي نو دا را ډکه ويل پکار ده. ليکن ځينو قاريانو د دې را د باريک ويل اولی ليکلي دي[4] خو دا روايت ضعيف دئ.[5] ځکه نو دغه را د درېيمي قاعدې سره سم ډکه ويل پکار ده.

---

[1] د علامه ابو عمرو داني رحمه الله او جمهورو قاريانو همدا مذهب دئ چي د مِصْرَ او عَيْنُ الْقِطْرِ را باريکه ويل کېږي. (نشر، صـ: ١٠٦، ج: ٢)

[2] د امام ابو عبدالله بن شُريح او نورو همدا رايه ده چي د مِصْرَ او عَيْنُ الْقِطْرِ را ډکه ويل کېږي. (نشر)

[3] علامه جزري رحمه الله همدا قول غوره کړی دئ.

[4] لِاَنَّ اَصْلَهُ يُسْرِی فَرَقِّقُوْا الرَّاءَ لِيَدُلَّ عَلَى الْيَاءِ الْمَحْذُوْفَةِ. يعني ځکه يَسْرِ په اصل کي يُسْرِی دئ، نو را يې باريکه کړل تر څو پر حذف سوي ياء باندي دلالت وکړي. منه

[5] حقيقت دا دئ چي فَاَسْرِ، اَنْ اَسْرِ، وَالَّيْلِ اِذَا يَسْرِ، وَنُذُرِ، الْجَوَارِ (شورى، رحمن، کورت). پر دې پنځو کلمو باندي که چيري وقف بالاسکان وسي نو په را کي تفخيم او ترقيق دواړه =

(c) ketabton.com: The Digital Library


=جائز دي. دا پنځه کلمې په اصل کې یاء لري؛ اولې دوې (۲) کلمې په اصل کې اَسْرِیْ وې، د آخره څخه یې یاء مده د حالت بنائي په سبب حذف کړې. یُسْرَ هم په اصل کې یُسْرِیْ دئ د فواصل په خاطر یې یاء حذف سوه. (یعني د آیتو د آخرو کلمو د مطابقت په خاطر یې یاء حذف کړل) همدا ډول په نُذُرِیْ کې یاء د اضافت د فواصل په خاطر حذف سوه، نو دلته پر را باندې د سکون عارضي کېدو او ماقبل مفتوح یا مضموم کېدو په خاطر پر را باندې تفخیم پکار دئ او د کلمې پر اصل باندې د دلالت کولو له پاره او په دې وجه چې د آخر څخه د یاء حذف عارضي دئ او عارضي حذف معتبر و نه ګڼل سي بلکي یاء په مثل د باقي وګڼل سي نو د را به باریکه وویل سي.او د الْجَوَارِیْ یاء متطرفه هم په قاعده د قاضٍ حذف سوې ده. علامه جزري رحمه الله ترقیق لره ترجیح ورکوي او فرمایي: وَكَذٰلِكَ الْحُكْمُ فِيْ وَاللَّيْلِ اِذَا يَسْرِ فِي الْوَقْفِ بِالسُّكُوْنِ عَلٰى قِرَآءَةِ مَنْ حَذَفَ الْيَاءَ، فَحِيْنَئِذٍ يَكُوْنُ الْوَقْفُ عَلَيْهِ بِالتَّرْقِيْقِ اَوْلٰى. (نشر، ص: ۱۱۱، ج: ۲)

شیخ علي بن محمد ضباع په شرح کې د شاطبیه فرمایي: لٰكِنْ يُسْتَحْسَنُ التَّرْقِيْقُ فِيْ اِذَا يَسْرِ وَ نُذُرِ عَلٰى حَذْفِ الْيَاءِ فِيْهِمَا لِلدَّلَالَةِ عَلَى الْيَاءِ وَ لِلْفَرْقِ بَيْنَ كَسْرَةِ الْاِعْرَابِ وَ كَسْرَةِ الْبِنَاءِ. (ارشاد المرید للضباع، ص: ۱۸۷ علی حاشیة الابراز)

صاحب د "غیث النفع" په اِذَا یَسْرِ کې د یاء د اثبات او حذف دوو قرآئتو او د هغو واختلاف ته د اشاره کولو وروسته فرمایي چې: د یاء د اثبات والا وو له پاره به را باریکه وي او د حذف والا وو له پاره به ډکه وي. لیکن د ده په کلام کې اختصار دئ او د ده مقصد د قرآئت ښوول دي، د یاء په اثبات یا نفي کې هغه مفصل بحث کول نه غواړي و المفصل حجة علی المجمل.

قاري ابو محمد محی الاسلام صاحب پاني پتي رحمه الله فرمایي: "فَاَسْرِ او اَنْ اَسْرِ الفاظو کې چې کوم ائمه په همزه قطعي مفتوحه سره دغه الفاظ وایي، د هغوی له پاره وقفاً بعضي تفخیم وایي او بعضي په لحاظ د اصل سره ترقیق وایي". لکه څنګه چې په یَسْرِ کې ذکر سوه. =

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څلورمه قاعده:**

د را څخه وروسته یو ځای په قرآن کریم کي اماله ده؛[۱] نو د را دغه حرکت به زیر وګڼوا و را به باریکه ووایو او هغه ځای دا دئ: بِسۡمِ اللهِ مَجۡرٖىهَا[۲] دا را باریکه ویل کېږي لکه څنګه چي د "قِطۡرَىٰ" د لفظ را ویل کېږي، همدې ته اماله وایي چي فارسي والا ورته یاء مجهوله وایي نو د "مَجۡرٖىهَا" را به باریکه ویل کېږي.[۳]

**پنځمه قاعده:**

هغه را چي د وقف په سبب سره ساکنه وي نو ښکاره خبره ده چي په هغه کي د دوهمي او درېيمي قاعدې سره سم د هغې را څخه مخکي حرف ته او کله

---

=محقق علامه جزري رحمه الله فرمايي چي: "ترقيق اولی دئ". امام داني رحمه الله فرمايي چي تفخيم اولی دئ او دغه مذهب منصور او غوره دئ. (سبعه قرآئت، ص: ۲۴۴)

د ذکر سوي عبارت څخه د را د باریک والي ضعف نه معلومېږي د دغو پنځو کلمو و اصل ته په رجوع کولو سره که چيري د را د باریک والي جواز معلوم سي نو څه حرج یا تکلیف سته؟ د نور تفصیل له پاره نهایة القول المفید ۹۴ صفحه وګورئ!

[۱] یعني د را څخه وروسته په الف کي یو ځای اماله ده. د اماله معنا ده را کږول یعني الف د یاء مده و طرف ته کږول او ویل.

[۲] وَهُوَ فِي الۡاَصۡلِ مَجۡرَاهَا بِالۡاَلِفِ فَاُمِيۡلَتۡ. یعني دا په اصل کي مَجۡرَاهَا دئ په الف سره، وروسته یې اماله پکښي وکړل نو مَجۡرٖىهَا سو. منه رحمه الله

[۳] وَلَا يَنۡظُرُ اِلٰى اَنَّهٗ فِي الۡاَصۡلِ اَلِفٌ وَالرَّاءُ مَفۡتُوۡحَةٌ وَحُكۡمُ هٰذِهِ الرَّاءِ التَّرۡقِيۡقُ. یعني دې ته نه کتل کېږي چي دا په اصل کي الف دئ او را مفتوحه ده او د دې را حکم ترقیق یا باریک والي دئ. منه رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه ځخه هم مخکې حرف (درېیم حرف) ته کتل کېږي د هغه مطابق هغه را باریکه یا ډکه ویل کېږي.

دلته یوه بله خبره په یاد ولرئ چې دې اولني حرف ته کتل هغه وخت کېږي چې په وقف کې دا را بالکل ساکنه کړل سي لکه ځنګه چې همدا د وقف عامه طریقه ده. لیکن د وقفِ کولو یوه بله طریقه هم ده چې په هغه کې موقوف علیه حرف بالکل نه ساکن کېږي، بلکې پر هغه باندې چې کوم حرکت وي هغه هم په ډېره آساني سره ادا کېږي او دې ته وقف بالروم وایي او وقف بالروم یوازې په زیر او پېښ کې وي. د دې مفصل بیان به په دیارلسمه روښنایي کې انشاء الله تعالی راسي.

دا خبره یادول ضروري ده چې که چیري پر داسې را باندې په روم سره وقف وسي نو بیا د را ځخه و مخکې حرف ته نه کتل کېږي بلکې په خپله چې پر هغه را باندې کوم حرکت وي د هغه موافق به ډکه یا باریکه ویل کېږي. لکه د "وَالْفَجْرِ" پر را چې په دې طریقه سره وقف وکړل سي نو را به باریکه وویل سي او پر را د "مُنْتَصِرٌ" باندې چې دا ډول وقف وکړل سي نو دا را به به ډکه ویل کېږي.[1]

---

[1] د دې ټولي قاعدې خلاصه دا سوه چې په وقف بالروم کې کوم چې په زیر او پېښ کې کېږي را مکسوره موقوفه بالروم به باریکه او را مضمومه موقوفه بالروم به ډکه وایو، لکه ځنګه چې د وصل په حالت کې را مکسوره باریکه او را مضمومه ډکه وي. د دې وجهي ویل کېږي چې په وقف بالروم کې را په مثل د وصل وي یعني د وصل په حالت کې چې د را کوم حکم دئ په وقف بالروم کې هم د را هغه حکم دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نهمه روښنايي

## (د ميم ساکن او مشدد په قاعدو کي)

**لومړۍ قاعده:**

ميم که چيري مشدد وي نو په هغه کي غنه کول ضروري ده. و پزي ته د آواز تلل د غنې[1] څخه عبارت ده. لکه: لَمَّا. په داسي حالت کي دې ته حرف غنه ويل کيږي.[1]

---

[1] غنه په لغت کي زمزمې يا د آواز تلل و پزي ته او په اصطلاح کي: اَلْغُنَّةُ حَرْفٌ سَاكِنٌ يَخْرُجُ مِنَ الْخَيْشُوْمِ. يعني غنه يو حرف ساکن دئ چي د خېشوم څخه راوزي. غنه پر دوه قسمه ده؛ يوه غنه يي آني ده او بله غنه زماني ده. غنه آني په ميم او نون کي وي يعني هغه ميم او نون چي مشدد يا ساکن نه وي. او غنه زماني بيا پر دوه قسمه ده؛ يوه اصلي او بله طبعي يا ضمني ده. غنه اصلي په ميم او نون مشدد کي وي لکه: اِنَّ، ثَمَّ، لَمَّا. او غنه طبعي يا ضمني پر پنځه (۵) ډولو ده: ۱ – تر ميم ساکن وروسته چي بل ميم راسي. لکه: كَمْ مِنْ فِئَةٍ. ۲ – د ميم ساکن وروسته چي حرف با راسي. لکه: تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ. ۳ – تر نون ساکن يا تنوين وروسته چي ميم، واؤ، ياء او نون راسي. لکه: عَنْ مِّلَّةٍ، مِنْ وَّالٍ، مَنْ يَّرْغَبُ، مَنْ نَّشَآءُ، اِثْمًا مُّبِيْنًا، لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ. ۴ – تر نون ساکن يا تنوين وروسته چي د اخفاء حقيقي حروف راسي او هغه حروف پنځلس دي چي په لاندي ډول دي: ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک. لکه: اَنْ يَّنْكِحَ، اَنْزِلْ، اَبًا شَيْخًا كَبِيْرًا، وَلَيَنْصُرَنَّ اللهُ مَنْ يَّنْصُرُهُ. ۵ – تر نون ساکن =

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه:**

د غنې اندازه یو الف دئ[۲] او د الف د اندازې معلومول آسانه طریقه دا ده چې خلاصي ګوتي بندي کړئ یا بندي ګوتي خلاصي کړئ او دا محضي یوه اندازه ده،[۳] خو اصل دارومدار (موقوف علیه) د مشاق استاد څخه په اوریدلو باندي دئ.

**دوهمه قاعده:**

میم که چیري ساکن وي نو د هغه وروسته کتل پکار دئ چي کوم حرف دئ؟ که چیري د هغه وروسته هم بل میم وي نو هلته ادغام[۴] کبرږي یعني دواړه

---

=یا تنوین وروسته چي حرف با راسي. په اصل کي دا پنځه قسمه نوري قاعدې دي خو غنه يي طبعي یې په ضمن کي پرته ده او د غنه يي زماني اندازه یو الف ده.

[۱] ځکه چي د حروف غنه په ډول په میم مشدد کي هم غنه ښکاره کول ضروري ده. (نهایة القول المفید)

[۲] د دې وجهي د تجوید علماوو ویلي دي چي د مد طبعي په ډول غنه هم باید د دوو (۲) حرکتو د مقدار څخه نه زیاتول پکار دي او نه کمول. د غنې ښکاره کولو له پاره یو څه ځنډ او وخت پکار دئ خو په دې ځنډ کولو کي د مبالغې څخه ځان ساتل پکار دي.

[۳] ډېره ضروري خبره دا ده چي د میم مشدد څخه مخکي باید حرف مد پیدا نه سي څنګه چي په بعضي خلکو کي دا تېروتنه لیدل کېږي چي د لَمَّا پر ځای لَامَّا او د مِمَّ پر ځای مِیمَّ وایي.

[۴] ادغام په لغت کي "اِدْخَالُ الشَّيْئِ فِي الشَّيْئِ". یعني داخلول د یوه شي په بل شي کي. او په اصطلاح کي: هُوَ خَلْطُ حَرْفٌ سَاكِنٍ بِمُتَحَرِّكٍ بِحَيْثُ يَصِيْرَانِ حَرْفًا وَاحِدًا مُشَدَّدًا كَالثَّانِيْ وَ يَتَحَرَّكُ الْعُضْوُ عِنْدَ اَدَائِهِمَا تَحَرُّكًا وَاحِدًا. یعني ساکن حرف په متحرک حرف کي یو ځای کول او داسي یو ذات ځني جوړول چي د هغه څخه د دوو حروفو پر ځای یو حرف ځني جوړ سي او د ادا کولو په وخت کي عضوه (اندام) یو ځل په کار یووړل سي یعني په یوه وار ادا سي. یعني =

(c) ketabton.com: The Digital Library


میمان به یو سي او د یوه میم مشدد په ډول به په هغه کي غنه وي. (حقیقة التجوید) لکه: اِلَيۡكُمۡ مُّرۡسَلُوۡنَ او دې ته ادغام صغیر مثلین وایي.[1]

که چیري د میم ساکن وروسته حرف با وي نو هلته به د غنې سره اخفاء هم وي او د دې اخفاء مطلب دا دئ[2] چي د میم د ادا کولو په وخت کي د دواړو شونډو وچه حصه ډېره په نرمي سره یو ځای کړئ او د غنې صفت به د یوه الف په اندازه زیات کړئ او د خېشوم څخه به یې ادا کړئ. بیا د هغه وروسته د شونډو د خلاصېدو مخکي د دواړو شونډو لنده حصه په سختي سره یو ځای

---

=دواړه حروف د یوه مخرج څخه بلافصله ادا سي. ادغام پر دوه قسمه دي؛ یو ادغام تام دئ او بل ادغام ناقص دئ. ادغام تام هغه ته وایي چي مدغم حرف په مدغم فیه حرف کي داسي مدغم سي چي یو صفت یې هم پاته نه سي. لکه: اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُّمۡ. چي قاف په کاف کي داسي مدغم سوی دئ چي یو صفت یې هم پاته نه دئ. او ادغام ناقص هغه ته وایي چي مدغم حرف په مدغم فیه کي داسي مدغم سي چي یو صفت یې پاته سي. لکه: اِلَيۡكُمۡ مُّرۡسَلُوۡنَ. دلته اول میم په دوهم میم کي داسي مدغم سوی دئ چي د اول میم د غنې صفت پاته دئ.

[1] لیکن دا وهم کول پکار نه دئ چي د میم ساکن وروسته میم راسي او دواړه یو ځای سي او مشدد یې کړي نو یوازي دې ته ادغام صغیر مثلین ویل کېږي، بلکي هر هغه ځای به دغه لفظ ویل صحیح وي په کوم ځای کي چي یو حرف ساکن وي او د هغه وروسته بیا هغه حرف متحرک راسي نو هغه به یو ځای ویل کېږي. د مثال په ډول: مَنۡ نَّشَآءُ، اِذۡ ذَّهَبَ. فَمَا رَبِحَتۡ تِّجَارَتُهُمۡ او داسي نور. دې ټولو ته ادغام صغیر مثلین ویل کېږي.

[2] په میم کي د اخفاء کولو طریقه ښکاره کول ضروري ده. د مفهوم په لحاظ سره دومره پوهېدل پکار دي چي میم په سختي سره د اطباق شفتین (د چسپوالي د شونډو) څخه نه ادا کېږي، بلکي شونډي دي په نرمي سره یو ځای کړي او میم دي ادا کړي. په دې حالت کي دي د خېشوم څخه د غنې پر ښکاره کولو باندي ښه زور وکړئ، ځکه چي د اخفاء مطلب دا دئ چي د ذات حرف د ښکاره کولو پر ځای پټ ادا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړئ او با ادا کړئ. (جهد المقل) لکه: وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللهِ. او دې ته اخفاء شفوي وايي.[1]

که چيري د ميم ساکن وروسته نه ميم او نه با وه نو هلته په ميم کي اظهار کيږي يعني ميم به د خپل مخرج ححه بې له عنې ښکاره کيږي.

لکه: اَنْعَمْتَ. او دې ته اظهار شفوي وايي.

**يادونه:**

بعضي حافظان په دې اخفاء او اظهار کي د با، واؤ او فا يوه قاعده کښي او د دې قاعدې نوم يې د "بوف" قاعده ايښې ده.

بعضي په دې درو (۳) حروفو کي اخفاء کوي او بعضي په دې درو (۳) حروفو کي اظهار کوي او بعضي د دې حروفو سره ميم ساکن ته يو قسم حرکت ورکوي. لکه: عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ. يَمُدُّهُمْ فِىْ. دا ټول قولونه د قاعدې څخه خلاف دي، اولنی او دريم قول خو ګرسره غلط دئ او دوهم قول ضعيف دئ.[2] (درة الفريد)

---

[1] ځکه چي با او ميم دواړه د شونډانو سره تعلق لري.

[2] **د بوف قاعدې جواب:** خلاصه دا ده چي د بوف په قاعدې کي څلور ډلي دي؛ مخفين، مظهرين، محرکين او محققين. مخفين په واؤ او فا کي اخفاء کوي ځکه دوی وايي چي تر ميم ساکن وروسته چي حرف با راسي اخفاء کيږي، واؤ او فا هم حروف شفوي دي او د حروف شفوي حکم يو دئ ځکه نو دلته هم اخفاء کيږي. مظهرين وايي چي هر کله تر ميم ساکن وروسته واؤ او ف راسي اظهار کيږي، نو هر کله چي با راسي هم اظهار کيږي او دوی هم وايي چي دا حروف شفوي دي او د حروف شفوي حکم يو دئ. محرکين بيا د اختلاف د ليري کولو په خاطر ميم ساکن ته يو څه حرکت ورکوي. او څلورمه ډله چي محققين دي هغوی وايي چي هر کله تر ميم ساکن وروسته با راسي هلته اخفاء کيږي او =

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لسمه روښنايي

## (د نون ساکن او مشدد په قاعدو کي)

د شپږمي روښنايي په اول سر کي ما (تهانوي صاحب رحمه الله) ليکلي دي چي تنوين هم په نون ساکن کي داخل دئ. هلته بيا وګورئ! خو په دې قاعدو کي د نون ساکن سره د تنوين نوم هم د آساني له پاره اخيستل کېږي.

---

=هر کله چي تر ميم ساکن وروسته واؤ او فا راسي اظهار کېږي ځکه دوی وايي چي ميم ته تر واؤ او فا حرف با په مخرج کي ور نژدې ده، نو ځکه په با کي اخفاء کېږي او په واؤ او فا کي اظهار کېږي او همدا د محققينو قول صحيح او غوره دئ. **د پاته درو ډلو جواب دا دئ:** چي اول خو دا خبره محضي عقلي او قياسي ده ځکه چي نه په نقل او نه په ادا کي د دې ثبوت سته. دوهم دا چي د واؤ او فا ښخه مخکي اخفاء کول ډېر سخته او ثقيله ده. درېيم دا چي په واؤ، فا او با کي دا فرق دئ چي په با کي خو دواړي شونډي پوره سره موښلي په خلاف د واؤ او فا ځکه په واؤ کي يوازي د دوو شونډو انضمام وي نه چي انطباق هم او په فا کي خو د ثنايا عليا سره لره هم دخل سته نو ضروري ده چي د واؤ او فا ښخه مخکي په ميم کي په ډېر احتياط او توجه سره کامل اظهار وکړي او د اخفاءِ ښخه ځان وساتي، ځکه چي د ميم په ډول واؤ او فا هم د دواړو شونډو ښخه ادا کېږي، د فا مخرج خو ميم ته نژدې دئ او واؤ خو د شونډانو ښخه ادا کېږي نو که چيري د يو څه بې احتياطي په سبب په دغه ميم کي اخفاء وسي، اوربدونکي به دا وګڼي چي ښنګه چي دا ښلور حروف د شونډانو ښخه ادا کېږي نو ځکه د با په رقم د واؤ او فا ښخه مخکي هم اخفاء کېږي او همدا ډول که چيري اظهار ونه سي نو ميم به د واؤ او فا سره مشابه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لومړۍ قاعده:**

نون که چیري مشدد وي نو په هغه کي غنه ضروري ده او د میم مشدد په ډول به ده ته هم په دې حالت کي حرف غنه ویل کېږي.[۱] د نهمي روښنایي لومړۍ قاعده بیا وګورئ!

**دوهمه قاعده:**

د نون ساکن او تنوین وروسته که چیري د حروف حلقي څخه یو حرف راسي نو هلته به د نون اظهار کوو. یعني په پزه کي به آواز نه بیایو او غنه به هم نه کوو. لکه: اَنْعَمْتَ، سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ او داسي نور مثالونه. دې اظهار ته اظهار حلقي وایي.

حروف حلقي شپږ (٦) دي چي یو شاعر په دغه بیت کي را ټول کړي دي:

حروف حلقی شش بود ای نور عین ، همزه، ها، حا، خا، عین و غین

په څلورمه روښنایي کي دوهم، دریم او څلورم مخرج بیا وګورئ او د اظهار مطلب[۲] د نهمي روښنایي په دوهمه قاعده کي وګورئ.

---

[۱] په نون مشدد کي هم غنه ښکاره کول ضروري ده او د غنې د ښکاره کولو له پاره تراخي یا ځنډ ضروري دئ، لیکن دا تراخي باید د مد طبعي (اصلي) د اندازې څخه زیات نه وي. د نون د ادا کولو څخه مخکي د حرف مده د پیدا کولو څخه ځان ساتل ډېر ضروري دئ یعني چي ان ځني این نه سي.

[۲] د اظهار مطلب دا دئ چي حرف د خپل مخرج او صفاتو سره بې له غنې ښکاره کول او ادا کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درېیمه قاعده:**

د نون ساکن او تنوین وروسته که چیري د دې شپږو (٦) حروفو څخه یو حرف راسي چي د هغو مجموعه دا ده: یَرْمَلُوْنَ.[١] نو هلته به ادغام وي یعني نون به د هغه وروسته والا په حرف سره بدل سي او دواړه به یو سي. لکه: مِنْ لَّدُنْهُ. وګورئ! د نون څخه لام جوړ سو او دواړه لامونه یې یو کړل ځکه نو په ویلو کي یوازي یو لام ویل کېږي که څه هم په لیکلو کي نون پاته دئ.

خو په دې شپږو (٦) حروفو کي دومره فرق دئ چي په څلورو حروفو کي غنه کېږي او دا غنه به د نون مشدد په ډول زیاته کېږي، د هغو څلورو حروفو مجموعه دا ده: یَنْمُوْ.[٢] لکه: مَنْ یُّؤْمِنُ، بَرْقٌ یَّجْعَلُوْنَ او داسي نور،[٣] دې ته ادغام مع الغنه وایي. او کوم دوه چي پاته سوه یعني لام او را په دوی کي به غنه نه وي. لکه: مِنْ لَّدُنْهُ، مثال یې پورته تېر سوی دئ. په دې دوو (٢) حروفو کي هیڅ آواز هم پزې ته نه ځي یوازي د لام په ډول ویل کېږي او دې ته ادغام بلا غنه وایي. د نهمي روښنایي په لومړۍ او دوهمه قاعده کي د غنې او ادغام[٤] معنا بیا وګورئ!

---

[١] ترجمه اش این است: خرامشت می کنند آن چند مردان. یعني هغه څو کسان پهلواني کوي: منه رح

[٢] ترجمه اش این است: نمو می یابد آن یک مرد. یعني هغه یو سړی نما پیدا کوي یا وده کوي. منه رح

[٣] مِنْ وَّالٍ، یَوْمَئِذٍ وَّاهِیَةٌ، مِنْ مَّاءٍ مَّهِیْنٍ، مَنْ نَّشَاءُ، اَمَنَةً نُّعَاسًا.

[٤] د ادغام اصطلاحي مطلب دا دئ چي ساکن حرف په متحرک حرف کي داسي یو ځای ویل چي دواړه یو ځای مشدد ادا سي، اول حرف ته مدغم او دوهم ته مدغم فیه وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو د دې ادغام يو شرط دا دئ چي دا نون او حروف يرملون به په يوه کلمه کي نه وي، که چيري وي بيا ادغام نه کېږي بلکي اظهار کېږي. لکه: دُنْيَا، قِنْوَانٌ، بُنْيَانٌ، صِنْوَانٌ. په ټول قرآن کريم کي د دې قاعدې دا څلور لفظونه دي، په دې لفظو کي چي کوم اظهار کېږي هغه ته اظهار مطلق وايي.

**څلورمه قاعده:**

د نون ساکن او تنوين وروسته که چيري حرف با راسي نو هلته هغه نون ساکن يا تنوين په ميم سره بدلېږي او په غنې او اخفاء سره به يې وايو. لکه: مِنْۢ بَعْدِ، سَمِيْعٌۢ بَصِيْرٌ.

په بعضي قرآنو کي د آساني له پاره د داسي نون او تنوين وروسته يو کوچنی ميم هم ليکلی وي. لکه: مِنْۢ بَعْدِ او دې بدلېدو ته اقلاب او قلب وايي.

د دې نون د اخفاء مطلب او د ادا کولو طريقه داسي ده لکه د اخفاء شفوي طريقه، په نهمه روښنايي کي د وهمه قاعده بيا وګورئ!

**پنځمه قاعده:**

د نون ساکن او تنوين وروسته که چيري د دې ديارلسو (۱۳) حروفو څخه ماسېوا چي د هغو ذکر په ۲ – ۳ – ۴ قاعدو کي تېر سو بل کوم حرف راسي نو هلته به نون او تنوين په اخفاء[1] او غنه سره ويل کېږي او داسي حروف پنځلس

---

[1] اخفاء په لغت کي "اَلسَّتْرُ" يعني پټولو ته وايي. لکه څنګه چي عرب وايي: "اِخْتَفَى الرَّجُلُ عَنْ اَعْيُنِ النَّاسِ بِمَعْنٰى اِسْتَتَرَ عَنْهُمْ" يعني فلانی سړی د خلکو د سترګو څخه پټ سو. او په اصطلاح کي د اخفاء تعريف دا دئ: هُوَ النُّطْقُ بِحَرْفٍ سَاكِنٍ عَارٍ اَىْ خَالٍ عَنِ التَّشْدِيْدِ عَلٰى صِفَةٍ بَيْنَ الْاِظْهَارِ وَالْاِدْغَامِ مَعَ بَقَاءِ الْغُنَّةِ فِى الْحَرْفِ الْاَوَّلِ. يعني د نون او تنوين د ادا کولو په وخت=

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي، هغه دا دي: ت، ث، ج، د، ذ، ز، س، ش، ص، ض، ط، ظ، ف، ق، ک. او الف يې له دې وجهې پکښې حساب نه کړي چي الف د نون ساکن وروسته نه سي راتلای. (دُرة الفريد)

د دې اخفاء مطلب دا دئ چي نون ساکن او تنوين د اصلي مخرج څخه د ژبي د کنارې او لوړ تالو څخه جلا ولړئ او د هغه آواز په خيشوم کي پټ کړئ او داسي به يې واياست چي نه ادغام جوړ سي او نه اظهار بلکي د دواړه په منځ کي يو حالت وي. يعني نه د اظهار په ډول د هغو په ادا کي د ژبي سر د لوړ تالو سره ولګېږي او نه د ادغام په ډول د وروسته حرف د مخرج څخه ووزي بلکي بې له څه دخله د ژبي[1] او بې له تشديده[1] يوازي د خيشوم څخه د غنې

---

=کي د ژبي سر د تالو سره نژدې يعني د تالو څخه يې لږ ليري کړئ، د دې آواز په خيشوم کي پټ کړئ او د غنې صفت د يوه الف په اندازه پاته ولړئ او داسي يې وواياست چي نه کامل اظهار او نه کامل ادغام ناقص وي، بلکي د دې دواړو منځنی حالتَ وي چي نه د اظهار په ډول د ژبي سر د تالو سره محکم او په پوره ډول سره وموښلي او نه د ادغام ناقص په ډول چي د اصلي مخرج څخه قطعاً بې تعلق او پر وروسته مخرج باندي کمالِ اعتماد او تعلق وي، بلکي د دې دواړو حالتو په مابين کي د اصل مخرج سره لږ تعلق او يو سپک لګېدل دئ نه په پوره ډول سره. د اخفاء حروف دغه پنځلس دانې دي چي په لاندي بيت کي را ټول سوي دي:

تاء و ثاء و جيم و دال و ذال و زاء و سين و شين صاد و ضاد و طاء و ظاء و فاء و قاف و کاف بين

[1] يعني د ژبي طرف او تالو لره د نون مخفاة په ادا کولو کي دخل مه ورکوئ او که چيري په لږ اندازه د ژبي طرف د تالو سره ولګېږي نو دا د اخفاء د حقيقت سره منافي نه دئ، بلکي ياد ساتل پکار دي چي طرف لسان (د ژبي طرف) او تالو په مابين کي که چيري فاصله پيدا سي نو د خولې په خاليګاه کي به آواز وغوړېږي او د مد د پيدا کېد بېره ده يعني د اَنْذَرْتَهُمْ پر ځای به آنْذَرْتَهُمْ جوړ سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


صفت د یوه الف په اندازه په یاد ولرئ او ادا یې کړئ. خو تر څو چې د اخفاء مشق د یو ماهر استاد څخه میسر نه وي تر هغو پورې دې یوازې په غنې سره وایي ځکه چې په اورېدو کې غنه او اخفاء یو د بل سره مشابه دي. د نون مخفی مثال: ءَاَنْذَرْتَهُمْ. د تنوین مخفی مثال: قَوْمًا ظَلَمُوْا او داسې نور.

لیکن بیا هم آسانې په خاطر د دې اخفاء یو څو مثالونه په خپله ژبه کې درته وایمه چې یو څه په پوه سي[۲] لکه: رنګ، تنګ، پړانګ او نور.

وګورئ! په دې الفاظو کې نون نه د خپل مخرج څخه ادا سوی دئ او نه هم په وروسته حروفو کې ادغام سوی دئ.

د دې نون اخفاء ته، اخفاء حقیقي وایي[۳] او د نون اظهار ته چې د هغه بیان په دوهمه قاعده کې تېر اظهار حلقي وایي او کوم بیان چې په درېیمه

[۱] ځکه د نون په وروسته حرف کې که چیرې د هغه په مخرج کې د نون غنه ادا کړل سي نو دا به ادغام مع الغنة سي او د نون وروسته حرف صفا یا یو څه اندازه مشدد ویل کوم چې بالکل غلط دئ. د مثال په ډول: اَنْفُسَهُمْ. د نون مخفاة د ادا کولو په وخت کې که چیرې د ثنایا علیا طرفونه د لاندې شونډې د دننه حصې سره ولګېږي نو دا اخفاء صحیح نه ده.

[۲] رنګ، تنګ او نور کوم مثالونه چې ورکړل سوي دي دا محضې تقریبِ ذهني او د تفهیم له پاره دئ. په حقیقت کې په دې مثالو کې د اخفاء حقیقي آواز نه پیدا کېږي په دې ټولو مثالو کې د نون د وروسته حرف د آواز سره یو ځای غنه پیدا کېږي. زموږ په فکر اخفاء هم د ضاد په ډول یوازې د عربي ژبې د خصوصیاتو څخه ده، ځکه چې په بله ژبه کې د اخفاء حقیقي مثال ممکن نه دئ.

[۳] اخفاء په میم کې هم کېږي خو هغه دومره قوي نه ده څومره چې په نون کې قوي ده ګویا اخفاء په اصلي او حقیقي ډول سره په نون کې ده، ځکه خېشوم (د پزې بېخ) ته طرف لسان او تالو ته چې د نون مخفاة مخرج دئ، د شونډو په مقابل ډېر نژدې دئ ځکه نو د میم په مقابل کې په نون کې اخفاء او غنه ډېره کامله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاعده کې تېر سو هغه ته اظهار مطلق وايي، لکه څنګه چې د میم اظهار او اخفاء ته شفوي وايي چې د هغه بیان په نهمه روښنايي په دوهمه قاعده کې تېر سوی دئ.

# یوولسمه روښنايي

## (د الف، واؤ او د یاء په قاعدو کې)

هر کله چې دا حروف ساکن وي؛ د الف څخه پر مخکې حرف[1] باندي زور وي، د واؤ څخه مخکې پېښ وي او د یاء ساکنې څخه مخکې زیر وي او په داسې حالت کې د دې نوم مده دئ. څلورمه روښنايي بیا وګورئ!

ولاړ زور، ولاړ زیر او خنجري پېښ هم په حروف مده کې داخل دي ځکه چې ولاړ زور د الفِ مده آواز ورکوي، ولاړ زیر د یاءِ مده او خنجري پېښ د واؤِ مده آواز ورکوي. په راتلونکو قواعدو کې به موږ یوازې د مده لفظ لیکو ځکه هر ځای داسې اوږد نوم څوک لیکي!؟

**لومړۍ قاعده:**

که چیرې د حرف مده وروسته همزه وي او دا حرف مده او همزه دواړه په یوه کلمه کې وي، نو هلته دا مده موږ کشوو او داسې کشولو ته مد[1] وايي.

لکه: سَوَآءٌ، سُوْٓءٌ، سِیْٓئَتٌ.

[1] د الف همېشه همدا یو حالت وي یعني ساکن، بې حرکته او ماقبل یې مفتوح وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(۱) مد په لغت کي مطلق اوږدوالي او زياتوالي ته وايي. الله ﷻ په خپل قول کي فرمايي: يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ اَىْ يَزِدْكُمْ. او عرب وايي: مَدَدْتُ مَدًّا اَىْ زِدْتُ زِيَادَةً. او په اصطلاح کي: هُوَ اِطَالَةُ الصَّوْتِ مَعَ النَّفَسِ بِالْحُرُوْفِ لِيْنٍ اَوِ الْمَدَّةِ. يعني اوږدوالي يا زياتوالي د آواز دئ د ساه سره پر حروف لينو يا حروف مده وو باندي. په اتحاف فضلاء، ص: ۳۷ کي داسي ليکلي دي: هُوَ اِطَالَةُ الصَّوْتِ عَلٰى حَرْفِ الْمَدِّ بِحَسَبِ الرِّوَايَةِ. وَ قِيْلَ: طُوْلُ زَمَانُ صَوْتِ الْحَرْفِ فَلَيْسَ بِحَرْفٍ وَ حَرَكَةٍ وَلَا سُكُوْنٍ، بَلْ هُوَ شَكْلٌ دَالٌّ عَلٰى صُوْرَةٍ غَيْرِهٖ كَالْغُنَّةِ فِى الْاَغْنِّ فَهُوَ صِفَةٌ لِلْحَرْفِ. يعني مد په لغت کي اوږدولو او زياتولو ته وايي او د مجويدينو په اصطلاح کي د مد معنا دا ده چي خاص پر حروف مده او لين باندي د روايت، نقل او سماع موافق آواز اوږدول. نو که چيري پر نورو حروفو باندي آواز اوږد سي نو پر هغه باندي د "مد" اطلاق نه کېږي. او بعضي حضراتو ويلي دي: چي "مد" د حروف مده او لين د آواز د زمانې د اوږدولو نوم دئ او ډېر وختونه د قرآوو په اصطلاح کي د "مد" اطلاق پر هغه شکل هم کېږي کوم چي قرآوو د حروف مده او حروف لين پر مديت او اوږدوالي باندي د دلالت کولو له پاره وضع او مقرر کړي دي او دا تسميه د "الدَّالِ بِاِسْمِ الْمَدْلُوْلِ" د قبيل څخه ده. او دا مد نه حرکت دئ او نه سکون دئ او نه هم حرف دئ بلکي مد د هغه شکل نوم دئ کوم چي د حروف مده او حروف لين پر هغه هيئت ملفوظية باندي دلالت کوي کوم چي د حرف اَغنّ د غنې په ډول دئ، نو مد د حرف صفت دئ.

د مد ثبوت په ډېرو احاديثو سره ثابت دي يو څو له هغو احاديثو څخه دا دي: په بخاري شريف ج: ۲، ص: ۷۵۴ کي ليکلي دي: قتادة رضي الله عنه فرمايي: چي ما د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه د نبي کريم ﷺ د تلاوت په باره کي پوښتنه وکړه. نو انس بن مالک رضي الله عنه په جواب راته وفرمايل: كَانَ يَمُدُّ مَدًّا. يعني نبي کريم ﷺ به د مد پر ځای يو مد کوي. او په يوه روايت کي راغلي دي: كَانَتْ مَدًّا ثُمَّ قَرَاَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ يَمُدُّ بِبِسْمِ اللّٰهِ وَ يَمُدُّ بِالرَّحْمٰنِ وَيَمُدُّ بِالرَّحِيْمِ. يعني نبي کريم ﷺ د مد سره تلاوت کوي لکه څنګه چي حضرت انس رضي الله عنه بِسْمِ اللّٰهِ وويل او اللّٰهِ، الرَّحْمٰنِ او الرَّحِيْمِ په درو سره وو کي يې پر الف او ياء مده=

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې نوم مد متصل دئ او دې ته مد واجب هم وايي. د دې مد د کشولو اندازه درې الفه يا څلور الفه قدر ده او د الف اندازه د نهمي روښنايي د لومړی قاعدې په يادونه کي ليکلې ده د هغې طريقې موافق د درو يا څلورو ګوتو په بندولو او خلاصولو سره دغه اندازه معلومېږي. خو دغه اندازه د هغه اندازې څخه جلا ده کوم چي د حروف مده اصلي اندازه ده. د مثال په ډول په جَآءَ کي که همزه نه وي نو بيا هم د الف خو يو څه اندازه ده، نو دَ دې اصلي مقدار څخه ماسېوا[1] د مد کولو اندازه ده.

---

=باندې مد اصلي وکړي او پر الرحيم باندې يې مد فرعي وقفي هم وکړي. په اعلاء السنن کي ليکلي دي چي: قطبه بن مالک رضي الله عنه فرمايي: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَرَاَ فِي الْفَجْرِ "ق" فَمَرَّ بِهٰذَا الْحَرْفِ "لَهَا طَلْعٌ نَضِيْدٌ" فَمَدَّ "نَضِيْدٌ". رواه ابن ابی داؤد باسناد جيد فی فتح الباري ج: ۹، ص: ۹۰. يعني ما د نبي کريم ﷺ څخه د سهار په لمانځه کي سورة ق واورېدي نو هر کله چي نبي کريم ﷺ "لَهَا طَلْعٌ نَضِيْدٌ" ته ورسېدي نو د "نَضِيْدٌ". پر لفظ باندې يې مد عارضي وقفي وکړي. په نهاية القول المفيد ص: ۱۳۱ کي ليکلي دي: چي د حضرت انس رضي الله عنه څخه منقول دي: مَنْ قَالَ لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وَ مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ، اَسْكَنَهُ اللهُ دَارَ الْجَلَالِ، دَارًا سَمّٰى بِهَا نَفْسَهُ، فَقَالَ: ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ وَرِزْقُهُ النَّظَرُ اِلٰى وَجْهِهِ الْكَرِيْمِ. يعني کوم سړي چي لَا اِلٰهَ اِلاَّ اللهُ وويل او په هغه کي يې خپل آواز اوږد کړي، هغه ته به الله تعالی دَارَ الْجَلَالِ (د بزرګۍ او عظمت مقام) کي ځای ورکړي او دا داسي ځای دئ د کوم الفاظ چي حق تعالی شانه د خپل ذات مقدسه په صفتي نومونو کي هم راوړي دي، لکه څنګه چي د الله جل جلاله ارشاد دئ: ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ (عظمت او احسان والا ذات [سورة الرحمن])، همدا ډول داسي سړي ته به الله جل جلاله د خپل نوراني ذات ديدار هم ور نصيب کړي. (اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنَا مِنْهُمْ بِفَضْلِكَ الْعَمِيْمِ)

[1] د مصنف رحمه الله مقصد دا دئ چي د مد متصل په اندازه کي دوه قوله دي؛ په يوه قول کي د څلور الفو په اندازه دئ او په بل قول کي د پنځو الفو په اندازه دئ. د دې څخه زياته =

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دوهمه قاعده:

که چیري د حرف مده وروسته همزه وي او دا حرف مده او همزه په یوه کلمه کي نه وي، بلکي د یوې کلمې په آخر کي حرف مده وي او د دوهمي کلمې په شروع کي همزه وي، هلته دي هم دا حرف مده کشوي یعني په مد سره دي یې وایي. لکه: اِنَّآ اَعۡطَیۡنٰکَ، الَّذِیۡٓ اَطۡعَمَهُمۡ، قَالُوۡٓا اٰمَنَّا.

خو دا مد هغه وخت کېږي چي دواړي کلمې یو ځای سره ووېل سي او که چیري د یو عذر له سببه پر اولني کلمې باندي وقف وکړل سي، بیا دا مد نه کېږي او دې ته مد منفصل او مد جائز[1] هم وایي.[2] د دې اندازه هم درې یا څلور الفه ده لکه څه ډول چي د مد متصل اندازه وه.

---

=اندازه نه سته ځکه چي دا کتاب د امام حفص رحمه الله د روایت له پاره لیکل سوی دئ او د امام حفص رحمه الله په نزد دلته په مد متصل کي توسط کېږي او د توسط زیاته اندازه پنځه الفه ده. که چیري یو الف زیات سي یعني د شپږو (٦) الفو په اندازه سي نو توسط نه ورته ویل کېږي، بلکي طول ورته ویل کېږي او دا د امام حفص رحمه الله په روایت کي ناجائز دئ. مطلب دا دئ چي د امام حفص رحمه الله په روایت کي په مد متصل کي طول نه سته بلکي توسط دئ او د توسط زیاته اندازه پنځه الفه ده. په یاد ولرئ چي دلته د الف څخه مراد حرکت دئ، نو خلاصه دا سوه چي په مد متصل کي توسط کېږي د څلور الفو په اندازه یا د پنځو الفو په اندازه.

[1] تُسَمّٰی بِالۡجَائِزِ لِاَنَّ بَعۡضُ الۡاَئِمَّةِ لَا یُوۡجِبُهُ. یعني دې ته مد جائز هم وایي ځکه چي د قرآئت بعضي امامان دا مد واجب نه ګڼي. منه رح

[2] دې مد ته مد جائز د امام حفص رحمه الله د یوه طریق (طریق جزري) مطابق ویل کېږي. په دې طریق کي مد کول او نه کول دواړه جائز دي، خو په طریق شاطبي کي د مد متصل په ډول په دې کي هم مد کول ضروري دئ او د مد منفصل اندازه هم د مد متصل په ډول څلور یا پنځه الفه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څوک د دغو دواړو مدو یعني مد متصل او مد منفصل فرق نه سي کولای فکر دي نه کوي ځکه چي دواړه یو ډول ویل کیږي.

**دریمه قاعده:**

که چیري په یوه کلمه کي د حرف مده وروسته یو حرف ساکن وي چي د هغه سکون اصلي وي یعني د وقف په خاطر ساکن نه وي. لکه: آلْـٰٔنَ په دې کي اول حرف همزه دئ، دوهم حرف الف دئ او هغه مده دئ او دریم حرف لام ساکن دئ او د لام سکون خو ښکاره دئ چي د وقف په خاطر نه دئ. که چیري پر دې باندي وقف و نه سي هم لام ساکن ویل کیږي[1] او پر دې باندي هم مد کیږي.[2] د دې مد نوم مد لازم دئ او د دې اندازه درې (۳) الفه ده[3] او داسي مد ته مد کلمي مخفف وایي.

---

[1] د سکون اصلي او عارضي د پیژندلو په خاطر یې دا وفرمایل ځکه پر لام وقف نه سي کېدای، ځکه چي وقف د کلمې په مابین کي جائز نه دئ همېشه د کلمې په آخر کي کیږي.

[2] د مد لازمي کلمي تعریف داسي په یاد کړئ: چي د حرف مد وروسته حرف باندي سکون اصلي وي او دا حرف مد به په قرآني کلمه کي وي. دا دي هم واضحه وي چي په ټوله قرآن کي (د امام حفص رحمه الله د روایت مطابق) د مد لازمي کلمي مخفف مثال یوازي دغه یو لفظ "آلْـٰٔنَ" دئ کوم چي په سورة یونس کي دوه ځایه راغلی دئ.

[3] په یاد ولرئ چي دلته د مصنف رحمه الله د یو الف د اندازې څخه مراد دوه حرکته دي، نو ګویا د شپږو (٦) الفو په اندازه طول کیږي. د مد لازمي په څلورو اقسامو کي په اتفاق د قرآوو طول د شپږو (٦) الفو په اندازه کیږي، ځکه چي د طول اندازه شپږ (٦) حرکته ده د دې څخه په کمه اندازه کي طول نه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**څلورمه قاعده:**

که چیري په یوه کلمه کي د حرف مده وروسته حرف مشدد وي. لکه: ضَآلِّيْنَ. په دې کي الف خو مده دئ او د هغه وروسته پر لام باندي شد دئ، پر دې مده باندی هم مد کبری[1] د دی نوم مد لازم دئ، د دې اندازه هم درې (۳) الفه ده[2] او داسي مد ته مد کلمي مثقل وايي.

**پنځمه قاعده:**

د بعضي سورتو په اول کي چي کوم بعضي حروف جلا جلا ویل کېږي، لکه د سورة البقرې په اول کي (آلٓمٓ) الف، لام میم دې ته حروف مقطعه وايي. په دې کي یو خو په خپله الف دئ د هغه متعلق دلته هیڅ قاعده نه سته[3] او د الف څخه ماسېوا چي کوم حروف پاته سوه هغه پر دوه قسمه دي.

یو قسم هغه حروف دي چي درې (۳) حرفه وي[4] لکه لام، میم، قاف، نون او بل هغه حروف دي چي دوه حرفه وي. لکه: طه. نو هغه حروف چي دوه حرفه

---

[1] په لنډو الفاظو کي دا تعریف داسي په یاد کړئ نو آساني به وي: چي د حرف مد وروسته حرف باندي تشدید وي. لکه: اَتُحَآجُّوْنِّيْ او داسي نور.

[2] دلته هم دا مناسبه وه چي مصنف رحمه الله د پنځو الفو اندازه یې فرمایلې وای، تر څو خلط فی الاقوال را نه سي.

[3] د الف په تلفظ کي درې حروف دي: همزه، لام، فا په دې درو سره حروفو کي یو هم حرف مد نه دئ، نو د دې وجهي د مد د بحث څخه خارج دئ ځکه د مد محل موجود نه دئ.

[4] داسي حروف ټوله اووه دي: نون، قاف، صاد، سین، لام، کاف، میم.

(c) ketabton.com: The Digital Library


وي د هغو په اړه هم دلته هيڅ قاعده نه سته[۱] او کوم حروف چي درې (۳) حرفه وي پر هغو باندي مد کېږي هغه ته مد لازم وايي، د هغه اندازه هم درې (۳) الفه ده[۲] او داسي مد ته مد حرفي وايي. او د دې درې حرفيزه مقطعاتو پر آخر حرف باندي چي د ويلو په وخت کي شد راسي هغه ته مد حرفي مثقل وايي.[۳] لکه په الٓمٓ کي چي هر کله لام د ميم سره ووايو نو د هغه په آخر کي شد پيدا کېږي[۴] او په کومو حروفو کي چي شد نه سته هغو ته مد حرفي مخفف وايي. لکه په الٓمٓ کي د ميم په آخر کي شد نه سته.[۵]

**(۱) يادونه:**

په درې (۳) حرفيزه مقطعاتو کي چي مد ښوول سوی دئ په هغو اکثرو کي د مابين حرف مده دئ چي د هغه حرف مده وروسته په بعضي ځايو کي

---

[۱] داسي حروف ټوله پنځه دي: حا، ياء، طا، ها، را. په دې پنځو حروفو کي مد اصلي سته ځکه چي محل مد الف دئ او هغه سته ليکن د دې وروسته د مد سبب (همزه يا سکون يا تشديد) يو هم نه سته ځکه نو مد فرعي هم نه کېږي.

[۲] دلته د جمهورو د قول موافق د پنځو الفو اندازه په ياد کړئ.

[۳] لنډ تعريف داسي په ياد کړئ: د حرف مد وروسته حرف که چيري مشدد وي او دا حرف مد د حروف مقطعاتو څخه وي نو دې ته مد لازمي حرفي مثقل وايي.

[۴] د ميم ساکن په قاعدو کي، تاسو ته تېر سول چي که چيري د ميم ساکن وروسته ميم وی نو هلته ادغام کېږي او د ادغام په سبب ميم مشدد کېږي. د همدې قاعدې مطابق د لام په ميم کي او د ميم په اول ميم کي ادغام وسو او تشديد راغلي. همداسي طسٓمٓ چي په اصل کي طا سين دئ، د يرملون په قاعده سره د نون ادغام په ميم کي وسو، د ادغام په سبب تشديد راغلي او همدا ډول په سين کي هم مد لازمي حرفي مثقل پيدا سو.

[۵] همدا ډول په الٓر کي مد لازمي حرفي مخفف سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ساکن حرف وي. لکه په میم کي یاء مده ده او د هغې څخه وروسته میم ساکن دئ او په بعضي نورو ځایو کي بیا د حرف مده وروسته مشدد وي، پر داسي مده باندي همېشه په داسي ځایو کي مد کېږي، نو په داسي ځایو کي خو مد کول د عامي قاعدې موافق دئ.

البته په کومو حروف مقطعاتو کي چي مابین حرف مده نه وي، لکه په کٓهٰیٰعٓصٓ کي چي عین دئ[1] دلته مد کول د عامي قاعدې موافق نه دئ، نو له همدې سببه که چیري مد و نه کړل سي نو بیا هم صحیح دئ، لیکن بهتره خبره دا ده چي مد وکړل سي[2] او دې مد ته مد لازم لین وایي.

**(۲) یادونه:**

کوم حروف مقطعات چي په آخر کي دي پر دوی باندي مد هغه وخت کېږي چي هر کله پر دوی باندي وقف وکړل سي. او که چیري د وروسته حرف سره یو ځای کړل سي نو بیا مد کول او نه کول دواړه جائز دي. لکه د سورة آل عمران په شروع کي چي الٓمٓ دئ، که چیري د "الله" د لفظ سره چي تر ده وروسته دي یو ځای کړل سي نو په مد کولو او نه کولو کي اختیار دئ.[3]

---

[1] د مد لازم لین مثال په ټول قرآن کي یوازي حرف عین دئ کوم چي دوه ځایه د سورة مریم او سورة شوری په مقطعاتو کي راغلی دئ.

[2] طول افضل دئ؛ د ابن مجاهد رحمه الله او اکثرو اکابرو علماوو همدا مذهب دئ. توسط هم جائز دئ بلکي ابن غلبون او مکي (رحمهما الله) او یو جماعت دا خوښوي. او قصر هم جائز دئ. (نهایة القول المفید، ص: ۱۳۰)

[3] طول او قصر یوازي دوې وجهي جائز دي، توسط نهایت ضعیف دئ. (نهایة القول المفید، ص: ۱۳۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپږمه قاعده:**

که چیري د حرف مده وروسته حرف ساکن وي چي د هغه سکون اصلي نه وي یعني پر هغه باندي د وقف له سببه سکون راغلی وي (او دا سکون مقابل دئ د هغه سکون کوم چي د درېیمي قاعدې په اول کي تېر سوی دئ)، نو پر داسی ساکن باندی مد کول جائز دئ او نه کول هم صحیح دئ خو مد کول یې ښه دئ. لکه په اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعَالَمِیۡنَ باندي او دې ته مد وقفي او مد عارض هم وایي او دا مد د درو (۳) الفو برابر دئ[1] او دې ته طول وایي.

دا هم جائز ده چي د دوو (۲) الفو برابر مد وکړل سي او دې ته توسط وایي.

دا هم جائز ده چي بالکل مد و نه کړل سي یعني د یوه الف برابر وویل سي. که چیري تر دې کم سي نو حرف به پاته نه سي(راتلونکې درېیمه یادونه وګورئ!) او دې اندازې ته قصر وایي په دې کي افضل طول دئ، بیا توسط، بیا قصر دئ.

دا هم په یاد ولرئ چي د دې درو (۳) طریقو څخه چي کومه طریقه اختیاره کړي د تلاوت تر ختمېدو پوري د هغې طریقې موافق روان سئ، داسي مه کوئ چي یو ځای طول، بل ځای قصر ځکه چي دا بې خونده یا بد معلومېږي او دا هم د مد جائز یو قسم دئ.

---

[1] یعني طول د شپږو (٦) حرکتو په اندازه، توسط د څلور حرکتو په اندازه او قصر د دوو حرکتو په اندازه. په یاد ولرئ چي په مد متصل او مد منفصل کي توسط کېږي او د مد لازم په څلورو اقسامو کي یوازي طول کېږي او په مد عارضي وقفي او مد لین عارض کي طول، توسطا و قصر درې سره جائز دي.

په کوم ځای کي چي په خپله پر مده باندي وقف وي هلته دا مد نه کېږي.
لکه بعضي خلک پر غَفُوۡرًا او شَكُوۡرًا باندي وقف وکړي نو مد کوي[۱] چي دا بالکل غلط دئ.

**(۱) یادونه:**

مد عارض لکه څه دول چي پر مده باندي جائز دئ همدا رنګه پر لین باندي جائز دئ یعني واؤ ساکن چي د هغه مخکي زور وي او یاء ساکنه چي د هغې مخکي زور وي. (پنځمه روښنایي، دیارلسم صفت ییا وګورئ!) لکه: وَالصَّيۡفِ یا پر مِنۡ خَوۡفٍ باندي چي وقف وکړل سي او څه ډول چي طول جائز دئ دا ډول توسط او قصر هم جائز دي، لیکن په دې کي افضل قصر دئ، بیا توسط، بیا طول دئ او دې مد ته مد عارض لین وایي.

**(۲) یادونه:**

د حرف لین متعلق یوه قاعده د یوولسمي روښنایي په پنځمه قاعده، لومړۍ یادونه کي هم تېره سوې ده و یې ګورئ! ځکه چي په هغو حروف مقطعه وو کي چي عین دئ د هغه یاء حرف لین دئ.

**(۳) یادونه:**

تر دې ځایه پوري چي څومره اقسام د مد ذکر سوي دي دې ټولو ته مد فرعي ویل کېږي،[۲] ځکه چي د اصل څخه زائد دئ او بل مد اصلي دئ چي و

---

[۱] یعني الف د خپل اصلي مقدار څخه ډېر کشوي کوم چي صحیح نه دئ. همدا ډول په یاد ولرئ چي پر داسي ځای باندي اکثره خلک د الف وروسته همزه یا ها زیاته وي کوم چي غلط دئ.

[۲] د حروف مده بیان څنګه چي په سر کي راغلی دئ مصنف رحمه الله هغه وروسته بیان کړه، اصلاً هغه مخکي بیانول پکار وو. د مد اصلي یا مد ذاتي یا مد طبعي تعریف داسي=

(c) ketabton.com: The Digital Library


دي ته ذاتي، او طبعي هم ويل کېږي. يعني د الف، واؤ او ياء دومره اندازه چي که چيري د هغه اندازه څخه کم وويل سي نو هغه حرف به پاته نه سي، بلکي زور، يا زير يا پيښ به پاته سي او د دې له پاره يوه خاصه قاعده نه سته.

**اوومه قاعده:**

دا قاعده په حروف مده کي يوازي د الف متعلق ده؛ هغه دا چي الف په خپله باريک ويل کېږي ليکن که چيري د الف مخکي که يو حرف ډک وي يا د حروف مستعليه وو څخه يو حرف وي چي د هغو بيان د پنځمي روښنايي په پنځم صفت کي تېر سوی دئ، يا حرف را وي چي د فتحې په حالت کي ډک ويل کېږي، يا ډک لام وي. لکه چي د "الله" د لفظ لام دئ چي د دې لام مخکي زور يا پيښ وي نو په دې صورت کي به الف هم ډک ويل کېږي.

پوهېدل پکار دي چي د دې حروفو په ډکوالي کي هم فرق سته،[1] نو همدغه ډول فرق به د الف په ډکوالي کي وي کوم چي د دې حروفو وروسته

---

=وکړئ: چي د حرف مد وروسته همزه يا سکون يا تشديد نه وي د همدې نه موجوديت په خاطر دئ، د خپل اصلي مقدار څخه نه زياتېږي يعني د خپلي اصلي مقدار مطابق به يې وايي. او مد فرعي دا دئ: چي د حرف مد وروسته د يو سبب (همزه، سکون او تشديد) په خاطر هغه د خپل اصلي مقدار څخه زيات کشېږي چي د هغه نهه (۹) اقسام تېر سول.

[1] حروف مُفخمه ټول لس حروف دي؛ اووه حروف مستعليه دي د کومو تفخيم چي اصلي دي. درې نور لام جلاله، را او الف د کومو تفخيم چي عارضي دي چي کله وي او که نه وي، لکه څنګه چي د درو سره قاعدې پر خپل خپل ځای بلاندي تيري سوي دي. حضرت مصنف رحمه الله چي د حروفو د ډکوالي کوم فرق بيان کړی دئ هغه په حروف مفخمه کي د "مراتب" په لفظ سره تعبير کېږي. بله مسئله چي دلته نه ده بيان سوې هغه د "تفخيم مراتب" دي د دې تشريح دا ده: چي د حروفو د تفخيم ظهور هغه وخت ډېر وي چي کله حرف مفخم مفتوح وي او د هغه وروسته الف وي. لکه: طَآلَ. يا حرف مفخم مفتوح وي خود هغه وروسته =

(c) ketabton.com: The Digital Library


راسي، نو تر ټولو زيات ډک خو د "الله" د لفظ لام دئ، د هغه څخه وروسته طا ده، د هغه وروسته قاف دئ، د هغه وروسته غين او خا ده، د هغه وروسته را ده. [1] (حقيقة التجويد)

---

=الف نه وي. لکه: ضَلَالٍ. يا حرف مفخم مضموم وي. لکه: قُرِئَ. يا حرف مفخم مکسور وي. لکه: ظِلِّ. او ساکن مفخم د ماقبل د حرکت تابع دئ.

[1] وَ فِيهَا فَإِذَا وَقَعَ بَعْدَهَا (اَیْ اَلْحُرُوْفُ الْمُفَخَّمَةِ) اَلِفٌ فُخِمَ الْاَلِفُ. لِاَنَّهُ تَابِعٌ لِمَا قَبْلَهُ بِخِلَافِ اُخْتَيْهَا فَإِنَّهُ إِذَا وَقَعَ بَعْدَهَا وَاوٌ اَوْ يَاءٌ فَلَا يُؤَثِّرُ تَفْخِيمُهَا فِيهِمَا الخ. منهرح يعني که چيرې تر حروف مفخمه وروسته الف راسي نو الف ډک ويل کيږي، په خلاف د واؤ او ياء ځکه د حروف مفخمه وروسته که دا دوه حروف راسي نو د حروف مفخمه تفخيم په دوی دوو کي اثر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوولسمه روښنايي

## (د همزه په قاعدو کي)

د همزه بعضي قاعدې د عربي کتابو د ويلو څخه ماسېوا په ذهن کي نه راځي. د دې له پاره دلته يوازي دوې (۲) قاعدې ذکر کوو ځکه چي د قرآن کريم د ټولو تلاوت کوونکو اړتيا ورته سته.

**لومړۍ قاعده:**

د څلورويشتمي (۲۴) سېپارې په پای کي په يوه آيت کي داسي راغلي دي: ءَاَعْجَمِيٌّ. نو د دغه حرف دا دوهمه همزه لږ په نرمي سره واياست[1] او دې ته تسهيل وايي.[2]

---

[1] يعني د الف او همزه په مابين کي يې ادا کړئ چي نه په ډېر شدت او سختي سره وي، چي هغه ته تحقيق وايي او نه د الف په ډول په نرمي سره ادا سي.

[2] دا تسهيل واجب دئ او شپږ نوري کلمې "آلْئٰنَ" دوه ځايه په سورة يونس کي، "آللّٰهُ" يو ځای په سورة يونس کي او بل ځای په سورة النمل کي. او "ءَالذَّكَرَيْنِ" دوه ځايه په سورة الانعام کي، د دوهم همزه پر ځای الف په تسهيل سره بې له د مد د ادا کولو هم جائز دئ. په دې شپږو (٦) کلمو کي تسهيل جائز دي، پاته په ټول قرآن کي هر ځای همزه په تحقيق سره ويل ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوهمه قاعده:**

د سورة الحجرات په دوهمه رکوع کې داسې راغلي دي: بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوْقُ. نو دا داسې ووایاست چې د بِئْسَ پر سین باندې زور ووایاست او دغه بِئْسَ د وروسته حرف سره مه جنګوئ. (یو ځای یې مه وایاست) بیا لام چې د بِئْسَ د سین وروسته دئ هغه ته زیر ورکړئ او د آخرني سین سره یې وجنګوئ. (یو ځای یې ووایاست) بیا میم د وروسته لام سره یو ځای کړئ. خلاصه دا ده چې د اَلِاسْمُ مخکې او وروسته چې کومې دوې (۲) همزې د الف په شکل لیکل سوې دي هغه هیڅکله مه وایاست.



www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# ديارلسمه رونبنايي

## (د وقف کولو[1] يعني پر يوې کلمې باندي د درېدلو په قاعدو کي)

[1] وقف په لغت کي اَلْحَبْسُ، وَالْكَفُّ، وَالْمَنْعُ ته وايي يعني بندول، درول، درېدل او د يوې کلمې آخر د بلي کلمې د اول سره د يو ځای کولو څخه منع کول. لکه عرب چي وايي: وَقَفْتُ الدَّابَّةَ وَاَوْقَفْتُهَا اِذَا حَبَسْتَهَا عَنِ الْمَشْيِ. يعني ما خپله دابه (چارپايه) د تګ څخه بنده کړه او مي وتړل. او د قرآوو په اصطلاح کي د وقف جامع تعريف دا دئ: قَطْعُ الصَّوْتِ مَعَ قَطْعِ النَّفَسِ (اَوْ قَطْعُ الصَّوْتِ زَمَنًا فِيهِ عَادَةً) فِيْ آخِرِ الْكَلِمَةِ الْمَقْطُوْعَةِ عَمَّا بَعْدَهَا رَسْمًا بِنِيَّةِ اِجْرَاءِ التِّلَاوَةِ مَعَ اِثْبَاتِ كَيْفِيَّةِ الْوَقْفِ مِنْ اِسْكَانِ الْمُتَحَرِّكِ وَ اِبْدَالِ التَّاءِ الْمَرْبُوْطَةِ هَاءً وَ النَّصْبِ اَلِفًا وَ غَيْرِ ذٰلِكَ. (ژباړه): کومه کلمه چي د کتابت او رسم خط له مخي د وروستي کلمې څخه جلا وي، د دې کلمې پر آخري حرف باندي د تلاوت د جاري ساتلو په نيت (يعني د تلاوت د ختم کولو او بندولو څخه ماسېوا) آواز او ساه دواړه بندول (يا يوازي آواز دومره بندول په کوم کي چي عادتاً او معمولاً ساه اخيستل کېږي د کوم اندازه چي تقريباً د يو الف برابره ده) او همدا ډول پر آخري حرف باندي د وقف قاعده هم جاري کول يعني د متحرک ساکن کول، ګردی تا (ة) په ها بدلول، د دوو زورو تنوين په الف سره بدلول او داسي نور.

اوله خبره دا ده چي وقف د کلمې پر آخر باندي وي د کلمې په مابين کي وقف کول صحيح نه دئ. د مثال په ډول د قَالُوْا پر لفظ باندي وقف کول صحيح دئ خو پر قاف باندي وقف کول صحيح نه دئ. دوهم خبره دا ده چي په قرآن کي په بعضي ځايو کي ځيني لفظونه يو ځای ليکلي وي که څه هم د عربي ژبي په اعتبار سره جلا جلا الفاظ دئ ليکن د يو ځای د ليکل کېدو په وجه د يو لفظ په حکم کي دئ. د مثال په ډول اَيْنَمَا که څه هم د عربي په اعتبار سره دوه لفظه دي يو اَيْنَ او بل مَا دئ، خو د يو ځای د ليکل کېدو په سبب سره د اَيْنَمَا پر الف=

(c) ketabton.com: The Digital Library


د علم تجوید اصلي مقصد د مخارجو او صفاتو بحث دئ چي د خدای ﷻ په فضل سره د ضرورت په اندازه ولیکل سول او پاته دري (۳) علوم یعني علم اوقاف،[1] علم قرآئت،[2] علم رسم خط (عثماني)[3] د علم تجوید د تکمیل له پاره دي، لیکن د علم اوقاف یو بحث[4] د وقف کولو قاعدې دي.

---

=باندي خو وقف صحیح دئ لیکن د اَیْنَ پر نون باندي وقف صحیح نه دئ داسي کلمو ته موصول وایي.

(۱) علم اوقاف پر دوو برخو وېشل کېږي یو دا چي وقف په اعتبار د معنا سره پر کوم ځای وکړل سي؟ د دې جواب په اوله قاعده کي را روان دئ. دوهم دا چي وقف څنګه وکړو؟ د دې جواب په راتلونکو دوهمه، دریمه او څلورمه قاعدو کي را روان دئ.

(۲) د علم تجوید او علم قرآئت دواړو موضوع خو الفاظ قرآني دي، لیکن فرق دا دئ چي په تجوید کي د حروفو د مخارجو او صفاتو او د هغو د متفق علیها څخه بحث کېږي. او په علم قرآئت کي د احوال مختلف فیها څخه بحث کېږي. د مثال په ډول: حذف او اثبات، تحریک او تسکین، مد او قصر، فتح او اماله، تحقیق او تخفیف او داسي نور. (شرح سبعه قرآءات، ص: ۱۱۰)

(۳) یعني د حضرت عثمان غني رضي الله عنه په زمانه کي چي د قرآن کریم د تحریر او الفاظو چي کوم شکل اختیار کړل سو او حضرت عثمان غني رضي الله عنه د قرآن د لیکلو بندوبست وکړي او ځای پر ځای یې ولېږل او پر دغه تحریر باندي د ټولو صحابه وو رضي الله عنهم اجماع وسوه. د دغه تحریر علم او د هغه قواعد او ضوابطو ته علم رسم خط وایي. قرآن کریم د دغه خاص رسم خط خلاف لیکل جائز نه دئ، د امت د ټولو علماوو پر دې باندي اجماع ده او دا یو وسیع او پراخه فن دئ کوم ته چي رسم خط وایي.

(۴) وَالْبَحْثُ الْاٰخِرُ اَقْسَامُ الْوَقْفِ مِنَ الْحُسْنِ وَالْقَبِیْحِ وَالتَّامِ وَغَیْرِهِ. (جهد المقل) لَمْ اَذْکُرْهُ کَالْبَاقِیْنِ لِاَنَّهَا لَا تَتَعَلَّقُ بِالتَّجْوِیْدِ. یعني بل بحث چي د وقف اقسام دئ لکه وقف حسن، وقف قبیح او وقف تام او داسي نور، ما دلته نه دي ذکر کړي لکه څنګه چي نورو ذکر کړي دي، ځکه چي دا په تجوید پوري اړه نه لري. منه

(c) ketabton.com: The Digital Library


**لومړۍ قاعده:**

کوم سړی چي د قرآن کریم په معنا نه پوهېږي هغه ته پکار ده چي پر هغه ځایو باندي وقف وکړي چي په قرآن کریم کي د وقف علامه وي، بې له ضرورته دي په مابین کي نه دریږي. (۱) خو که چیري یې په مابین کي ساه ختمه سي نو مجبوري ده، که چیري د مجبوري څخه داسي وسي نو پر کومه کلمه چي دریدلي وي د هغې کلمې څخه یا د هغه څخه مخکي دي شروع کړئ(۲) او د وروسته کلمې سره دي یو ځای کړئ.

په دې ځان پوهول چي د دې کلمې څخه یې ووایم او که د مخکي کلمې څخه یې ووایم بې له دې چي د قرآن کریم په معنا پوهېږي مشکله ده، تر څو چي د معنا د پوهېدلو وړتیا و نه لري د شبهې په ځای کي دي د یوه عالم څخه پوښتنه وکړئ. او په داسي مجبوري وقف کي یو دا الحاظ کوئ چي د کلمې په مابین کي وقف مه کوئ بلکي د کلمې پر آخر باندي وقف کوئ.

دا هم وپېژنئ چي پر حرکت باندي د وقف کول غلط دئ لکه څنګه چي اکثره خلک یې کوي. د مثال په ډول د یوه سړي ساه د سورة البقرې په شروع کي د بِمَآ اُنْزِلَ اِلَیْکَ پر کاف باندي ختمه سي، نو په دې وخت کي کاف باید

---

(۱) یعني د دغو نښانو په مابین کي دي نه دریږي او د دې نښانو مطلب دا دئ چي یا خو دي پر گول آیت (ۃ) باندي ودریږي چي و دې ته وقف منزل هم وایي. د آیت په مابین کي چي کوم "م"، "ط"، "ج"، "ز"وي دا ټول د وقف نښانونه دي او د دې نښانو څخه ماسېوا که چیري ودریږي نو د وروسته څخه دي بېرته را وګرځوي.

(۲) د کوم ځایه څخه چي جمله پوره کېږي یا بله جمله شروع کېږي د هغه ځای څخه دي بېرته را وګرځوي، ځکه نو د قاري له پاره لږ تر لږه ابتدایي عربي او د قرآن کریم د ترجمې زده کړه ډېره ضروري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساکن کړئ، په زور وقف مه کوئ. همدا ډول بې له ساه اخیستو وقف نه کېږي لکه بعضي خلک د آیت پر ختمېدو باندي ساکن حرف ووایي، خو بې له نوي ساه اخیستو دوهم آیت شروع کړي دا هم د قاعدې خلاف دئ.

دا هم هم په یاد ولرئ چي د داسي مجبوري په وخت کي چي پر یوه کلمه باندي وقف وکړي، نو هغه کلمه چي څه ډول لیکل سوې ده د هغې موافق وقف وکړئ که څه هم هغه بل ډول ویل کېږي، د ویلو موافق وقف مه کوئ. د مثال په ډول د اَنَا په لفظ کي چي کوم الف د نون وروسته راغلی دئ هغه د وصل په حالت کي نه ویل کېږي، خو که چیري پر دغه کلمه باندي وقف وکړو نو دغه الف به هم وایو. هر کله چي دغه کلمه بېرته راګرځوو نو په دې وخت کي څنګه چي یې د مابعد یعني د وروسته کلمې سره یې یو ځای وایو د دې وجهي به الف نه وایو. په دې خبرو ځانونه ښه پوه کړئ او په یاد یې کړئ ځکه چي په دې کي لوي لوي حافظان تېروتني کوي.

**یادونه:**

د ذکر سوي قاعدې په آخر کي چي لیکل سوي دي "چي هغه کلمه چي څه ډول لیکل سوې ده د هغې موافق دي وقف وکړئ"[1] د دې قاعدې څخه دا الفاظ مستثنٰی دي:

---

[1] ځکه ویل سوي دي چي وقف د رسم الخط تابع دئ. د مثال په ډول ګردی یا ګول تا (ة) چي په صورت کي د ها وي دا په وقف کي په ها سره بدلېږي. د دوو زورو تنوین په صورت د الف لیکل سوی وي له دې سببه دا په وقف کي په الف سره بدلېږي ماسېوا د زیر او پیښ د تنوین څخه چي هغه د هیڅ حرف په شکل نه دي لیکل سوی، نو ځکه په وقف کي د تنوین نون حذف کېږي. د "کَاَیِّنْ" په لفظ کي نون ویل کېږي په داسي حال کي چي نون تنوین دئ ځکه چي لیکل سوی دئ. دا لفظ په اصل کي "کَاَیِّ" دئ. بِهٖ، لَهٗ او په داسي نورو لفظو کي=

(c) ketabton.com: The Digital Library


اَوۡ يَعۡفُوَا د سورت البقرې په يو دېرشمي (۳۱) ركوع كي، اَنۡ تَبُوۡٓءَا د سورة المائدې په پنځمي ركوع كي، لِتَتۡلُوَا د سورة الرعد په شلورمي ركوع كي، لَنۡ نَدۡعُوَا د سورة الكهف په دوهمه ركوع كي، لِيَرۡبُوَا د سورة الروم په شلورمي ركوع كي، لِيَبۡلُوَا د سورة محمد په اولي ركوع كي، نَبۡلُوَا د سورة محمد په شلورمي ركوع كي، ثَمُوۡدَا شلور ځايه؛ په سورة هود، سورة الفرقان، سورة العنكبوت او سورة النجم كي او بل دوهم قَوَارِيۡرَا د سورة الدهر په لومړۍ ركوع كي. (قَوَارِيۡرَا دوه ځايه دئ) په دې ټولو الفاظو كي الف په هيڅ حالت كي نه ويل كېږي نه د وصل په حالت كي او نه د وقف په حالت كي.

د "لٰكِنَّا" لفظ خاص په سورة الكهف كي، الظُّنُوۡنَا. الرَّسُوۡلَا. السَّبِيۡلَا دا درې سره په سورة الاحزاب كي، سَلَاسِلَا او اول قَوَارِيۡرَا دا دواړه په سورة الدهر كي او د "اَنَا" لفظ چي هر ځاى په قرآن كي راسي. په دې ټولو الفاظو كي الف د وصل په حالت كي نه ويل كېږي او د وقف په حالت كي الف ويل كېږي خو يوازي د "سَلَاسِلَا" لفظ د وقف په حالت كي بې له الف ويلو هم مروي دئ يعني سَلَاسِلۡ.

---

=وقف د ها په ساكنولو سره كېږي او د هغه ولاړ زور يا چپه پېښ څخه پيدا كېدونكى حرف مد په وقف كي نه ويل كېږي، ځكه چي دا حروف ليكلي نه دي. غرض دا چي دا اصول دي چي وقف د رسم الخط تابع دئ او د دې ډېر لوي اصول او قواعد دي چي د دې تفصيل په لويو كتابو كي دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوهمه قاعده:

پر کومه کلمه چي وقف سوی وي که چيري هغه کلمه ساکنه وي نو په هغه کي د څه ويلو ضرورت نه سته،[(۱)] خو که چيري هغه کلمه متحرکه وي نو پر هغه باندي د وقف کولو دري (۳) طريقه دي:

**يوه طريقه خو دا ده:**

چي ټوله په پوهيږي چي هغه کلمه ساکنه کړل سي.[(۲)]

**دوهمه طريقه دا ده:**

چي پر هغه کلمه باندي چي کوم حرکت دئ د هغه حرکت ډېره لږ حصه ښکاره کړل سي او دې ته روم ويل کيږي، د روم اندازه د حرکت درېيمه برخه ده. روم په زور کي نه جاري کيږي يوازي په پېښ او زير کي جاري کيږي. لکه د بِسۡمِ اللّٰهِ د ختمېدو په وخت کي پر آخري ميم باندي لږ زير ويل چي يوازي نژدې کسان يې واوري. يا د نَسۡتَعِيۡنُ پر نون باندي لږ پېښ ووايي[(۳)] او د رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ پر نون باندي څنګه چي زور دئ نو دلته به دا سي نه وي.

---

(۱) يعني دا ساکن به په وقف کي هم ساکن ويل کيږي، البته د وقف کولو اثر به دا وي چي ساه به ا خيستل کيږي. مثلاً: فَارۡغَبۡ. وَانۡحَرۡ. فَحَدِّثۡ. مِنۡهُمۡ. لَهُمۡ او داسي نور.

(۲) په وقف کي اصل او عامه طريقه همدا ده لکه څنګه چي ابتدا په ساکن سره نه کيږي همدا ډول وقف پر حرکت باندي نه کيږي. مخکي ذکر سول چي پر حرکت باندي وقف صحيح نه دئ. د وقف بالسکون په هکله د بعضي علماوو رايه دا ده چي دا واجب شرعي دئ چي پر فعل باندي ثواب او پر ترک باندي عذاب وي. بعضي علماوو فرمايلي دي چي دا يو فني او اصطلاحي خبره ده، د قاري له پاره د دې پرېښوول او پر کامل حرکت باندي وقف کول ډېر قبيح او لايق د تعزير دئ. (نهاية القول المفيد، ص: ۲۰۵)

(۳) د لږ زير او لږ پېښ مطلب دا دئ چي د حرکت په ادا کي آواز کښته کړل سي. د صحيح ادا کولو طريقه د يوه مشاق استاد څخه په اورېدلو سره زده کولای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**درېیمه طریقه دا ده:**

چي هغه حرکت ته اشاره یوازي په شونډانو سره وسي. یعني حرکت به کرسره نه وایو،[۱] بلکي د هغه حرکت د ښکاره ویلو په وخت کي چي شونډان څه ډول جوړېږي هغه ډول دي شونډان جوړ سي او هغه حرف دي بالکل ساکن وویل سي، دې ته اشمام وایي او دا نژدې کسان هم نه سي اورېدلای. ځکه چي په دې کي حرکت په ژبه سره نه دي ادا سوی، خو سترګو والا (بینا) چي د تلاوت کوونکی شونډانو ته وګوري، نو پوهېږي چي ده اشمام وکړي او اشمام یوازي په پېښ کي کېږي په زور او زیر کي نه کېږي. د مثال په ډول د نَسْتَعِیْنُ پر نون باندي پېښ دئ دا پېښ خو ګرسره مه وایاست، نون ګرسره ساکن وو ایاست خو شونډان د نون د ادا کولو په وخت کي داسي جوړ کړئ لکه د پېښ د ویلو په وخت کي چي سره را ټولېږي یعني د شونډانو څخه د مشوکی شکل جوړ کړئ.

**درېیمه قاعده:**

د کومي کلمې په آخر کي چي تنوین وي هلته هم روم جائز دئ، خو د حرکت د ښکاره کولو په وخت کي دي د تنوین یوه برخه نه ښکاره کوي.[۲]

(تعلیم الوقف. حضرت قاري عبدالله صاحب مکي رحمه الله)

---

[۱] یعني موقوف علیه حرف (د کلمې هغه آخري حرف پر کوم چي وقف کېږي) ساکن وویل سي او د هغه څخه وروسته ژر په انضمام شفتین سره د هغې ضمې و طرف ته اشاره وسي.

[۲] یعني په کښته آواز سره به یو پېښ یا یو زیر وویل کېږي. د مثال په ډول: اَحَدٌ. بَصِیْرٌ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**ځلورمه قاعده:**

هغه تا چي د ها (ة) په شکل ګردی، لیکل کېږي[۱] خو پر دې باندي ټکي هم وي که چیري پر داسي تا باندي وقف وسي هلته د دوو خبرو خیال کوئ؛ یو خو دا چي دا تا د ها په ډول وایاست او دوهم دا چي هلته روم او اشمام مه کوئ.

**پنځمه قاعده:**

روم او اشمام پر عارضي حرکت باندي نه کېږي. لکه پر وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ باندي چي یو سړی د وَلَقَدْ پر دال باندي وقف وکړي،[۲] نو دال ساکن ویل پکار دئ د دې پر زیر باندي روم مه کوئ ځکه چي دا حرکت عارضي دئ. (تعلیم الوقف)

په دې باندي هم عربي پوه پوهېږي چي دا حرکت اصلي دئ او دا حرکت عارضي. که چیري تاسي ته په یو ځای کي شک او شبه پیدا سي د یوه عالم څخه پوښتنه وکړئ.

---

[۱] ګول یا ګردی تا چي د ها په شکل (ة) لیکل کېږي هغه ته تاء مدوره وایي او کومه تا چي اوږده وي هغې ته تاء مجروره یا طویله وایي. د تاء مدوره مثالونه لکه: اَلْجَنَّةُ، اَلْمَلَائِكَةُ، اَلْقِبْلَةُ، اَلْبَرِيَّةُ او داسي نور. د تاء طویله مثالونه لکه: وَاذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللهِ، اِلٰی اٰثَارِ رَحْمَتِ اللهِ، اِمْرَاَتُ الْعَزِيْزِ او داسي نور. تاء طویله په وقف کي تا ویل کېږي او روم او اشمام هم پر کېدای سي او تا مدوره په وقف کي په هاء ساکنه سره بدلېږي.

[۲] همدا ډول د "وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ" پر میم باندي روم یا اشمام نه سي کېدای، ځکه په اصل کي میم ساکن دئ او ضمه عارضي ده یو ازي وقف بالاسکان کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شپږمه قاعده:**

پر کومه کلمه باندي چي وقف وسي که چيري د هغې کلمې پر آخر حرف باندي تشديد (شد) وي، نو په روم او اشمام کي به تشديد[1] پر خپل حال باندي پاته وي. (تعليم الوقف)

**اوومه قاعده:**

پر کومه کلمه چي وقف وسي که چيري د هغې کلمې پر آخر باندي د دوو (۲) زورو تنوين وي، نو د وقف په حالت کي به هغه تنوين په الف سره بدلېږي.[2] د مثال په ډول يو ځوک پر فَاِنۡ كُنَّ نِسَآءً باندي وقف وکړي نو داسي به يې وايي: نِسَآءَا.

**اتمه قاعده:**

د کوم مد وقفي بيان چي د يوولسمي روښنايي په شپږمه قاعده کي ذکر سوی دئ، که چيري په روم سره وقف وسي نو په دې وخت کي مد نه کېږي. د

---

[1] هغه مشدد حرف چي په هغه کي غنه نه کېږي (ماسېوا د نون او ميم څخه) د هغه د تشديد د ادا کولو په وخت کي سرعت وي. لکه: وَتَبَّ، بِالۡحَقِّ، اَلۡمَفَرُّ، فَطَلٌّ، صَوَآفَّ او داسي نور. پر دې موقوف عليه مشدد باندي د وقف په حالت کي دومره وخت تېرول پکار دئ لکه د وصل په حالت کي او په کوم مشدد کي چي غنه وي نو د غنې په سبب سره په هغه کي يو څه تراخي او ځنډ پکار دئ. لکه: مِنۡ بَعۡدِ الۡغَمِّ. وَلَا جَآنٌّ او داسي نور. همدا ډول واوُ مشدد او ياء مشدده چي موقوف عليه وي نو په وقف کي دا خيال ساتل پکار دئ چي مشدد ادا سي او مده نه سي. لکه: عَدُوٌّ، مِنۡ نَّبِيٍّ. (نهاية القول المفيد)

[2] د دوو زورو په تنوين کي هر ځای همدا قاعده ده. لکه: اَفۡوَاجًا، عَلِيۡمًا، جُزۡءٌ، سَوَآءٌ او داسي نور. خو د دغه قاعدې څخه تاء مدوره يعني ګول تا مستثنیٰ ده، تاء مدوره په هر صورت کي په هاء ساکنه سره بدلېږي. لکه: حَسَنَةً، رَحۡمَةً، مَوۡعِظَةً او داسي نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثال په ډول الرَّحِيۡمِ یا نَسۡتَعِيۡنُ کي که چیري د پېښ یا زیر لږ څه حصه ښکاره کړل سي نو بیا مد مه کوئ. [1] (تعلیم الوقف)

# څوارلسمه روښنایي

## (د مختلفو ضروري فایدو په بیان کي)

که څه هم د دې ځیني فایدې پورته هم ذکر سوي خو څنګه چي د نورو مضمونو په ضمن کي بیان سوي دي شاید فکر به مو نه وي ورته سوی، د دې له پاره مي هغه بیا ولیکلې او ډېري نوي فایدې هم پکښي ستة.

**لومړۍ فایده:**

د سورة الکهف په پنځمه رکوع کي "لٰكِنَّاْ هُوَ اللّٰهُ" یعني په لٰكِنَّاْ کي الف لیکلی دئ خو نه ویل کېږي. خو که چیري څوک پر دې باندي وقف وکړي نو په دې وخت کي به دا الف ویل کېږي.

**دوهمه فایده:**

د سورة الدهر په اول کي "سَلَاسِلَا" یعني د دوهم لام وروسته هم الف لیکلی دئ خو دا هم نه ویل کېږي، خو د وقف په حالت کي الف ویل او نه ویل دواړه

[1] یعني د مد عارضي وقفي د اصولو سره سم په دې کي طول یا توسط کول صحیح نه دئ، بلکي د وصل په ډول به یوازي قصر کوو، ځکه چي د مد سبب سکون وي او د روم په سبب سره هغه پاته نه سو نو مد به هم نه کېږي. خلاصه دا سوه چي روم په حرکت کي داخل دئ او اشمام په سکون کي داخل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


صحیح دي او د اول لام وروسته چي کوم الف لیکلی دئ[۱] هغه په هر حال کي ویل کېږي.[۲]

**دریېمه فایده:**

په همدغه سورة الدهر کي مابین ته نژدې قَوَارِیْرَا، قَوَارِیْرَا دوه ځلي راغلی دئ او د دواړو په آخر کي الف لیکلی دئ، نو د دې قاعده دا ده چي په دوهم ځای کي الف په هیڅ حالت کي نه ویل کېږي که د وقف حالت وي او که نه وي.

او په اول ځای کي که چیري وقف وسي نو الف ویل کېږي او که چیري وقف نه وسي نو الف نه ویل کېږي، خو ډېر عادت دا دئ چي په اول ځای کي وقف کوي[۳] او په دوهم ځای کي وقف نه کوي. په دې صورت کي په اول ځای کي الف وایاست او په دوهم ځای کي الف مه وایاست.

**څلورمه فایده:**

په قرآن کي یو ځای اماله ده. یعني په سورة هود کي چي کوم "بِسْمِ اللهِ مَجْرٖهَا" دئ. د دې بیان د اتمي روښنایي په څلورمه قاعده کي وګورئ!

**پنځمه فایده:**

په سورة حم السجدة کي یو ځای تسهیل دئ، هغه دا دئ: ءَاَعْجَمِیٌّ. د دې بیان د دوولسمي روښنایي په لومړۍ قاعده کي تېر سوی دئ و یې ګورئ!

---

[۱] د قرآن کریم په رسم الخط کي د اول لام وروسته الف لیکلی نه دئ، بلکي پر دې باندي ولاړ زور دئ، ګویا موصول لیکلی دئ داسي: سَلٰسِلَا.

[۲] ځکه چي دا د کلمې مابین دئ او د کلمې په مابین کي وقف کول صحیح نه دئ.

[۳] ځکه د وقف علامه یعني ګول د آیت علامه پر اول قَوَارِیْرَا (ۨ) باندي ده، نو وقف هم پر دې باندي کول مناسب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شپږمه فایده:**

په سورة الحجرات کې په بِئۡسَ الِاسۡمُ کې د اَلِاسۡمُ همزه نه ویل کیږي بلکې د دې لام به د دې سین سره یو ځای کړل سي. د دې بیان د دوولسمې روښنايي په دوهمه قاعده کې تېر سوی دئ.

**اوومه فایده:**

لَئِنۡ بَسَطۡتَّ، اَحَطۡتُّ، مَافَرَّطۡتُّمۡ او مَافَرَّطۡتُّ کې ادغام ناتمام (ناقص) کیږي. یعني طا او تا یو ځای کړئ او مشدد یې کړئ او داسې یې ووایاست چې طا د خپل استعلاء او اطباق سره بې له قلقلې ډکه ادا سي او تا باریکه ادا سي.

په اَلَمۡ نَخۡلُقۡكُّمۡ کې ښه دا دئ[1] چې ادغام تام (پوره) وسي یعني قاف بالکل و نه ویل بلکې قاف دې په کاف سره بدل کړي او دواړه دې یو ځای کړي او مشدد دې وویل سي.[2]

**اتمه فایده:**

په نٓ وَالۡقَلَمِ او یٰسٓ وَالۡقُرۡآنِ الۡحَکِیۡمِ کې د نون او سین وروسته چې کوم واؤ دئ د یرملون د قاعدې موافق چې د هغه ذکر د لسمې روښنايي په درېيمه قاعده کې ذکر سوی دئ په دې واؤ کې ادغام کول پکار دئ، خو ادغام نه کیږي.[3]

---

[1] وَيَجُوۡزُ النَّاقِصُ اَيۡضًا وَهُوَ اَنۡ يَبۡقَى بَعۡضُ صِفَاتِ الۡمُدۡغَمِ. یعني ادغام ناقص هم روا دئ او ادغام ناقص دا دئ چې د مدغم بعضې صفات پاته سي. منه رح

[2] و دې ته ادغام تام ویل کیږي او ادغام ناقص په مثل د بَسَطۡتَّ او نورو هم جائز دئ. یعني قاف بې له قلقلې کاف وویل سي او کاف باریک ادا سي.

[3] عِنۡدَ حَفۡصٍ رحمه الله. منه رح

(c) ketabton.com: The Digital Library


**نهمه فایده:**

د سورة یوسف په دوهمه رکوع کې د لَا تَأْمَنَّا لفظ دئ په دې کې پر نون باندې اشمام کوئ. (۱)

**لسمه فایده:**

په قرآن کریم کې به یو ځای ځای د سکتې لفظ لیکلی ووینې؛ د دې مطلب دا دئ چې هلته لږ و دریږئ خو ساه مه کاږئ او د وقف پاته ټولې قاعدې په دې کې جارې کیږي. د مثال په ډول په سورة القیامة کې مَنْ ^سکتة^ رَاقٍ کلمه ده، نو د یرملون د قاعدې سره سم د مَنْ نون په را کې مدغم کول پکار دئ خو ادغام نه کیږي، ځکه هر کله چې سکته د وقف پر ځای وکړل سوه نو ګواکې هغه اتصال د نون او را په مابین کې نه سو پاته له دې وجهې ادغام نه کیږي.

---

(۱) اِخْتِیَارُهٗ لِاَنَّهٗ سَهْلٌ عَلَی الْاَطْفَالِ وَ یَجُوْزُ الرَّوْمُ اَیْضًا لَا تَأْمَنُنَا. وَ لَا یَجُوْزُ الْاِدْغَامُ الْمَحْضُ. یعني د اشمام غوره کول ځکه چې دا پر ماشومانو باندې آسانه وي او روم هم جائز دئ او محضي ادغام روا نه دئ. منه رح

دلته یوه خبره یاد ساتل پکار ده هغه دا چې لَا تَأْمَنَّا په اصل کې لَا تَأْمَنُنَا وو لومړی نون مضموم او دوهم نون مفتوح دئ او لَا نافیه پر تَأْمَنُنَا داخل دئ، نو په لَا تَأْمَنَّا کې دوې (۲) وجهې روا دي؛ یو دا چې ادغام مع الاشمام وسي چې تر ادغام وروسته د نون د مشدد او د غنې د ادا کولو په وخت کې د لومړي نون د ادا کېدو په وخت کې شونډان را ټول سي او هغه اصل ته اشاره وسي، تر څو لیدونکی پوه سي چې دلته دوه نونان دي او پر اول نون باندې ضمه وه او دا د استاد څخه زده کولای سي. دوهمه وجه دا ده چې اظهار مع الروم وسي یعني د لومړي نون د ضمې دریمه حصه ښکاره کړل سي په دې صورت کې بیا دوهم نون مشدد نه ویل کیږي. یعني یوازې ادغام او یوازې اظهار په لَا تَأْمَنَّا کې غیر د ابو جعفر رحمه الله څخه د نورو امامانو په نزد په کوم کې چې حفص رحمه الله هم شامل دئ جائز نه دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدا ډول په سورة الکهف کي د عِوَجًا سکتة قَيِّمًا کلمه ده که چيري پر عِوَجًا باندي وقف و نه سي او د وروسته لفظ سره يو ځای سي نو اخفاء نه کيږي، بلکي د دوو زورو تنوين به په الف سره بدل سي او سکته به وسي.

په ټول قرآن کريم کي د امام حفص رحمه الله پر روايت باندي ټولي څلور (۴) سکتې دي:

يوه په سورة القيامه کي، دوهمه په سورة الکهف کي چي ذکر سول، دريمه په سورة يس کي مِنْ سکتة مَرْقَدِنَا پر الف باندي چي کله د مابعد يعني د وروسته کلمې سره يو ځای وويل سي. او څلورمه په سورة المطففين کي د کَلَّا سکتة بَلْ پر ساکن لام باندي. بس دا څلور ځايه د دې څخه ماسېوا په سورة الفاتحه کي او نورو سورتو کي هيڅ ځای سکته نه سته.

**يوولسمه فايده:**

په قرآن کريم کي چي هر ځای پېښ راسي هغه به د معروف (معلوم) واؤ په ډول بُو ورکړئ او و يې واياست. او چيري چي زير راغلی وي هغه به د معروفي (معلومي) ياء په ډول بُو ورکړئ او و يې واياست.

زموږ په هيواد کي پېښ داسي ويل کيږي که چيري يې کش کړي نو واؤ مجهول ځني پيدا کيږي او زير داسي وايي که چيري يې کش کړئ ياء مجهوله ځني پيدا کيږي، دغه خبره د عربي ژبي خلاف ده داسي مه کوئ بلکي داسي يې واياست که چيري هغه پېښ کش کړي نو واؤ معلوم به ځني پيدا سي او زير داسي واياست که چيري هغه زير کش کړي نو ياء معلومه (معروفه) به ځني پيدا سي. د پېښ او زير داسي ادا کول د يوه ماهر استاد څخه زده کړئ، کېدای سي چي د دې ليکني په يوازي ويلو سره مو په ذهن کي را نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دوولسمه فایده:**

کله چي پر واؤ مشدد یا پر یاء مشدد باندي وقف وسي نو هلته تشدید (شد) یو څه په سختي سره ویل پکار دئ، تر څو تشدید پر خپل حال پاته وي.

لکه: عَدُوٌّ او عَلَى النَّبِيِّ.

**دیارلسمه فایده:**

په سورة یوسف کي د وَلَيَكُوْنًا مِّنَ الصّٰغِرِيْنَ کلمه ده. او په سورة اقرأ کي د لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ کلمه ده، که چیري پر لَيَكُوْنًا او لَنَسْفَعًا باندي وقف وکړي نو په الف سره یې وایاست یعني تنوین مه وایاست. (۱)

**څوارلسمه فایده:**

څلور لفظونه په قرآن کریم کي لیکلي خو په صاد سره دئ او پر دغه صاد باندي یو کوچنی سین هم لیکلی دئ، نو د دې قاعده زده کړئ:

یو په سورة البقرة کي د یَقْبِضُ وَيَبْصُۜطُ کلمه ده، دوهم ځای په سورة الاعراف کي د فِي الْخَلْقِ بَصْۜطَةً کلمه، په دغه دواړو ځایو کي سین وایاست.

دریيم په سورة الطور کي د اَمْ هُمُ الْمُصَۜيْطِرُوْنَ کلمه ده، په دې کي که مو خوښه وي سین یې وایاست او که مو خوښه وي صاد یې وایاست.

څلورم په سورة الغاشیة کي د بِمُصَيْطِرٍ کلمه ده په دې کي صاد وایاست.

---

(۱) وَاِنْ كَانَ خِلَافُ الْقِيَاسِ لِاَنَّهَا نُوْنٌ خَفِيْفَةٌ لٰكِنِ الْوَقْفُ يَكُوْنُ تَابِعًا لِلرَّسْمِ. یعني که څه هم دا خلاف القیاس دئ ځکه دا دواړه تنوینونه په اصل کي نون خفیفه دئ، خو وقف د رسم الخط تابع وي ځکه نو اصل ته نه کتل کیږي او د وقف په حالت کي الف ویل کیږي. منه رح

(c) ketabton.com: The Digital Library


**پنځلسمه فایده:**

په قرآن کریم کې څو ځایه لیکلی خو لا دئ او ویل کېږي لَ، د تلاوت کولو په وخت کې د دې ډېر خیال وساتئ.

❖ یو په سورة آل عمران کې د لَاْاِلَی اللهِ تُحْشَرُوْنَ کلمه ده.

❖ دوهم په سورة التوبة کې د وَلَاْاَوْضَعُوْا کلمه ده.

❖ دریيم په سورة النمل کې د اَوْلَاْاَذْبَحَنَّهٗ کلمه ده.

❖ څلورم په سورة وَالصّٰفّٰتِ کې د لَاْاِلَی الْجَحِیْمِ کلمه ده.

❖ پنځم په سورة الحشر کې د لَاْاَنْتُمْ اَشَدُّ کلمه ده.

همدا ډول د سورة آل عمران په پنځلسمه رکوع کې لیکلي دي اَفَاْئِنْ خو ویل کېږي اَفَئِنْ. او په څو ځایو کې لیکلي دي مَلَاْئِهٖ، خو مَلَئِهٖ ویل کېږي.

د سورة الکهف په څلورمه رکوع کې لیکلي دي لِشَاْئٍ او ویل کېږي لِشَيْئٍ او په ځینو ځایو کې لیکلي دي نَبَأْئِ او ویل کېږي نَبَئِ.

**یادونه:**

دا ذکر سوي اکثره هغه قاعدې دي چې په هغو کې هیڅ اختلاف نه سته. او په کومو کې چې اختلاف سته په هغو کې ما یوازي د امام حفص رحمه الله[1] قاعدې لیکلي دي، چې زموږ خلک د هغه د روایت موافق قرآن کریم وایي.

---

[1] ابوعمرو حفص بن سلیمان بن مغیره اسدي کوفي بزاز (په دوو زاوو سره) په سنه ۹۰ هـ ق کې پیدا سوی دئ او په ۱۸۰ هـ ق کې وفات سوی دئ. د امام حفص رحمه الله د پلار تر وفات وروسته د ده مور د امام عاصم رحمه الله سره نکاح وکړه. د دې سببه د ده پالنه او تربیه د امام عاصم رحمه الله د شفقت تر سیوري لاندې وسوه. (نشر، ص: ۱۵٦) ابن معین رحمه الله فرمایي: =

(c) ketabton.com: The Digital Library


امام حفص رحمه الله قرآن کریم د امام عاصم تابعي رحمه الله څخه حاصل کړی دئ، هغه د زِر بن حُبَیش اَسَدي او عبدالله بن حبیب سَلَمي (رحمهما الله) څخه حاصل کړی دئ، هغو دوو د حضرت عثمان، حضرت علي، حضرت زید بن

= چي حفص رحمه الله د امام عاصم رحمه الله په قرآئت کي "اَعْلَمُ النَّاسِ" وو یعني د امام عاصم رحمه الله اصح قرآئت هغه دئ کوم چي حفص رحمه الله یې روایت کړی دئ. علامه ذهبي رحمه الله فرمایي: چي په قرآئت کي حفص رحمه الله ثقه، ضابط او ثابت وو. د امام عاصم رحمه الله څخه یې څو ځلي قرآن کریم ولوستي د ده څخه ماسېوا د نورو متعددو شیوخو څخه یې هم اکتساب کړی وو. د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله سره د ټوکرانو په تجارت کي شریک وو. که څه هم قرآئتونه سبعه بلکي عشره متواتر دي او د قرآئت سبعه خلاف خو هیڅا هم یو لفظ ویلی نه دئ، بلکي د حرمینو او بصري قرآئت ډ خالص قرشي کېدو په وجه یو خاص امتیاز درلودي، خو دا قبولیت د الله جل جلاله ورکړه ده چي د پېړیو را په دې خوا په مدارسو او مکاتبو کي یوازي د امام حفص رحمه الله روایت ویل کېږي او د مځکي پر مخ په زرو حافظانو کي د نهه سوه نهه نیوي (۹۹۹) حافظانو د امام حفص رحمه الله روایت په یاد دئ. او داسي شاید هیڅوک نه وي چي د امام حفص رحمه الله روایت یې ویلی نه وي. ﴿ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ﴾ پر دې سربېره نحویان وایي چي دغه قرآئت مروج کول پکار نه وو ځکه چي نُحات د همزتینو د تحقیق په وجه د امام عاصم رحمه الله پر قرآئت باندي اعتراض کوي. (مقدمه شرح سبعه قرآئت. د قاري ابو محمد محی الاسلام پاني پتي، ص: ۳۸)

د امام حفص رحمه الله د قرآئت د ډېر مروج کېدو سبب په اصل کي خو د خدای جل جلاله ورکړی مقبولیت او شهرت دئ او ظاهري سبب دا دئ چي زموږ په ښارو کي اکثره خلک د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په مذهب دي او امام ابوحنیفه رحمه الله د حضرت حفص رحمه الله د سبق او تجارت ملګری وو، د دې سببه د امام ابوحنیفه رحمه الله مقلدینو هم د حضرت حفص رحمه الله روایت غوره کړي. بیا د آساني او هوسایۍ په خاطر او همدا ډول د فتنې او اختلاف څخه د خلاصون په خاطر د ټولو مذهبو مقلدینو د دې موافق اعراب او نقطې ورکړې او دا روایت یې غوره کړي. والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ثابت، حضرت عبدالله بن مسعود او حضرت أبی بن کعب رضی الله عنهم ثخه حاصل کړی دئ او دغه ټولو حضراتو (اصحابو) د جناب رسول مقبول ﷺ ثخه حاصل کړی دئ.

اللهم صل علی محمد و آل محمد

www.Taleemulislam-Radio.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خاتمه

د سپوږمۍ پوره روښنايي هم په څوارلسمه شپه وي او دلته هم د څوارلسمي روښنايي په ختمېدو سره ټوله مضمونونه پوره سول، نو ځکه دلته دا رساله پای ته رسوم.

الله تعالی دي دا رساله ګټوره او مقبوله وګرځوي.

د طالبانو او خاص د ماشومانو او په خاص ډول د قدوسيانو[1] څخه د الله جل جلاله د رضا د دعا غوښتونکی يم.

اشرف علي تهانوي عفی عنه

۵، صفر، ۱۳۳۴ هـ ق

شبير احمد غفرله الغفار

۲۸، جمادي الاول، ۱۴۳۲ هـ ق


---

[1] د قدوسيانو څخه مراد د حضرت شيخ عبدالقدوس ګنګوهي رحمه الله لمسيان دي. حضرت تهانوي رحمه الله هم د هغوی څخه دئ نو قدوسي حضرات د تهانوي رحمه الله د طريقت وروڼه دي د کوم څخه چي تهانوي رحمه الله د خپل ځان له پاره په خاص ډول دعا غوښتې ده. او يو بل مناسبت يې دا هم دئ چي دا رساله مصنف رحمه الله د قدوسيانو په غوښتنه تاليف کړې ده، د دې سببه پر هغوی باندي د دعا حق ډېر دئ چي دعا ورته وکړي. وَاللهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهُ اَتَمُّ!

"احقر" هم د ټولو لوستونکو څخه د دعا غوښتونکی دئ او الله جل جلاله دي دا رساله ټولو لوستونکو ته نافعه او ګټوره وګرځوي.

هذا ما کتبه احقر العباد شبير احمد غفرله الباري و لوالديه و لاساتذه، و لمن سعی فيه و لجميع المؤمنين و المؤمنات. والله الموفق و هو المستعان و عليه التکلان.

(c) ketabton.com: The Digital Library




جمال القرآن [کامل]

د تعلیم الاسلام راډیو ویب پاڼې له خوا:
www.Taleemulislam-Radio.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**